# افغانستان

## دسترا تیژیو بحران

محمد زمان «مزمل»

Ketabton.com

چاپ مطبعه سید جمال الدین افغانی نعمت محل پشاور

(SJAWO) *Printing Press* Tel: 091-44258

ACKU

Ketabton.com

# افغانستان

## دستراتیژیو بحران

ACKU

PROPERTY OF ARIC Established 1988

PROPERTY OF ACKU

محمد زمان «مزمل»

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00012040 1
Ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم : افغانستان او د ستراتيژيو بحران
ليکـــــوال : محمد زمان مزمل
کمپوز او چاپ : هوتک ليزر کمپيوتر گــــل حاجی پلازا
دوم منزل ۲۱۳ اطاق فون ۴۵۴۶۱
دچاپ‌شمير: (۱۰۰۰) تــوکــــه
دليکلو نيټه: ۱ / ۹ / ۱۳۷۸
دچاپ نيټـه : د افغانستان د استقلال ورځ ۲۸ / ۶ / ۱۳۷۹ هـ ش

ACKU
Ketabton.com



# اهداء

داسلامي نړۍ ستر مبارز او د افغانستان نامتو مصلح او د 19 پيړۍ نا کراره دعوتګر سيد جمال الدين افغان ته يې اهدا کوم.

Ketabton.com

# فهرست


سريزه ........ ۱

لومړي خبره ........ ۵

لومړي فصل : افغانستان ........ ۱۶

دويم فصل : امريکا او اروپايي ملګري يي ........ ٤٠

دريم فصل : روسيه اود شمال جمهوريتونه ........ ٦٧

ځلورم فصل: ايران ........ ١٠٣

پنځم فصل : سعودي او خليج ........ ١٢٤

شپږم فصل : پاکستان ........ ١٤٥

اووم فصل : هند او چين ........ ١٧٨

اتم فصل : ترکيه ........ ٢٠٠

وروستي خبره ........ ٢٠٨


ACKU

Ketabton.com

# د «ستراتیژیو بحران» پر اثرحـو کرسی

دغه اثر چې ستاسو په لاس کې دی د هیواد د پیاوړی ادیب او د ځانګړی قریحې خاوند سیاستپوه «مزمل صاحب» لیکنه ده،

نوموړی په دغه وړوکی رساله کې د افغانستان د بحران او د نژدې اولرې کاونډیو او اړوندو هیوادونو به بالیسیو او سیاستونو غړیدلی دي.

د ښاغلي مزمل صاحب د نورو لیکنو په څیر دغه رساله هم پر خپل ځاي ښکنیي اوخوبي لري.

د جرئت تر څنګ د مزمل صیب د لیکنې یوه ځانګړتیا داده چې کلیوالي درانه اصطلاحات او استعاري سیاست ته وړي چې له سیاسي تحلیل سره کلیوالي خواږه یو ځاي کړي او په یوه ځانګړي ادبي سبک پر مخ ځي که څه هم کله کله داسي احساس شي چې کاشکې دغه کار لږ کم تکرار شوي واي.

په دغه رساله کې زموږ د ځینو ګاونډیو او لږ لرې په قضیه کې د خپلو هیوادونو د سیاستونو په اړه تر ډیره حده آزادانه قضاوت شوی دی او په پوره صراحت هغه سیاستونه چې زموږ په ګران هیواد کې د لاسوهني په معنی دي په ګوته شوي او په هنرمندانه ډول غندل شوي دي.

د ښاغلي مزمل صاحب له دغه تحلیل سره ښايي څوک مخالف وي او څوک موافق وي خوله کومې زاویې چې پر دغو مسایلو بحث شوی دی کرښه کرښه یې د وطن او د وطن د بچیانو له وېاړونو سره د مینې او خلوص ګواه ده، پردې سربیره په همدغه تور تم او د نهیلیو په دوران کې محترم لیکوال د خپل قوم لپاره د امید لمن نه پریږدي. دي سباني افغانستان ګوري چې د نن د حوادثو په رڼا کې به بیا معامله کوي او په همدې خاطر دي

اوس دا یادونه کوي چې افغانان کراېه کېدای شي خو خرڅېدای نشي.

او له دغه اولس سره پام کوي چې د دوستۍ او دښمنۍ لپاره ځانګړی کلتور لري.

زه په پای کې محترم صاحب ته دعا کوم چې پر قلم يې برکت شه البته له دې هیلې سره چې کاشکې دې د جرګو، مرکو او شوراګانو له بهیره وزګار شوی وای او ټول وخت يې لیکنې او لوستلو ته وقف کړی وای.

په درنښت

محمد زبیر شفیقي

الفاروق بلډنګ د سهار ورځپاڼې دفتر

۲۰۰۰/۱/۱۹

ACKU

Ketabton.com

## سریزه

# افغانستان به چا ته ورسي ؟؟

په افغانستان کې کله چې د قربانۍ خبره مطرح وه دا حقیقت دي چې ډېرو . . . او د ډېرو نه ډېرو د قربانۍ اولوړېنې په دې موج کې خپل ډېر نازدانه بچیان، ملګري، باغ فصل، پټي، کلي او کور داسې قربان کړل چې هغه نن په ربښتیا بوه افساني ته نژدې خبره ده .

په دې مسابقه کې زوی له پلار، ورور له ورور، ترېور له تربور، کام له کام نژاد له نژاده سیاسي احزاب د خپلو سیالو احزابو سره داسې په مسابقه کې لوېدلي وو چې هغه د آزادۍ په مهال یکې کورنۍ ختمي، کلي بشپړ وران، یلکې د کوندو او یتیمانو بې مستقل کمپونه جوړ شول او سیاسي احزابو پکې دخپلو شهیدانو زندانیانو، معیوبینو او یتیمانو له حسابه سترې شول.

کله چې د افغانستان د جهاد خبره ملي شوه په سیمه ایزه او نړېواله سطحه د نړۍ ټول ملتونه په تېره بیا اسلامي ملتونه په همدغسې بوه مسابقه کې د افغانستان خلکو سره همکارۍ ته را نژدې شول او داسې دې قضېې د تاریخ د هغو قضایاو د کتار د سرځای ونیوه چې په بین المللي سطحه یې ملاتړ بې نظیره ده.

خو د دې سره سره کله چې د جهاد د برې مهال را نژدې شو او دورکړې خبره په اخستلو، د قرباني خبره په امتیاز او د جمعي خبره په تقسیم ودربدله نو د بوي خوا په افغانستان کې وګړي، کامونه، نژادونه، او احزاب ټول په داسې بوه بېرحمه مسابقه کې ولوېدل چې د عادي مجاهدینو سترګې په وزارتونو او د

Ketabton.com

رهبرانو ستر ګې بې د ملک دسر سړي په ځای اود احزابو او نژادونو توجه ئې د بشپړ حکومت په قبضـه ختبي وي او جنګ ځپلي هېواد دلهوني حرص موج داسې په هوا پورته کړ چې رهبران ئې د عادي مجاهدینو او عادي مجاهدین بې د رهبرانو نه لرې وغورځول .

همداسې چې ګاوندي هېوادونه ، دنړۍ مطرح هېوادونه او خپله اسلامي هېوادونـه زمونږ سره په دې جهاد اومقاومت کې شریک و هغوی هم د فتحې په ورځ دبوه دوست حکومت په ځای دخپلې همکارۍ په بها کې دمطبع ګوداګي حکومت په لټـه کې شـول او دغـو په جهـاد کې مـلاتړو هـېوادونو هر یوه ټول افغانسـتان براځي د ځان لپـاره وغوښت اوله دی پـه راکمه بې فکر کاوه چې د هغوی همکارۍ ته چاقیمت ورنکړ .

نن زمونږ نژدې اولرې دوست هېوادونه هر یو بې غواړي چې افغانسـتان د هغوی دهېواد امنیتي بادیګارد ، دهغوي د هېواد د امنیتي پولوامنیتي برج ، دهغوی دمحصلاتو لپـاره تضمین شوی بازار ، د هغوي د پاېرېکولپاره د چامو او ارزانه موادو تهـیه کوونکي هېواد او دنړي په سیاست کې د هغوی د پالیسی پسې جوخت ګوداګی هېواد اود سیمې په دښمنېو او سیالیو کې دهغو د پرې ملګری هېـواد او داسـې په لسـهـاو بې ځـاپه هیلې دي چې هغـوي د مـخکنې تضمین په هڅه ئې په افغانستان کې دکورنۍ جګړي شاته درولي دي

دا په ځاي ده چې ګاونډیانو او دنړي مطرح هېوادونو له مونږ سره په بوه ورځ کې دبرخه وکړه ولې دا هم باید هغوي ومني چې دافغـان بچي په ذمه اخستې جنګ هم بریتـه ورسباوه نړۍ ته خطر شـوروي اتحـاد بې تر هغـه هم زیات ګډوډ کړچې که هغوی ته خپله داسې موقع په لاس ورغلې وه .

نن همدغه د همکارېو بـها ده چې افغانسـتـان ئې بوې بې ثباته اوضاع او بوه تباکوونکي کورني جنګ ته ننوبستي دي.

مونږ چې لاخپله پخپل هېواد کې د بو افغاني ممثل حکومت د جوړولوفرصت

Ketabton.com

نه دی ترلاسه کړی زمونږ ملاتړ ګاوندي اولري مطرح هېوادونه هر يوېې غواړي دهغوي پلوي حکومت په افغانستان کې تضمین کړي.

ایران غواړي چې په کابل کې د ایران پلوي حکومت، امریکا غواړي چې هلته د امریکا یو پلوی نظام او پاکستان غواړي چې په افغانستان کې د پاکستان په خوله او مزاج ولاړ حکومت او سعودي عربستان غواړي چې هلته داسې حکومت راشي چې سعودي عربستان ته د جهاد د تېروورځو د همکارۍ بدل تر هر څه مخکې ورکړي.

په دي حساب روان جنګ څو بعده دي ځني افغانان په مذهبي او نژادي لحاظ هڅه کوي چې د دې هېواد سرنوشت د خپلو قربانیو په بیهاء کې د یوې ډلې بلکې د یوې ډلې د څو کسانو په لاس کې ولوېږي او همدې فکر د هېواد ناخبره اوسطحی ځلمیان د نورو د نوکرۍ په ولکه کې ورکړی. د بشپړې ازادۍ او اوافغانستان کې د ټولو افغاني ممثل حکومت مخنیوي کوي.

د بلې خوا همدې کچه ماحول کې ګاوندیان هم ګېني اخستي هریوېې هڅه کوي چې په افغانستان کې مطرح او حاکمه ډله باید هغه شي چې د دوی خوښه او یاد دوی په خوله عمل کوي. ترڅو د خپلې همکارۍ په بدل کې له یوې خوا ځانته سیاسي پیرو (ګوډاګي) حکومت ولري او د بلې خوا د افغانستان داخلي حالات داسې پخپل ګروت کې کړي چې هغه هېواد نور د پرونۍ روسېې په ځای د دوی د محصولاتو بازار او د دوي د خامو موادو تهیه کوونکی هېواد شي.

همدا وجه ده چې نن زیات افغانان فکر کوي چې نن مونږ د ګاوندیانو لپاره د جنګ خبره په مخ کې کړې ده یو ګاوندی مونږ د بل اویل ګاوندي مونږ د بل هېواد پر ضد جنګوي.

همداسې پروني ذي دخله هېوادونه غواړي چې هر یویې پخپلوار داهېواد د نورو د سیاست او کټو پرضد عیار کړي همدې ستراتېژیکو متضادو اهدافو افغانستان په دغه روانه جګړه کې تن استي دی او نن زمونږ ملتونه یوهېږي

Ketabton.com

چې د ټولو نه مخکې د چاشکرېه وکړي او د ټولو نه مخکې کوم هېواد ته اطمينان ورکړي چې افغانستان د هغوی د لومړي درجې دوست هېواد دی دا هم معلومه نه ده چې د دغو هېوادو جذبه به د دوست حکومت راتلل ورماته کړي اوکه په هغوی د دې اعتراف هم غواړي چې افغانستان د هغوی غلام او مطيع هېواد وي.

څومره چې په دې جنګ کې د افغاني جګړه مارو قباد تونو خامۍ او کم فهمي څرګنده ښکاري دهغه دومره برابره په دې جګړه کې د بهرونېو هېوادونو بې ځايه مداخلې او ناروا مسابقې له ورايه ښکاري چې په دې رابطه د شواهدو ورانديې کول د نړۍ د خلکو په عقل باندې ملنډې وهل دي او بس ولې ترکومه چې د دغو د مداخلو او مسابقو شاته پرتو بې ځايه او په ځاي تشويشونو او دهغو تداخل تضاد پورې مربوطه ده کېدای شي په هغه رابطه دغه وړاندې کېدونکې تحليل څه داسې نمونې وړاندې کړي چې د وطن بچيان په اوسوخت کې پکې د خپل سياسي ژوند لوری او د خپل هېواد خطرناکه باداد منه راتلونکې پکې وپېژني.

د همدې ځايه زمونږ خلک نړۍ (دوستان او دښمنان) په دې خاطر ډېر بوی چې:

- ☐ دلته وسله او د ذخيرې ډېپو ګانې دي
- ☐ دا ملت د جنګ تجربه او د فتحو غرور لری
- ☐ دی ملت سر د اسلام په لياره کې لاجذبه شته

ولې عجيبه دا ده چې نړۍ دي مقصد ته د رسيدو لپاره بيا هم

دا ملت په ډير هنر مندانه ډول استخدام کړ

Ketabton.com

# لومړی خبره
# فقط افغـان ته

د کتـاب مضـامین او مطالب کـېدای شي د ډېرو لپـاره بېو دول مبالغې یاوهمي خطرونه او خیالي تصوېرونه ښکاره شي.

کـیدای شي ځنې فکر وکړي چې د هغـوی ملت او هیـواد دومره د مـخـاطرو په مـحـاصـره کـې هم نه دی لکه څـومـره چې د کـتـاب مقالو هغه د تویان په څېو کې پور ته شوی تصوېر کړی دی.

کیدایي شي ځنې نوربیاداسي فکر وکړي چې همدغه د ماحول ناکـاره مـوجـونه د دې هیـواد لپـاره وروسـتـی د مـه ځـای ټـاکـی اوداسې دا د آزاد افـغـانسـتـان په لیارد کې د ماحول طبیعي ناکـامه شتلونه وګڼي.

ځنـی نور کـیـدای شي فـکر وکـړي چې د لوی جنګ نه د مخ په سرېدو افغانستان حواد ثو د لیکونکي په فکراو قلم د غسې اغېزه کړې وې چې هغـه د افـغـانسـتـان په باب د مـاحـول سـرد د راکـړي

Ketabton.com

ورکړي دغه په اخ او ډب ولاړ تصوېرورانديځ کړي .

کېداي شي د هرچا نظرتر يوه حده په ځای وي کېدای شي دځينو زيات او دځينو کم سمهي وي ولې وخت به خپله وښيي چې دجهاد د لويې حادثې وتلي افغانستان ته حسودی نړی او سېمه ييز ماحول څومره کوهي کنښتي ووا و وخت بـه دا هم وښيې چې کيدای شي د افغانستان په ځای خپله همدغه جهتونه په همدې خپلو کنستو کوهېانو کی ولوېږي ولې هغه څه چې په دی باب زه غواړم ووايم هغه زما وروستی خبره هغه افغان ته دد چې لا تر اوسه يې دنورو په مرسته کې ځان اوتشخص نه دی باايللې.

زه دغه دوست ته وايم په داسې حال کې چې لوستي مطالب تريوه حده ستا دقناعت وړ گرځېدلي وی او ته هم ځان دد غسې په متضادو دوستانو کې دراگيرهيواد تبعه بولې اودخپل هېواد مصلحت د رته دخپل شخصي اوتنظيمي مصلحت نه اوچت وي نو زه په خصوصي توگه ستا په شان د هر ژوندي افغان توجه لاندی دوو مطالبو ته راگرځوم :

١ – که هرڅومره د لوی قوم پورې مربوط وې ، که هرڅومره دخپل لوی قوم مؤثر شخصيت وې ، که هرڅومرد دمال اوروابطو له مخې پورد پراخ ماحول ولرې که هرڅومرد دلوی تنظيم لوی سړی

Ketabton.com

وې خو چې کله هم ستاخبرې د بل افغان سره او ستا معامله د بل افغان سره بلکي ستا سلسله روابط د بل افغان سره وي خاصتاً په سياسي ماحول کی دا مه هيروه چي هغه هم ستا په شان يو افغان دی هغه له خپل ځانه کم مه ګڼه او ان که هغه له هر د اړخه ستا په نسبت کم هم وي بيا هم د هغه د عزت د هغه د غرور خيال ساته چې په دی ترتيب دا ملت د بد فهمېو ،عقدو او پخپل منځ کې د شکېدلی حالت نه وايستل شي.

څومرد چې مونږ د خپل ورور ،د تره زوی ، ګاونډي ، رقيب قوم ، رقيب تنظيم ،خپل هم صنفي ، خپل سيال او شريک سره په جګړه اخته يو همدا کافي دد چي هغه زمونږ شته قوت اوژوندی جذبه مصروفه او ضايع کړي د همدې ځايه دا ټول ملت په داسي رقابتونو ،ضدونو او دښمنيو اخته دی چي هغه يکی د ځان د جوړولو فرصت نه لري .

په داسي حال کي چې مونږ په کوم ماحول کې ژوند کوو هغه زمونږ داوسني حالت سل برابر د پوداو متحد ملت غواړي مونږ به په دی موجود د روحيه او موجود د خپل منځی روابطو کوم دښمن لومړي و هواو د کوم خطر مخته به مخکې د رېږو ؟

داخلي رقابتونه زيات د هو بل د کم ګڼلو نه را پيدا کېږي

Ketabton.com

او همدا رقابتونه دي چې مونږ په ناپوهۍ د پردیو د بندګۍ او غلامۍ تر سرحده زغلوي.

په سېمه او نړیوال پېچلي ماحول کې پتمن ځای پیدا کول او په دې کړلیچو کې د عزت منزل ته رسېدل د شعار او خبرو خبره نه ده که په خبرو او شعارونو څه ممکن وای مونږ به نن د خپلو مشکلاتو د حل په رابطه د سل ورکو ګاونډیانو دروازې نه ټکولې ولې تجربې وښودل چې هو متحد ملت د هر مشکل لپاره د ځان سره حل پیدا کولای شي او متحد ملت د ملت د مطرح غړیو د تواضع او کمینې پورې تړلې خبره ده.

که پرون ترد کې د کودتا په مهال د خپل ملت د وګړیو د عزت خیال ساتلای وای اصلاً دا چې پېښې شول نه پیښېدل.

که پرون د نجیب د سقوط په مهال څو محدودو کسانو پخپل منځکې متواضع تفاهم درلودلای اصلاً به همدغه روانه فاجعه منځته نه وه راغلې او که رښتیا مې پوښتې که پرون زد او ته ( دا غریب او بیچاره افراد ) پخپلو کې په خبره پوه او یو د بل پر ضد د سیالیو او عقدو خبرو په مخ نه وای اخستې اصلا به د غو جګړه ماروډلو د جنګ سرې د کوم ملک نه او تر کومه په کرایه راوستل ؟

که رښتیا مې پوښتې په ملت کې د ملي وحدت جذبه او روحیه

Ketabton.com

کمزورې د هرڅوک کېدای شي د هر چا پر ضد د هر چا له خوا استخدام شي د همدې ځایه په دې بې سرحده هیواد کې په غلامېو مسابقه ده په داسې حال کې چې افراد خپل ضدونه او رقابتونه ترسره کوي، دې ته د هېچا خیال نشته چې د غه ضد او دښمني خوهغوي د خپل هېواد د مصلحت په پولو وروارول د همدې ځایه هرڅوک چې په افغانستان کې اوسیږي هغوي ته په کار د د چې د خپل هیواد وګړي ان که د د سره مخالفت هم ولري عزیز او هغه د بل پردي هېواد د خلکو نه مخکې او محترم وګڼي، د همدې ځایه زمونږ روان کړاو د همدغسې اوضاع زېږنده د ه.

مونږ د خپل هیواد د پولونه د بهر کسانو سره هم د خبرو او هم د تفاهم بلکې د تنازل او غلامۍ استعداد هم په ځان کې پیدا کړ ولې د خپل ملت، د خپل مخالف سره د جوړې او تفاهم لاره مونږ پخپله په ځان بنده کړې د ه.

د بارکزو مقتدر مشر جمال خان د کندهار د « شېرسرخ » په جرګه کې همدغسې یو حالت درلود. هغه لیدل چې د یو د قوي او متحد افغانستان خبره د هغه د کور په خوله کې د جمال خان تواضع او تنازل ته ډېر ولاړه د ه د همدې ځایه هغه د خپل هیواد د جوړېدو په خاطر هغه احمد ته تېرشو چې په قبائلي تله کې یې د هغه په

Ketabton.com

ځلورمه هم ثقل نه درلود ولې هغه د جمال خان نه د جمال شاه د جوړېدو پر هوس د یو متحد او مستقل افغانستان ارمان مخکې کړ او هغه وچې د تنازل له مخې یې د هغه ځوان احمد خان نه هغه احمد شاه جوړ کړ چې د هغه د سلو تدبېرو مخکې مخکې د جمال خان تنازل د افغانستان د جوړېدو د ب ولاړي او به رواني کړي.

د یو هېواد مستقل ساتل او د یو ملت متحد ساتل په همدغسې تواضع پورې تړلي کار دی چې باید هر افغان همدغسې روحیه او فکر له ځانه سره ولري.

که موږ پخپل سلوک او تصورکې ژور بدلون رانه ولو نو یقیناً د کتابونو لوست او د علم زده کړه به د همغه شکېدلي حالت د همغه تېرو تضادونو د تندولو د عملیې ادامه نور هم تونده کړي

احمد شاه ابدالي د دې هېواد هغه تر ټولو مقتدر انسان د هېواد د مشر په حېث په عادي نېمځي کښېناست او عادتاً په تخت نه کښېناست او تاج یې پر سر نه ایښود.

مېرویس د دې خاورې هغه تر ټولو لویه تاریخي هستي په ځان باندې د پاچا نوم کېښنښود بلکې د مېرویس نیکه او احمد شابابا د دواړو معامله له خلکو سره په هغه حد کې وه چې د خپل وخت

Ketabton.com

خلکو هغوي ته د محبت له مخې بابا وېلي او دا هغه طبيعي مقام دی چې د نورو هيوادونو روحـــاني شخصيتونه يې په ارمان کې مړه شول.

دويمه خبره چې په دې اړه ډېره ضروري ښکاري هغه داده چې ددې هيـواد وګـړي په دی شـرايطو کې دومـره خـوار د شـول چې ګاونډي اوليرې ليرې بېګانه هيوادونه يې په مهاجرو ډ ک شول د همدې ځايه ددې هيواد ملي تشخص او تاريخي حيثيت او په جهاد کې ګټلې موقعيت هم د همدې خوروورو افغانانو د عمل ،کردار او معاملې له مخې د بدنامۍ په مخاطره کې لبدل کېږي.

څه دا عمل او کردار د همدې ګډوډې په دوران کې دداسې چا له خوا اجرا کېږي چې تصادفاتو د سفارت او تمثيل په موقعيت کې غورځولي دی او باهم د هغه عادي کارګر افغان په عمل کې وي چې په هيـواد کې د پردېو مداخلو توپاني حالت د هغه نه د ليرې دنيا مسافر جوړ کړی دی.

څومره چې مخکنېو افغانو ته د تواضع خبره مطرح او مهمه وه ، غه د بل وطن هستوګن افغان ته د غرور او د تمثيل په حدکې د ېو عزيز افغـان نخوت مطرح دي داسي نه چي د دنيوي متـاع او يا بدلبدونکي مقام او دولت په خاطر په پټ ځټ او لوېدلي نظر هغه

تعامل ته زړه نيه کړي چې د مقابل لوري په زړه کې د هر بل افغان ځاي او تصور بدرنگ کړي.

وايي چې کله روسي جنرال د اميرشيرعلي خان سره په شمال کې وکتل او رخصت شو په ليارډ کې بود افغان هغه درود داوبونه په شا پوري ايست او روسي جنرال هغه ته بوموتي پېسي وړاندې کړې هغه ورته وويل :

« مونږ د ومرد ذليل نه يو چې خپله د غسې همکاري په نورو خرڅه کړو »

کله چې روسي جنرال ته دا خبرد ترجمه شوه هغه وويل :

« ترهغې چې په دې خلکو کې د غه جذبه وي دا ملت به د چا غلام نه شي ».

همداسې وايي کله چې وزیراکبرخان د مکناټن سره د موافقه شوي ملاقات لپاره ورغی نو موافقه شوی وه چې هېڅوک به وسله د خان سره نه راوړي .

وايي چې وزیراکبرخان هغه وازمايه او ورته یې وویل :

که څه پېښ شي تا څه تدبير نيولي ؟

مکناټن لاس کړ او خپله تمانچه یې راوايستله هغه وه چې هغه بل ملگري د مکناټن له لاسه تمانچه واخستله او ورته وېې ویل :

ته له مونږ سرد تر هغو برمته يې چې ستاسي قواوي له کابل نه ووځي.

ولې مکناټن مقاومت وکړ او خپل مقاومت هغه ته بلا شو او داسې کابل ته راغلي انګليسي بلا له کابل نه په مرګ کډه شوه.

زه هغه افغان ته چې په نورو هيوادو کې مزدوري کوي او هسي عادي افغانان دي هغوي ته د امير شير علي د ملاقات نه د رخصت شوي جنرال سرد په معامله کې د کښيوتلي عادي افغان غرور په مخکې ږدم او وايم چې داد روسانو د ماتي نه راوتلي فاتح ملت د هيڅ متاع په خاطر چا ته خوار مه ښيي خير که د سياست خامو لو بغاړو هغه ډير کم هم وښود

همداسې هغه افغانان چې په يوډول او بل ډول د تمثيل په موقع کې دي هغوي ته وايم چې دا فرصت به هميشه نه وي، ولې عزت او ذلت بې د انسان پورې تړلي سيوري دي د همدي ځايه هغوي بايد د مکناټن جابر جنرال په وړاندې د فاتح وزير اکبرخان زړه او شعور راخپل کړي داسې نه چې په دې تمثيل کې د چا جلال او هيبت ته سترګې تيټې کړي او يا د چا وعدو او تهديد ته ګونډه ولګوي.

هغه افغان چې د يرډو سرد بې په هر لحاظ کارو بار دی او هغه

چې دخپل هیـواد په خاطر د نورو سرد خبرد شریکوي باید له یاد د ونه باسي چې هغه دداسې یو ملت د نماینده په عنوان غـږیږي چې روسي کـمونیزم زور ته یې ملبون ککری ورکړي ولې یوسرهم د هغوي په وړاندي راتیت نه شو داسې بل هر هیواد چې وي چې هلته افغان دتمثیل په حدکې نه وي باید دداسې مواقـعو نه ځان لري وساتي د تاریخ دکامري فوکسونه نه دریږي ځوک تري پټ نه شي پاتې کیداي .

هغه ځـیرې او هغه خولي چې دخپل هیواد دقـدرت په خاطر سـیاسي مـعـاملي تـه تـن ورکـوي او په دې دول پخـپله غـاړه کـې دغلامۍ غړوندي غورځوي هغوی باید پوه شي چې د همدغـسې وندني دشکولو په خاطر دهغـه په شان زرهاو باهـمتـو خـپل سراو ژوند قربان کړ ولې کله چې خبرد دد ته ورسیـدد هغه دخپل هیـواد آزادی حیثیت اووقار په پردو ارزانه او ډیر ارزانه خرڅ کړ ، دهغه سرد به حساب هم خدای داسې آسانه نه کوي لکه خپل وطن او ملت یې چې ارزانه معاملې ته وسپارد .

داسې دمعـاملې په درشل کې مطرح افغـانان بـاید د مکناتین د هغـو لیکونو سلسله چي دوخت مـبـارزینو ته یې دخـپـل هـیواد دچوکیو او قدرت وعدې پکې ورکړې وې راپه زړد کړي واقعاً چې

Ketabton.com

د ملت مجاهد پلرونه څومره د معاملې د حدنه اوچت و د همدې ځایه د مکناتن خطرناک ملاقات چې مکناتن ته د ورتلونکېود مرګ په ځاي د هغه حتمي مرګ ئې نتيجه شود بلکې مکناتن ته د وريبښې حادثې څو ثانيې مخکې دا احساس هم قوي مطرح و چې که په دې رابطه د مکناتن اقدام رومبی شي هلته به دی ملاقات زمونږ د هيواد د غه سرتيري تول د مرګ په خوله کې دروليو، ولي دا هلته يقيني شود چې د هيواد د ساتلو هوډ او عزم د ازمېښت په همدغسي تنګو او مرګونېو لارو ورغی چي ورغی.

د همدې ځايه چې افغانستان د يو ډيرنازک حالت نه په تيريدوکې دی افغانان د خپل نژدې او ليرې ماحول او هلته د خطراتو د درک له مخې خپله لار په سوچ انتخاب کړي دلته د تيرېو په دې بحراني فضاء کې هر د چارد بېچاره ښکاري يواځې دا چاره شته چې افغان بايد د خپل مخالف افغان په مقابل کې خپله تواضع او محبت او د پردو په مقابل کې خپل غرور او عزت النفس له لاسه ورنکړي کېدای شي د همدې سياسې زغرې له برکته د خطرتول مطرح ګوذارونه دفع شي.

## لومړی فصل

# افغانستـــان

### افغانستان پخپل رول کی :

د محمود غزنوي په رابطه جوړه شوې روايتي افسانه وائي چې محمود يوه ورځ د شپې پخپله په ګزمه ووت د شپې د غلو په يو ګروپ ور برابر شو او د ابتدائي پوښتنې وروسته محمود ورېل :

بې روزګاري را اخستي يم چې کـه چيرې واره برابره شي.د يو لړ عاجلو تدابيرو په لړ کې ټول په يوه کلا ور روان شول په لاره کې يوه غله وويل:

هرڅوک بايد خپل کمال ووائي

يوه وويل :

زه چې د شپې په تپه تيارو کې يو ځل څوک ووينم بيا نه رانه خطا کيږي .

هغه بل وويل :

چې د کلي سپي غاپي زه پوهيږم څه وائي .

محمود غزنوی وویل :

زه د هر خطر او مشکل په مهال چې ډیره وېرووم خدای هغه خطر او مشکل اسانوي .

کلا ته په نږدې کېدو سپي له لرې درنده درنده غپا پیل کړه .

محمود ووېل سپي څه وائي ؟

هغه ملګري غله وویل :

سپي وائی چې د غلو سره پادشاه هم ملګری دی .

کله چې د غلا د غه عملیات سرته ورسیدل او مال او اخستی دولت تقسیم شو هر څوک پخپله مخه ولاړل محمود غزنوي یو ګروپ عسکر د غلو کورونو ته واستوه او هغوی ئی بندیان غزني ته انتقال کړل .

سبا له تحقیق وروسته د غه غله کله چې د درول شوي دار خواته روان شول نو هغه بوډ غله بل ته ووېل چې د غه بره ناست اشنا هماغه د شپې ملګری دی او وریسې جوخت یې په زغرده ناره کړه .

اشنا ګیره ښوروه چې خبره ډیره خطرناکه ده د مرګ او اعدام ویره ده .

محمود غزنوي چې مخکې له مخکې د دار او کړی مو ظفین

Ketabton.com

پوه کړي و نو خپله سلطاني بېرته ئې وښوروله او د دار په خوا روان غله د ځړولو نه بچ او د سلطان په خوا يې روان کړل او ټول د شپې د عملياتو په راز پوه شول او غلو په ژوند نورد داسې سپکې حرفې (غـلا) نه له بنيـاد د توبه وکـښله او د هنرونو (کـمـالونـو) په دې ازميښت کې محمود هم خپل کمال د دار په خوا د روان شوېو غلو انديوالانو د خطر په موقع وښود او د سلطان د دې تربېوي گزمې له برکته دوه باغي غله د آرام رعيت په کتار ورد ننه شول.

داسې افغانستـان په نېږدې او لرې گاونډ کې د خطرو په مهال چې هر څوک د ځان په وير اخته وي هغوي ته د محمود دا فسانوي گيرې ښورولو نجات ښوونکي هنر ښکاروي.

انگلســتـان او د هغــه اسـتــعــمـاري پوځ په ۱۷٦۵ کـال د هندوستان د اشغال لپاره د تجارت په پلمه هندوستان ته داخل شو. چې همدغه په کرار کرار قوي شوی پوځ په ۱۸۳۸ کال د کوېټې له لارې کندهار ته ننووت ولې د افغـان زړه تـنگي مـجـاهد ملت له هغه سره تر ۱۹۱۹ پورې درې ځله په سختو جگړو اخته شو چې د انگلېس استعمار هغه د ۱۹ پېړۍ تر ټولو سختې جگړې بللې او بالاخـره د غـه کـمکي ځـواک وکـولای شـول چې خـپل هيـواد د انگليس د استعمار په دام کې د ټولو لويدلو هيوادو په سر کې

Ketabton.com

آزاد کړي.

په داسې حال کې چې د غه لوی هندوستان د ۱۷۷۵ کال نه تر ۱۹٤۷ کال پورې د انګلیس د نا بللي حضور او موجودیت آرام کوربه و.

د آسیا دغه سیمه د یوې خوا د جنوب او شمال او د بلې خوا منځني ختیځ او لرې ختیځ په منځکې د یوې څلور لارې حیثیت لري اشغالګران، فاتحان او استعماري لوی قدرتونه په آسیا باندې د تسلط په خاطر باید هم ددې سیمې حساب له ځانه سره ولري.

ولې دا سیمه د ځان او آسیا د ثبات لپاره د ځان سره بیل حساب لري.

په معاصر تاریخ کې د انګلیسي او روسي استعمارګرانو د غبرګې ماتې معماړوازی د دې ملت ځانګړی موجودیت او په هغه پورې مقدر رول پرانستی شي.

زه باور لرم چې که د شاه اشرف هوتکي مخه د هغه تر شا خپل کورنی اختلاف نه وای پرې کړې د روسې پر ضد د شاه اشرف هغه نظامي ترتیبات چې د ترکانو د ماتې پسې جوړ شوې په مخکې لړل د روسانو د پرمختګ مخه په وخت نیوله او هیڅ ممکنه نه وه

Ketabton.com

چې روسي تزارانو سر د ایران د «گلستان» او «ترکمانچې» تړونونو ته فاتح ایستلی وای.

افغانستان په دغه اجتماعي ترکیب، په دغه موجوده شېل کلچر او په دغه راغلي سیاسي تشکل او تسلسل د سیمې د امنیت او سیاسي ثبات لپاره مفید او مؤثر رول اداکړي او کیدای شي د سیمې زیات سیاسي او اجتماعي تحولات د همدغسې یو ملت او یو هیواد د روان تسلسل له مخې خوندي وساتل شي.

کله هم چې دافغانستان خلک په داخل کې مصروف شوي او یا مصروف ساتل شوي د هغه منفي اثرانو په سیمه باندې منفي اثر پرې ایښی دی.

د تیمور د بې هدفه سردارانو بې ځایه اخ و ډب لرې هندوستان او خپله د افغانستان هیواد د برېتانیې د تاج دلښکرو د تجاوز تر پولو ورساوه که په هغه وخت کې د سردارانو لیوني اختلاف نه وای کیدای شول چې د هند لویه وچه د انگلیسي استعمار لپاره د هغه پرمختگ زمینه نه وه برابره کړې چې بالاخره په آسیا کې یې د همدغسې قوي موجودیت له مخې د عثماني خلافت اقتدار ور نسکور کړ او ترڅو پورې یې ایران او افغانستان د یو متحد کردار نه لرې وساتل.

Ketabton.com

د افغانستان طبیعت او خلک د متجاوزو قدرتونو د مخنیوي او په سیمه کې د خطر په مهال د یو سیاسي او اجتماعي ثبات لپاره د تجربه شوی مرکزیت دی.

د هند په نیمه وچه کې د شلمې پیړۍ په سر کې هغه ټول سیاسي او نظامي عملیات چې د انګلیسي استعمار پر ضد روان شوي د هغه ټولو مطمئنه قرارګاه او د هغو الهام ښوونکی مرکز افغانستان و. دا په داسي حال کې چې داملت یو فقیر ملت دی.

د همدې زیږ تاټوبي په پناه کې هندي مهاجرینو انګلیس ته د وریښمینو دسمالونو په جوړ حکومت هغه سرخوږی پیدا کړ چې بالاخره انګلیسانو ته د هند د وچې ساتل د کمکي انګلستان خواته د روانیدلو په نسبت ځپل رجحانات له لاسه ورکړل.

دغسې یو ملت چې په بده ورځ کې غوړې لتې تر سر تړلې شي او په نیمه وږي نس د پردي د دسترخوان نه ، او په وچه مړۍ باندې دقرني او پودین نه په آسانۍ بې نیازه کیدای شي هغه به ضرور د سیمې د عزت او ثبات ساتونکي طاقت وي.

د همدې ځایه په افغانستان کې زیاتې لاسوهنې بې ځایه او بې ځایه تشویشونه ځپله د هغه طبیعي او په کار افغانستان طبیعي جوړښت ته صدمه رسوي.

پر افغانستان باندي هر ډول هڅه په دې خاطر چې هغه څوک د خپل حد نه زيات دوست کړي هم منفي اثر لري ځکه د غسې هڅې هغه د احسان غړوندي بلکې غلامي ګڼي او همداسې افغانستان زيات دښمن کول هم نه دي په کار ځکه د دغه قوم جوړښت داسې راغلی چې څوک ځان ورسره مصروف کړي هغه د بې ځایه مصروفيت پيدا کولو پيغور او دښمني پوډول قومي فرض نه پوره کوي .

ولې هغه څوک چې دا ملت پخپل حال پرېږدي او هغه ونه چيړي نو د چالپارد ځکه سرخوږی نه پيدا کوي چې هغه خپله ځانته کار نه غواړي ځکه د کارد پيدا کيدو په صورت کښې هغه په مشکل کې لوېږي نه مخالفين بې ځکه دا ملت له پيغور نه وېريدونکی ملت دی.

**افغانستان يو آرام ګاونډي :**

څومره چې د افغانستان خلک پخپل منځکې اختلاف په مهال حساس او نه پخلا کيدونکي ښکاري په عادي حالاتو کې هغوی آرام او د ګاوندیانو سره د پخپله معامله کې عزيز او قدرشناس خلک دي.

په هغه مهال چې د هند په وچه کې انګليسانو د سياسي

Ketabton.com

کـامـیـابۍ لوی چانس باېللی دی، زمـونږ د خلکو روابط د تېرلو ګاونډیانو سره هغه خوا را خپله کړي چې د نویو حوادثو او نویو مسائلو د پیدا کیدو ضرورت پکې کمزوری شوی دی.

افغـانسـتـان کې دا خلي بې ثباتیو پـخپـل وار کله کله د افغـان ملت نه هغه ښه فرصتونه غلا کړي چې د ثبات په مهال کیدای شوای هغه د خپلو ګاونډیانو په درد خوږل شوی وای.

د ۱۹ پیړۍ د دویمې نیمایي نه را په دې خوا چې د افغانستان خلک د پرنګی استعمار سره د برمیال ټکر په اوج کې د تنګو او کله هم د ښو شرائطو نه برخمن شوی په دی تېرله لاندی باندی او ضاع کې زمونږ روابط د شمال او غرب ګاونډیانو سره د دوستۍ او اسلامی ورورۍ په حد کې و.

هغه مهال چې امیر امان الله د انګلیسانو پر ضد د دښمنی په اوج کې د روسي کمونستي نظام سره جبري دوستي ومنله او په نتیجه کې ئي هغه د بخارا د مسلمانانو سره د برالا همکاري نه د لاس اخـسـتـو تعـهـد وکـړ بیـا هم دغـه د روسي په ظاهر دوست امیر خپلو افغانانو ته پټه دا توصیه کوله چې د شمـال مسلمان ورونه په دې ازمښت کې یواځې پرینږدی او د همدی ځایه هغه خپله هم د مسلمانو ملتونو سره د خپلي دوستۍ مطابق د همکارۍ

Ketabton.com

هغه تاړوساته چې بیا وروسته نادر خان پر هغه باندې د امان الله د بد نامۍ په خاطر پړ د اچوله.

که څه هم د پاکستان د آزادۍ وروسته افغانستان پخپل شمال کې د یوه متعرض کمونستي قدرت د ګاونډ خطر و په مخ واخست او د وخت زړه شوېدلي نظام روسانو ته د یو سیاسي امتیاز په بدل کې خپل روابط له پاکستان سره په مناسب حد کې تنظیم نه کړای شول ولې د دې سره سره د هند سره د پاکستان په دوو پېښو شوېو جګړو کې د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه د هند او روسیې د توقع خلاف خپله بې طرفي وساتله او دا یې د افغانستان د مسلمان ملت د غرور نه لرې وګڼله چې د یو مسلمان ملت پر ضد د یو کفري هیواد تر څنګ جګړې ته ننوځي بلکې د وخت پاکستاني صدر ته یې پوره ډاډ هم ورکړی او کیدای شي همدغه سي د ربیغ په ظاهرشاه باندې د راغلي کودتا وخت رالنډ کړی وي.

کله چې به عربي نړۍ کې د روسانو نظامي کودتا و موج راخست د افغانستان د وخت پاچا او صدراعظم محمد داود خان د دا د یوه قوي موقعیت د پیداکولو په خاطر د پاکستان د هغه وخت سفیر اسلم خټک ته د دې پیغام ورکړ چې به موجوده شرایطو کې د قوي هند او قوي روسیې د کلکې مقابلې لپاره د باید

Ketabton.com

افغانستان او پاکستان په خپلو کې اتحاد او دا اتحاد د یو متحد دولت حد ته ورسوي.

اسلم خټک دغه پیغام د وخت جمهور رئیس سکندر میرزا ته ورساوه ولې هغه په ځواب کې وویل.

چې په دې طرحه کې ظاهرشاه سلطنت له لاسه ورکوي آیا هغه دې ته چمتو دی؟ د اسلم خټک صاحب د خولې وایې چې ظاهر خان په هغه ورځ په دې رابطه تود داډ ورکړ چې هغه د داسې یو احد دولت د جوړیدو په خاطر چې د روسې او هند د واړو د مقابلې توان ولري هرې قربانۍ ته تیار دی ولې د ظاهرشاه تللي ځواب د هغه وخت مقامات په دوسیه کې حفظ کړ.

داسې دغه جریان د دې هیواد د خلکو د لرې لید او په سیمه کې د موثر کردار لپاره د هغوې د هرې قربانۍ لپاره د چمتووالی لویه بیلګه ده او داسې دا ملت که ضرورت شي د هر ګاونډي سره ځان اتحاد ته هم پورته کولی شي.

زمونږ خلکو په قبائلي دود دا په میراث وړی چې د خپلو ګاونډیانو سره د کبر او تیکر په ځای د دوستۍ لیار ونیسي د همدې ځایه ځو مرد چې دغه ملت د لویو قدرتونو سره د جانانه تیکر لوی همت لري همداسې هغه د خپلو ګاونډیانو سره د سیالي تراضع او

وروري خبره په مخ کې اخلي.

له همدې ځایه افغان ملت چې د عقیدې خبره په منځ کې نه وي په جګړه کې دومره ژر نه تودیږي.

دا بیله خبره ده چې د زعامت په اخ و ډب کې دا ملت پخپلو کې هم د جنګ خبره خطرناکه پر مخ اخلي ولې د ګاونډیانو سره د جنګ خبرې ته دغه ملت په آسانۍ نه ننوځي ځکه چې هغه غواړي په سېمه کې په یو دغسې غرور ژوند وکړي چې د سېمې ثبات او ساتنه د ځان طبیعي دنده ګڼي.

## ګوداګی افغانستان:

د روسانو تر نظامي ماتې وروسته افغانان په دې لټه کې شول چې خپل روابط د ټول بین المللي او سېمه ییز ماحول سره د خپل هېواد د آبادۍ . او د خپل ستر ملت د آرام په خاطر د وروري او دوستۍ تر پولې ورسوي دهمدې ځایه د مجاهدینو مشرانو خپلو مخالفو کمونستانو ته د عفوې اعلان وکړ او له روسیې سره یې د ښو اړیکو او نوې سیاست او نویو روابطو په خاطر ځینو مشرانو ته سرنه او ځینو نورو مسکو ته سفرونه وکړل.

څنګه چې د نجیب د سقوط وروسته د بل نظام او بل بر میال افغانستان خبره مطرح شوه ګاونډیان او په پرونۍ جنګ کې

Ketabton.com

تقسیم شوي هیوادونه تول په دې هڅه کې شول چې د راتلونکي نظام په تشکیل کې خپله دوستي او د خپلو پلویانو ځای په ځاي کول تضمین کړي د همدې ځایه د فتحې په درشل کې ولاړ کابل د یوې خوا د زعامت داخلي اخ و ډب ځپو او د بلې خوا په بین المللي او سیمه ییز لحاظ د مسابقه کوونکیو هیوادونو د توجه او یا مداخلو په سر واخست .

د زعامت د هوسي او بې تجربې سیاسي مانورچیانو لویه غلطي داوه چې د خپل زعامت لپاره یې د سیمه ییزې حمایې په اسره یې له ځینو هیوادو سره د پټې دوستۍ تړون امضا کړ چې همدغه پټ تړون دی چې د یوې خوائې د زعامت په جنګ کې ښکیلې خواوې د پردو په ګروت کې ورکړې او د بلې خوا یې افغانستان د متضادو هیوادو په هو کرغیړن اخ وډب کې وغورځاوه .

دلته هر طرف د دې هڅه کوي چې د خپلې پلوي ډلې د اقتدار په خاطر څه ورکړي څه واخلي او همدا ورکړه راکړه په بل رنګ کې د هو بل افغاني سیاسي جهت لپاره تهدید او د دښمني هڅه تلقي کیداي شي.

مونږ په داسې حال کې چې خپله د زعامت د تاکنې په جګړه

مصروف یو کله کولای شو د خپلو دوستانو او مخالفینو سره د هیواد په نمایندګۍ یو مناسب تفاهم وکړو په دغسې یوې پیچلې اوضاع کې به په کومه ژبه د خپلو مخالفو او موافقو جهتونو سره وغږیږو.

زمونږ د هېواد مطرح شخصیتونو چې د جبهې د شا قوماندانې بې لېدلې وه ولې د سیاست او په بوه انقلاب کې د کېوتې هېواد نجات مشکلات یې بې وخته ختم لېدل هغوې د بود ډېر ابتدایې واک په کرښه د زورورو ییرې پیل کړې هرطرف ځان بو غښتلې جهت وګانه او د سازش له لیارې یې د خپل رقیب پرماته د ومړه حساب وکړ چې د خپل ګاونډ پاتې لویې او لویغارې ورته د هیڅ په حساب ښکارېدل د همدې ځایه هغوې په نیم عقل د بومـلاتړ ګاوندې د پیدا کولو په عجله کې ځان په بود سیاسي خامه دوستۍ کې ننویست او بالمقابل همداسې کټ مټ د بو هېوادد ګوډاګي په حیث بې د بل ګاونډې د ښمنې ته ځانونه ننویستل او همدا د خامو دوستیو او خامو د ښمنیو خوږین خوړلن دې چې اوس د هغوی نه ځینو هېواد پرېښود او څرک یکې تریکې وهي بې قراره دي.

هغه هېواد چې هلته د فتحې او سقوط خبر د یوې باثباته اوضاع شاته مطرح وې او د زعامت مسأله یکې لاینحل پاتې وي

د دغـسې ډوې اوضـاع مـېچن بـه پرې روانه وي لـکه نن چې د افغانستان په خلکو روانه ده .

لکه څنگه چې د زعـامت د غـه ناروا او بې چوکـاټه اخ و ډب کیداې شي د هماغو افغاني جهتونو غر ورتول کړي چې د خپل هیواد د کلتور پر خلاف ئې د تفاهم پر ځای خبره د زور په کرښه د رولي هغه هم د پردو په مشورد همداسې به دغه هیوادونه چې په افغانستان کې یو دوست حکومت په لټه کې د دروازی په ځای له کړکي ننوتل غواړي خپله همدغه هېوادونه به له یو سیاسی زیان سره مخامخ شي. دغـسي ډو عجول اخ و ډب ددې په ځای چې د هغوی په گټه په افغانستان کې یو حالت راوستلای شي په سېمه کې هغه د نورو هېوادو سره د زړه بداوي او نورو بدغونېو اخ و ډبونو زمېنه جوړه کړي.

PROPERTY OF ACKU 12040

**په افغانی کلتور کې دوستی او غلامی:**

د افغـانسـتان خلک یو خاص کلتور او خاص طبیعت لري چې د همدې کلتور او طبېعت له مخې هغوی د دښمنۍ او دوستۍ په رابطه خاص اصول او ځانگړی تعامل لري.

د افغانسـتان خلک لکه د خپل هېواد په شان طبېعتاً زیږ، شډل ولې ښائسته او حساس هم دی .

Ketabton.com

د همدې ځايه د غه ملت د انساني ټولو مسائلو په نسبت د دوستۍ او دښمنۍ په قضيه کې حساس او حسابي خلک دي.

د افغانستان خلک د غه برازندګي لري که د شاوخوا ماحول پرې خوښيږي که خفه کيږي د هغه د هيچا له دښمنۍ سترګه نه سوزي، ولې ځنګه چې د چا سره په دښمنۍ کې ولويد بيا د افغان پيغور کلچر هغه ته داورد د جنګ او مقابلې حوصله او په دښمنۍ کې د دغه ملت بچيانو ته د سيالۍ او مسابقې جذبه ورکوي .

د همدې ځايه د افغانستان خلک په داسې حال کې چې د هېچا له دښمنۍ نه سترګې نه سوزي د هېچا دښمنۍ ته زړه هم نه ښه کوي ځکه د دښمنۍ د روند پيټی هغه له هرچا ځکه ښه درک کوي چې هغه ته له دښمنۍ يو طرفه وتل ګران کار دی د همدې ځايه د دښمنۍ د ماحول په ايجاد کې د هر قوم په نسبت افغان قوم محتاط دي، ځکه چې هغه د دغسې حالت سوابق او لواحق تر هرچا ښه سنجولی شي .

همداسې ځنګه چې زد خپل ملت پيژنم هغه په داسې حال کې چې د دښمن د قوت او کمزورۍ خبر د مقابلې يا نه مقابلې په حساب نه اخلي ولې هغه هيڅ کله خپل دښمن ته د کمزورۍ د ښمن په سترګه نه ګوري ځکه چې د غسې احساس هغه کيدای شي د

Ketabton.com

واره پوروړی کړي او افغان قوم په دښمنۍ کې د وار لپاره اوچت حساب لري او د دښمن د «وار» پور پرځان نه شي منلی.

همداسې د افغانستان خلک په دښمنۍ او دوستۍ دواړو کې په انساني عزت پوری خپل هرڅه تړي د همدې ځایه په غچ، تجاوز، سوله او پریکړه کې د عزت (او تشخص) خبره محوري وي.

افغان ملت کله کله لویه دښمني او په دښمنۍ کې پر لوی نقصان د یو کمکي عذر په مقابل کې چې د هغه عزت او غرور تسکین کړي کاملاً شاته کوي او د تحمل له مخې د غسې ماحول جوړولی شي چې لکه هیڅ چې نه وي شوې ولې د دښمن یو ډیر کمکی گوزار چې د هغه عزت او غرور یکې صدمه لېدلې وي بې ځوا به نه شي پرېښودلی او نه هم هغه په مادي (دزرو) په ترازو کې اچوي د همدې روحیې له مخې په دښمنۍ کې د پت او ناموس دښمني تر ټولو گرمه دښمني دد.

همداسې چې د غرور او عزت خبرد په دښمنۍ او دوستۍ کې محوري دد افغانان په دښمنۍ او جرگه دواړو کې د پېړي ډیر خیال ساتي ځکه د یوې خوا پړه د هغه د غرور شمله خچنه کوي او د بلې خوا په دښمنۍ کې بې اصوله کار دهغه کمزوري او نه افغانېت

Ketabton.com

برسېره کوي .

څومره چې افغان ملت د پړې او ملامتۍ نه سخته وېره کوي همداسې هغه د دښمن له خوا پرېږدي او گرمه د ځان لپاره تر ټولو بده سپېڅانه گڼي چې باید په هر صورت هغه د منل شوي رسم مطابق په خپل غچ ، خبرداو جرگه کې هغه ته پام وکړي.

همداسې افغان قوم په مقابله او دښمنۍ کې د ماتې او فتحې په حالت کې متفاوت تعامل لري د فتحې پر وخت یې د کرکې او نفرت جذبه کمزورې او د ماتې په مهال هغه د خپل بابللي عزت له مخې د خپل غچ او انتقام پورې تړلې وي چې که د غه منزل سل کاله هم لرې وي هغه ته نږدې منزل دی.

په افغاني کلچر کې دا هم د ه چې د لرې دښمن یا لرې دښمنۍ لپاره خپلې نږدې دښمنۍ یا بېخي له حسابه غورځوي یایې فعلا په موقت ډول له روان تعامل نه غورځوي.

د همدې ځایه د روسانو په راتگ د قومونو تر منځ پیدا ټولې دښمنۍ د توقف په حال کې شوې بلکې قومي مشرانو په زیاتو ځایونو کې داعملاً موافقه وکړه چې دهغوي تر منځ کورنی دښمني دې اوس پاتې وي او همداسې پاتې هم شوې .

د همدې روحیې له مخې افغان ملت د روسانو د تجاوز پر مهال

Ketabton.com

په ډیر اطمینان هغه ایران او پاکستان ته پناه وېوړله چې د مخکنیو حکومتونو ورسره روابط ډیر دوستانه هم نه وو ځکه چې د روس سره په مخامخ مقابله کې هغه نژدې ګاونډ خپل ورور کور وباله خدای دې وکړي چې داسې روحیه تر پایه صدمه ونه وېني.

د افغانستان خلک څومره چې په دښمنۍ کې حساس دي دوه برابره په دوستي کې هم حساس دي د همدې ځایه په دوستۍ کې حسابي چلیږي او د دوستۍ حسابي تعامل کي نا غیړي کوونکي کله کله د دوستۍ لار په دښمني بدله کړي.

د همدې ځایه د دوستۍ ماحول په دې هیواد کې لږ شانتې سنتي، تنګ او اصولي ماحول دې حسابات یې دقیق دي. ګیلې پکې د ضربه تویک نه بدې لګیږي په بده ورځ کي بې جذبې دوست، په غم کې بې تفاوته قریب، په کورني ماحول کې غیر فعال غړي کله کله د مقاطعو، بېلتونونو ان د دښمنو تر سرحده مجازات کیږي.

د دوستۍ همدغه متماسک (نېوونکي) ماحول دي چې افغان ملت یې د هغه وېاړ من عصبیت په پړي متحد کړی چې د روس او انګلیس غوندې لوی دښمنان یې په مخ کې په شا ولوېدل.

Ketabton.com

**همېشه يو خاص موقعيت :**

افغانستان په لرې پرون کې په سيمه کې د مغول او صفوي دولتونو په منځ کې د سياسي بزکشۍ خوسکی و ، د همدې ځايه کندهار او ننګرهار په يوه مرحله کې د ډېرو ستغو حوادثو صحنه وه چې همدغو ستغو حوادثو افغانستان په شرق او غرب کې د موجوده افغانستان د زېږېدو خوږمن او اوږده توپان ته ننويست چې بالاخره هلته چې د غو ښارونو په نهو کلونو کې د لسو ځلو نه زيات سقوطونه او فتحې وليدې د شرق د خو ښت ( پېر روښان او خوشحال ) پر ځای په غرب کې د مير وېس خان «هوتک» مدبرانه او په ديانت بناء اقدام هغه د فکر نه عمل ته راواېست او په ډېر ندې تاريخ کې دغه نوی زېږېدلی افغانستان د اصفهان او دهلي د ځورونکيو حکمرانانو په دروازه فاتح ودرېد .

د نيمې پېړۍ فاتحانه پرمختګونو وروسته سيمه او نړۍ د اروپايي سياليو صحنه شوه هلته چې د افغانستان په جنوب او شرق کې انګليسانو پرتګاليانو او په شمال کې تزاری روسانو د فاتحو بين المللي قدرتونو په توګه مسابقه کوله او د دواړو خواو پروګرام او پرمختګ د واره د لوی افغانستان په پولو ودرېد .

د سدوزيي او محمد زيي حاکمو کورنيو تر منځ کورنيو

Ketabton.com

اختلافونو دغه ملت په هوډ هر نازک وخت کی د یو فوق العاده رول او مطلوب عکس العمل څخه بیل مصروف کړ ولې بیا هم په ملي سطحه د بیگانه و سره د دې ملت څپانده کرکې و کولای شول چې د یوي خوا پیرنگي استعمار ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړي او د بلي خوا خپله د انگلیس پرضد د پاریدلي ملي مقاومت په نتیجه کی روسان په هغه احتیاط قانع کړل چې د نه مراعاتولو له مخې بیرېدل چې د بریتانیا د تاج فوځ په شان افغانستان کې د یو خطرناک ازمیښت په وړاندې ونه دریږي .

د آسیا په دغه سیمه کې د تزاري روسیې او بریتانیایي استعمار اوږدو سیالیو او د دواړو په وړاندې د افغانستان د خلکو حساسیت او اوږد مقاومت افغانستان په یو خاص موقعیت کې ودراوه چې د دغو دوو لویو قدرتونو د نه تصادم او یا په همدغه پوله د توقف خبره پکې تر ډیره د هغه وخت د بین المللي قدرتونو سیمه ییزه پالیسي شوه .

که څه هم زمونږ د ملت مقاومت وکولای شول چې د وخت لوي قدرتونه په دې قانع کړي چې دغه سیمه کله د یوې نیمه آزادې او کله هم د یوې آزادې سیمې په توگه تسلیم کړي؛ ولې د بین المللي قدرتونو کلک تضاد او په دغه سیمه باندې د هغوی د سیالیو

Ketabton.com

تمرکز د خپل وخت افغانستان پرمخ د هر پرمختگ او اقتصادي ودې دروازه وتړله. کله چې په ۱۹٤۷ کال پښرنګي استعمار د هندوستان نه کډه بار کړه او سیمه بوازې د کمونست شوروي د هیبت د وزرو لاندې شوه او خپله په انګلستان کې هم د کارګرانو د انقلاب څپې څپاند ه ښکارېدې او له بلې خوا انګلستان د یو بین المللي او له درجه قدرت نفوذ له لاسه ورکړ، افغانستان زیات نه زیات د کمونستي روسیې فکري او سیاسي نفوذ لاندې کړ خاصتاً چې د لویې بریتانیا قائم مقام قدرت امریکا افغانستان ته په هغه رول قانع نه شو چې لدې مخکې د لندن حکمران ګروپ هغه ته په اهمیت قانع و او د بلي خوا د وخت حکومت ونه شوای کولای د امریکا سره د تفاهم کامیابه ژبه پیدا کړي.

کېدای شي په هغه وخت کې واشنګتن په دي رابطه په ایران کې پخپل نفوذ باندې زیات حساب کړی وي او د ایران تر څنګ یې په افغانستان کې د نفوذ او د روسانو د مخنوي لپاره د بل مرکز لپاره توجه او مصرف اضافي ګڼلي وي.

ولي کله چې د اتمي لسیزې په سر کې د ایران اوضاع پر بله ولاړه او په افغانستان کې روسي پلوه افراطي نظام رامنځ ته شو او افغاني کمونستانو د کریملن د واکمنانو د اطمینان په خاطر په

Ketabton.com

افغانستان کې د امریکا د سفیر وینه د امپریالیزم سره د دښمنۍ نذرانه وړاندې کړه، امریکا ډیره وروسته پوه شوه چې که افغانستان همداسې د روسانو په لاس کې پرېوتی پاتې شي نو د پاکستان او خلیج لپاره به نور کار وګوري. د همدې ځایه امریکا په ۱۹۸۲ کال د بریتانیا د توجه ځای راخپل کړ او افغانستان بیا د دوو قدرتونو په منځ کې د لوبې پنډوسکې شو.

امریکا د روسانو پر ضد د افغانستان د ملي مقاومت نه په ملاتړ وکولای شول چې د روسانو نه د ویتنام غچ د اخستو تر څنګ شرقي اروپا، منځنۍ اسیا دولتونه هم د روسي نفوذ د یو طرفه تسلط نه وژغوري بلکې عملاً ئې هغه شوروي له پښو وغورځاوه چې په بین المللي سطحه یواځنۍ هیواد و چې د امریکا د پروګرام مخه یې نیولای شوه.

د شوروي سقوط هم دافغانستان اهمیت دا ځل د امریکا له نظره کم نه کړ ځکه چې له یوې خوا دلته ځوان اسلام ښه روابط او د کار ښې زمینې پیدا کړې وې چې کیدای شول چې د منځنۍ اسیا د هیوادونو سره د ښو روابطو له مخې یې افغانستان په یو محلي قدرت بدل کړي او د همدې ځایه امریکا دا ځل د روسیې پر ځای پخپله پر هغه افغانستان راوګرځیدله چې پرون ئې شاشاته د روسیې د وهلو په خاطر د دوستۍ په دود روانه وه.

امریکا د روسي ضد مقاومت په دوران کې په افغانستان او سیمه کې ډېر ځه کړي وو چې د همغو له مخې یې د افغانستان سیاسي او نظامي اوضاع ته هغه لوری ورکړ چې د هغه له مخې یې مذهبي قدرتونه په سیاسي او اجتماعي لحاظ بدنام او لغړ کړل. او دا ټول په دې خاطر چې د فعال شوروي اتحاد په سقوط د مه شوي واشنګټون په افغانستان کې د اسلامي بنیاد ګرایي د تود او فعال تحریک له مخې په اسلامي نړۍ او عربي نړۍ کې د یو بدیل مزاحمت سره مخامخ نه شي د همدې ځای امریکا په افغانستان عراق، او ترکیه کي اسلامي تحریک په یو وخت تر فشار لاندې نیولي چې په دې رابطه ټولې احتمالي زمینې پر وخت کمزورې شوې وي.

په اوس وخت کې افغانستان د دغه خاص موقعیت له مخې او خاصتاً د شوروي د رانسکورولو وروسته تر پخوا هم په یو پېچلي موقعیت کې ولوید او په دې سیمه کې د افغانستان د مقاومت په نتیجه کې هیوادونه د خپلو ملي مصالحو له مخې ډیر لرې فکر اخستي چې دې لرې اندیښنو مونږ ته نژدې جنجالونه ایجاد کړل چې په دې رساله کي به د هغه د اثراتو په رابطه یو لند تحلیل وړاندې شي چې که فرصت پیدا شو د همدې کتاب په دویم ټوک کې به د افغانستان د سیمه ییز و او بین المللي روابطو عملي

Ketabton.com

اړخ ته په لنډ د کتنه کې د دې اندېښنو هغه بل مخ ولولي چې د بوې تودې قضيې کوربه هېواد د سیاسي زعامت د خلاء له مخې څنګه او په کوم حد کي د حاشیه هیوادونو په خدمت کې لوېږي .

د همدې غایه مونږ په دې بحث کې د افغانستان په باره کې د سیمه ییزو او بین المللي ستراتیژیو شارټ نوټ ته لوېږو او د دغو هیوادونو د ستراتیژیو او سیاستونو معلومات وړاندي کوو .

امریکا او غرب روسیه او د شمال هیوادونه، سعودي عرب او خلیج ، ایران ، پاکستان او هند او چین .

ACKU

Ketabton.com

۳۹۹۱





Ketabton.com

دویم فصل

# امــــریکـــــا
# او
# اروپایی ملګری یی

امریکا اوغرب د روسانو پر ضد د مجاهدینو د مقاومت نه او د مجاهدینو پر ضد د طالبانو له مقاومت نه پوره ګټه واخسته ولې په دې دواړو مرحلو کې امریکا هم پخپله د حمایه شوي لوري د مزاحمت سره مخامخ شوه .

که څه هم امریکايي سناتور ( ... ) لا ددې دعوه کوي چې امریکا د طالبانو سره د پټې همکاری پالیسي لري ولې تر کومه چې د شمال اتحاد سره د ظاهر شاه د پلویانو ښه روابط او په افغانستان کې د اسامه بن لادن پر سر د طالبانو سره د امریکا د پیل شوي اخ و ډب ماجراته ژور نظر واچول شي نو د زلمي خلیل زاد دا خبره پر ځاي ښکاري چې د امریکا سیاست په افغانستان کې هو بې ثباته سیاست وا او اوس واشنګتون په دې ارتباط له

Ketabton.com

ACKU

ګراني مرحلې سره مخامخ دي.

داسې ښکاري چې امریکا په افغانستان کې په لنډ وخت کې د یو باثباته نظام د جوړیدو پلوي نه وي بلکې غواړي چې د مجاهدینو د دود ثلثه تصفیوي پروګرام پوره افغانستان له خپلو ګاونډیانو سره ښه روابط ونلري دغسې یو افغانستان چې هلته داسلام او اسلامي فکر خبره لاڅپانده ښکاري دا به د امریکا لپاره ګرانه وي چې هغه دغسي یو نظام ته فرصت ورکړي چې هغه په همدې روحیه د منځنی آسیا هیوادو سره دوستي او روابط ولري بلکې تر څو چې په منځنی آسیا باندې امریکا د روابطو او سیاستونو یو خاص ماحول نه وي تحمیل کړی د افغانستان خلک به په خپلو کې مصروف وي او یا خو به داسې نظام رامنځ ته کیږي چې د منځنی آسیا هیوادونو سره یې روابط په یو غیر مذهبي بنیاد ولاړ وي او په اقتصادي لحاظ هم په هغه حد کې وچلیږي چې امریکائي «منک» ورکړی وي.

امریکا او غرب لکه څنګه چې د اسلام او سیاسي اسلام نه تشویش لري هغه همداسې د هغه افغانستان نه زیات تشویش لري چې د روس او ایران سره ښه روابط ولري. د همدې ځای به د استاد رباني بې خاصیته نظام هم د واشنګټن لپاره د منلو په حد

کې نه و هغه د يوې خوا د روسانو په حمايه روان و اود بلې خوا يې نژادي پيوند له ايران سره د امريکا لپاره د تشويش نقطه و .

که څه هم په تير ژمي (او په اوس وخت کی خاصاً) کې امريکا خپل روابط له مسعود سره ښه کړل ولي څوک پوهيږی چي د هغه نه يي هدف په طالبانو باندي د لا فشار اويا د ظاهر شاد له پروګرام سره د مسعود د وروستي موافقي له مخې وي .

ښايي امريکا هسې په نامه مجاهد هم د نظام په حد کې ونه شي زغملی د مسعود د نظام په رابطه د امريکا د پيل بي توجهي کيدای شي دغسي يو عامل ولري.

امريکا که څه هم د پخواني شوروي له پلوه زړه فارغ دی ولې امريکا په دي ښه پوهيږي چي په شرقي اروپا او منځنی آسيا کي د روسانو اوپا کلن کار ، تبليغات ، ګوډاګيان او فکري بنيادونه د ومرد سر سري هم نه دي چي د امريکا غوندې يو حساس قدرت د هغه له حسابه بي پروا شي .

د پخواني شوروي اتحاد د پرې وتلي هيوادونه لا تر اوسه يو ډول رابطه له روسيې سره پالي او روسان هم نه غواړي دغه هيوادونه له روسيې نه ډيره فاصله ونيسي داخو پرخپل ځای پريده چي د پرځيدلي شوروي اتحاد سياسي او اقتصادي کمبود خپله

Ketabton.com

د دغې سیمې هیوادونه د امریکا هغو سیاستونو ته متوجه کړي چې د هیچا لپاره د قبول وړ نه دي.

امریکا د دغسې اوضاع او د امریکا په نسبت د سیمې د هیوادونو دغسې کړکې ته ښه متوجه ده . له همدې ځایه امریکا نه غواړي چې افغانستان دې له روسیې سره په هماغه پخوانۍ دوستۍ روان وي.

روسانو په ناکام وخت کې کامیاب قدم پورته کړ چې د نجیب تر سقوط وروسته ئې په بوده مجاهد قدرت چې مسعود نومیږي اعتماد وکړ، ځکه دغه اعتماد وکولای شول چې د روسانو په لاس هغه ځرک ورکړي چې پرون د امریکا او پاکستان په ګروت کې و او د بلې خوا د مجاهدینو په منځ کې د پلوي ځواک له مخې یې پر امریکا باندې د یو طرفه او غوڅ اقدام مخه پرې کړه ، ځکه امریکا لا په دې حد کې نه ده چې د روسانو پر ضد پر بدیل مجاهد قدرت بروسه وکړي او خپله د امریکا پلوي طرفونه د حوادثو له لوري ډیر لرې دي د همدې ځایه دا یقیني ده چې په افغانستان کې د روسانو تحرک د امریکا په نسبت هیڅ کم شوي نه دي.

بلکې نن روسان هماغه مسلمانان پخپل ګروت کې لري چې پرون یې د روسیې پر ضد د نورو لپاره مقاومت کاوه .

Ketabton.com

امریکا هم کېدای شي له مسعود سره د روابطو په ساتلو کې څه جرأت وکړي ولې د مسعود سره د ایران پلوه وحدت اسلامي روابط او د اتحاد اسلامي رهبر استاد سیاف موجودیت کېدای شي د روابطو دغه زمینه له پیل نه مغشوشه کړي وي.

امریکا د ډېر احتیاط نه کله کله په افغانستان کې په داسې شرائطو کې ولویږي چې پخپل احتیاط یې پښېمانه کړي.

امریکا غواړي غرب کې پناه اخستي تکنوکراتان د ظاهرشاه د قیادت لاندې سره راټول او ټول په افغانستان کې د یوه نظام تر چتر لاندې ننباسي ولې په غرب کې پناه اخستونکي افغانان که څه هم په غرب کې د پناه اخستلو له مخې یو رنګ او متحد ښکاري ولې د هغوی دغه یو رنګي او اتحاد له یوی خوا فکري اتحاد نه دی هلته هم افغانستان ته مخلص او وطن ته بې باکه جهتونه شته او له بلې خوا دغه یو رنګي د هوټلونو تر جلسو اخوا د سپېرو حوادثو او عملي ګډو تصمیمونو کې لیچې نه دې لیدلې چې انسان باور وکړي هغه به د امریکا لپاره یو کاریګر پوځ شي.

امریکا او خپله ګاونډې هېوادونه اوس په زیاترو پرونیو افغانانو اعتماد نه کوي ولې په غرب کې مېشته کسان به څنګه وکولای شي د ایران او پاکستان غوندې ګاونډیانو د تاوده اعتماد

لیار پرانیزي چي هغوی پر طرفه تول حساب پر امریکا او امریکایي موسساتو کوي.

حقیقت دادي چې د کمونیزم نه د ویرې په تبه کې «خوله وتلې» امریکا به هیڅکله ددغو کمونستي ستو له نظام سره جوړه نه شي.

که څه هم امریکا په دې ښه پوهیږي چې د افغانستان څخه صادر شوی سیاسي اسلام به په عاجله توګه د امریکا لپاره په دغه سیمه کې هیڅ داسې خطر را پیښ نکړي چې د امریکا لپاره سرخوږی شي ولې امریکا ددغه افغانستان څخه د منځنۍ آسیا د هیوداو پر ځای په خلیج او منځني ختیځ کې زیاته ویره لري ځکه چې په هغه سیمه کې د امریکا اسرایل پلوه سیاست دهغې سیمې ملتونه د امریکا پر ضد راپارولي او هم یې په دغسې یوې مذهبي جذبې سره تړلي دي چې پرون دهغې له مخې افغان مجاهد ملت لوی شوروي اتحاد راوپرځاوه د مجاهدینو په لاس سوله ییز قدرت کیدای شو ل خلیج او عربوته د ځان نه د دفاع یو سیاسي ډال ورکړی و.

په دویمه درجه کې پخپله په خلیج اومنځني ختیځ کې د شوروي پر ضد د شوي جهاد هغه سرتیري عرب کیدای شي د فارغ او

مسلط افغانستان په صورت کې د امریکا لپاره هغه سیاسي او نظامي عکس العملونه تنظیم کړي چې کیدای شي خلیج د امریکا لپاره هویل وبتنام کړي . امریکا که څه هم د دغو عربو په شان د جهاد په ورځو کې د روس پر ضد بو د خپل جهت و ، خو امریکا پوهیږي چې د راپرځیدلي شوروي اتحاد قهرمانانو مخه نورد په بله خوا کیدونکې د د .د همدې ځایه مخکې لدې چې د دغه اتلان پخپل لوري روان شي امریکا په هغوی باندې لوری ورک کړ د امریکا پاتې کار په افغانستان کې د مجاهدینو په ذریعه سرته نه شي رسیدلې بلکې امریکا غواړي د روسانو د سقوط وروسته د افغانستان لپاره داسې کسان رامنځ ته کړي چې د سیمې د هیوادو پر ځای په امریکا متکي وي او د اسلام د فرمائشاتو پر ځای د هغوي ذهن او کار د امریکا له خوا د کېدونکې کومک پوري تړلی وي.

امریکا او غرب هڅه کوي چې په سیمه کې داسې رژیمونه رامنځ ته کړي چې د اسلام پر ځاي په سطحي نشنلزم متکي وي څکه د غسې نظامونه په طبیعي ډول د خپلو گاونډیانو سره د خپل شعار له مخې د ټکر کېدو په جهت کې روان وي.

که څه هم امریکا په افغانستان کې اسلامي بنسټپالان له

نژدې لیدلي چې هغوي هم د سیاسي ګروپېکو ګټو په خاطر هرې معاملې ته چمتو او هغوی د امریکا لپاره هغومره خطرناک نه دي لکه امریکا چې ترې وېره لري خو امریکا په دې ښه پوهیږي چې د اسلامي تحریکونو لوری په طویل المدت کې د سیمې او ملتونو د اتحاد په خوا دي او دا کار کیدای شي د غه کمزوري مسلمانان د سیمې او بین المللي شرایطو د بدلون په صورت کې پر امریکا راوګرځوي لکه د روسانو پر ضد چې پرون مفید واقع شول.

د همدې ځایه امریکا د روسانو پر ضد د جهاد په دوران کې ټول جوړ شوي بنیادونه یو په بل پسې ړنګ کړل وروستي حمله یې په تعلیمي ادارو او هغو پوهنتونو وه چې یو تعداد هوښیارو افغانانو ددې هیواد د ځوان نسل د طبیعي مرګ نه د ژغورلو په خاطر تاسیس کړي و.

که څه هم امریکا وکولای شول چې په افغانستان کې د پروني جنګ لپاره جوړ شوي بنیادونه یو په بل پسې ړنګ کړي ولې په سیمه کې نور موثر بنیادونه هم شاید همداسي وران کړي لکه په افغانستان کې یې چې وران کړل.

امریکا د پاکستان او ایران سره د جهاد په دوران کې د افغانستان د خلکو د دوستۍ تر د ماحول هم د ځان لپاره خطرګڼي

او دهمدې ځایه داسې پروګرامونه یې پیل کړي دي چې ددې ملتونو سره دافغانستان دخلکو د دوستۍ محور رنګ کړي.

د سیمې حکومتونه که څه هم ددغسې یوې دوستۍ شاهد دی ولې د جانبي مصالحوله مخې یې ونه شوای کولای دافغانستان تر آزادۍ وروسته په داسې یوه پالیسۍ روان شي چې د دوستۍ دغه تسلسل دهغوی لپاره تضمین کړي. له همدې ځایه وروستي جریانات ښيي چې ددغسې سیمې حکومتونه هم دهغې اشتباه ښکار شول چې پرون یې د مجاهدینو مشران ښکار شول بلکې ر هغه هم زیات! او کیدای شي په دې سیمه کې د شلو کلونو جوړروابط او د تفاهم ښه ماحول د سریع بدلون په خوا روان او بیا دا بدلون به دغه په ایران، پاکستان او افغانستان کې غښتلی ماحول یوه درګیراو چیچلي ماحول ته وسپاري.

امریکا د هغه افغانستان نه چې پرون یې د یو ملیون شهیدانو په ورکولو د نړۍ د ویم قدرت له پښو وغورځاوه هغو مرد وبربري چې نن شوروي ترې ویریږي، له همدې ځایه دغسې یو افغانستان چې د لویو قدرتونو د ماتولو د غرور نغدد سابقه لري د امریکا لپاره په اوس وخت کې یو نس خوږی دی او هغه یې په سترګو کې ازغي ازغي کیږي ځکه چې دماتولو خبره نوره دامریکا په کور

ورغبرگه ښکاري.

امريکا په آسيا کې خپلو گټو ته د مخاطرې له مخې د درې ملتونو ته زياته وېره لري چې د هغو په سر کې افغانستان او بيا ايران او ترکيه دي.

په افغانستان کې د امريکا د وېرې عوامل درې دي.

١- د جهاد دوران، د جنگ د گټلو سابقه، د فتحو غرور.

٢-له اسلامي نړۍ سره د جهاد د دوران تاوده روابط او تعلقات.

دا چې افغانان په تاريخي لحاظ په مذهب ولاړ ملت او ملت يې سني مذهبه تشخص لري.

د ايراني ملت نه په دې خاطر وېره لري چې:

١- ايران په فکري او فرهنگي لحاظ رسېدلی متحد ملت دی.

٢- د امريکا په نسبت زيات حساس دی.

٣- په اقتصادي لحاظ کولای شي په طويل المدت کې ځان يو مطلوب منزل ته ورسوي.

ولي د شيعه اقليت مذهب او هلته د شيعه متعصب نظام امريکا ته د دې اطمنان ورکوي چې د غسې يو نظام نور مسلمانان په ځان پسې نه شي روانولی.

Ketabton.com

د ترکيي نه په دي خاطر ويره لري چې:

۱ - ترکان د يو د اسلامي بين المللي قدرت او اروپا سره د غرور او فاتحو تيرو نو طلايي سوابق لري.

۲ - ملت يې متدين او زيږ ملت دي .

۳ - د هغه په شاوخوا د ترک د ملت د انشعابي څانګو نه بلا قومونه او په زړه پورې غني هېوادونه شته.

غرب پوهيږي چي په ترکيه کې له پوځ پرته هر څه کيدای شي بود ورځ په پر همداغه ولاړ شي چي د اروپا لپاره به بې مهار ول ګران وي.

امريکا خپلو تېرو سوابقو ته په پاملرني سره پر ايراني ملت زيات حساب کوي او فکر کوي چې د شيعه مذهب پلوي ايران او د عربو په لوېه کتله کې نيمه محاصره د ايران کيدای شي په يو وخت کې هغه کار د امريکا د پاره وکړي چې نننی اسرائيل يې کوي ولي هلته يو ژور مذهبي تحول د امريکا د غه ټول توقعات ډب اچولي بلکي نننی ايران داسي ښکاري چې د روس تر ماتي وروسته د سر اخستي امريکا لپاره په بين المللي سطح يود متعارضه جبهه جوړه کړي چې هغه د دي توان ولري چې د واشنګتن د خلاص مټ تجاوز ته کرښه وباسي له همدې ځايه

امریکاله د غسې بود متحرک ایران نه زیاته وېره لري او کیدای شي چې د عراق وروسته د د غه ایران لپاره د مقابلې او محاصرې کار په افغانستان کې ولټوي له همدې ځایه امریکا بناپې د جنګ او سولې په دوران کې دا هڅه وکړي چې که ایرن راضي کړي او په هغه صورت کې چې دا کار ورته مشکل شي نو بیا به په افغانستان کې د د غسې بود نظام خبره یقیني کوي چې په مناسب وخت کې د ایران لپاره بوسیاسي سرخوږ پیدا کړي .

که څه هم په افغانستان کې د نظام خبره کلیوالي سطحې ته راټیټه شوې او هلته سیاسي جهتونه د بین المللي پیچلي ماحول لپاره د مناسب سیاست سره اشنا نه دي له همدې ځایه کیدای شي امریکا په لرې مرحله کې د خپل ضرورت مطابق افغانستان په داسې بود ماجرا کې لتاړ کړي ولې ترکومه چې د روسانو پر ضد روان جنګ کې د ایران ملت زمونږ له ملت سره انساني او سیاسي مرسته کړې فکر کوم چې په ډېره نژدې مرحله کې به افغان ملت داسې په آسانۍ سره څوک د ایران او پاکستان پر ضد راونه څرخوي .

احمدشاد بابا د کرمان د څو ورځو ژوند په خاطر د جنګ مخه له ایران نه مخ په لوی هندوستان واړوله . د هغه بچیان به د هغه ایران

پر ضد د نورو لپاره ابداً و نه جنګېږي چي د روسانو د اشغال په دوران کي بې زمونږ د ملت پو نیم ملیون اواره انسانان پخپل کور کي منلي وو ،له همدي ځایه د مزار د سقوط نه وروسته د ایران د پاریدلي نظام تندو عکس العملونو پر ضد د طالبانو حکومت د ضبط النفس نه کار واخست او وي نه غوښتل چي د هغه ایران سره د جنګ په کرښه ودرېږي چي هلته لا د افغان جهاد د دوران مسافر او مهاجر مېلمانه ژوند کوي.

امریکا او غرب بنایي نهایي هڅه وکړي چي افغانستان او ایران په یوه دوستانه ماحول او د یوه فکر پر ماحول راټول نه شي ځکه چي په منځني آسیا او خلیج کي دغو هیوادونو د ګټو لپاره په طویل المدت کي کېدای شي تهدید شي او دا په دې خاطر چي له یوې خوا د امریکا مخالفت او دښمني کیدای شي چي دا ملتونه سره نژدې کړي او د بلې خوا د سیاسي اسلام پورته کړی شعار کیدای شي په یوه مرحله کي دغه دوه متضاد مذهبي انقلابونه په یو مشترک دریځ کي قانع کړي.

دغسي اندیښني د واقعیتونو په محاسبه کي یوه ډیر لرې احتمال دی ولي غرب او امریکا چي د نړی سیادت تېکه کړی هغوی همدومره لرې فکر کوي بلکې د دې نه لرې احتمالات هم په

تسلسل کې افغانستان نن ورځ یو ژور موقعیت لري د همدې ځایه امریکا په نن او سبا کي د افغانستان لپاره په مسائلو کې خاص رولونه او په څه قضایاو کې بې روله سیاستونه په نظر کې لري چې د سیاست ابتدایي لاروېان یې کله په فکر کې هم نه دي لویدلي؟

په طویل المدت کې به دهرې سیمي نه مخکې یا عربي نړۍ یا هم دافغانستان شاوخوا سیمه کې حالات دامریکا سرد په یو کامیاب اخ و ډب کې واقع کیږي منتهي دا ببله خبره ده چې دې افتخار ته د رسیدلو په جهت کې به عجم پخپلو کې تفاهم ته ژر ورسیږي که عرب دا هغه سوال دی چې راتلونکې به هغه ته ځواب ووایې.

نن ژوندي عجمان او مړ د عربان هغه دوه هندوانې دي چې د امریکا د سیاست په لاس کي په یو وخت کې د وارد نه ځائیږي.

د روسانو ماتې که په دې سیمه کې امریکا ته اوږد لاسي په برخه کړ خو دنژدې روسیې لاس لنډیدو د دې سیمې خلکو ته د یو خلاص تحرک زمینه هم ورکړې چې امریکا د دې لپاره پوره حساب هم لري خو په اوږده فرصت کې به هغه پخپله محاسبه کې پاتې راځي.

عجم مسلمانان چې نن ورځ دخپل حساس موقعیت ترڅنګ بله

Ketabton.com

نظر کې لري.

که د ایران او افغانستان په منځ کې د تفاهم مشترکه ژبه وای کېدای شول چې دغو دواړو هیوادو د ذي علاقه دولتونو په همکاری د عربي لوبې کتلې نه مخکې د امریکا روان سیاست او روابط په یوه معقوله کرښه د رولي وو .

امریکا د اسرائیلو نه په یو طرفه حمایت وکولای شول د عربو د ځپلو له لپاره اسرائیل همیشه د ځان کړي ولې په بین المللي سطح د امریکا پر ضد د خوځنده ایران لپاره نور په عربو کې بل عراق د ځان لپاره نه شي پیدا کولای ځکه په عراق د راغلې ورځې او د اسرائیلیانو د بې چوکاټه مظالمو نه په عبرت که ایران عرب ونه چیړی بل ځل به عرب د امریکا لپاره د چا دښمنۍ ته زړه ښه نکړي.له همدې ځایه خو امریکا د ایران په نسبت د مقابلې او مفاهمې په متضاد د پالیسۍ کې د عصبانیت درجې ته رسېدلې ښکاري.

ایران د خپلې بین المللي خوځنده دیپلوماسۍ له برکته په عربي او غربي دنیا کې د ځینو حامیانو او بې طرفه جهتونو په دریځ ثو ځله وکولای شول چې دامریکا د قوي ضربې نه ځان وژغوري.

د امریکا د ګتېو د تضمین او تهدید د ماحول په دغه نا آشنا

قوي او قاطع وسله په لاس کې لري هغه د ایراني ملت ژوره فرهنګي پانګه او د افغاني ملت لوړه مذهبي روحیه ده.

د ایران فرهنګي ژورتیا ایران ته په بین المللي ساحه کې د کامیاب تحرک او د کامیابۍ د پلوماسۍ زمینه برابره کړې ولې له بده مرغه چې د ایران دغه فرهنګي ژوره پانګه بیا د ایران په داخل او د ایران نه بهر د مختلفو مذاهبو او مختلفو نژادونو سره په تعامل کې د یوه مثبت کردار او مناسب ماحول په جوړولو کې پاتې راغلې د همدې ځایه په ایران او د ایران نه بهر ټول سني مذهبه کسانو د ایراني حکمرانانو په عمل کې د غسې یوه بزرګوارۍ پیدا نکړه چې هغوی فکر وکړي چې نننی ایران د ټولو په جهت کې مصروف دی.

که نن په ایران کې د سني مذهبه کسانو په نسبت د ایراني حکومت تعامل په یو پتمن حد کې وای بیا به د نیا لېدلي وه چې د اسلام په لار کې د عجمو کردار څو برابره د عربو نه او چت او موثر دی.

د همدې ځایه خو ایران چې په بین المللي سطح د یو فعال تحرک استعداد لري په اسلامي سطحه هغه پخپل د ماحول کې د ټولو اوېندو دروازو شاته ولاړ دی څو ک بې په شعار ځکه نه دو که کیږي چې د عمل نه بې له ورایه د تعصب محدودیت او انحصار

ACKU

Ketabton.com

ښکاري.

امریکا په اسلامي سطح د ایران د یو فوق العاده کردار نه چې امریکا ته د اسلامي فکر په بنیاد په دې سیمه مشکلات پیدا کړي مطمئنه ده ولې همدا ایران بیا په بین المللي سطحه د مصالحو او سیاسي مشترکاتو له مخې په دې کې تر یو حده بری لري چې د امریکا پر ضد هغه دریځ غوره کړي چې امریکاد خپل ټول عکس العمل سره سره کله کله بیا هم په مقابله کې پاتې راولي.

د همدې ځایه امریکا جدي غواړي چې دا ځل دغه د خمېنی ایران د عراق په ځای د افغانستان له خوا د یو ایراني ضد نظام په رامنځ ته کولو کاواکه او غیر فعال کړي ولې زمونږ له نظره په افغانستان کې به هر افغاني حکومت تر یو نسبي ثبات وروسته نور د نورو د مصلحت په خاطر خپل دوست ګاونډیان ونه کړوی.

امریکا په دې کې پوره بری وښود چې خپل جدي مخالف شوروي اتحاد یې په افغانستان کې د روسي پوځي اشغال پر ضد د راپاریدلي مقامت سره د لاس یو کولو له مخې د ړې وړې کړ او خپل پاتې مخالفین (اسلامي مجاهدین) یې پخپلو کې او بیا د طالبانو د مقاومت په لړ کې ترغي په ترغي کړل د همدې ځایه امریکایان فکر کوي د سیمې نور مسایل به هم په افغانستان کې د امریکا

Ketabton.com

سرد د هو دوست حکومت په رامنځ ته کېدو کېدای شي حل کړي ولې د افغانستان خلک له هوې خوا د د غسې هود رول د اجرا کولو زمېنه نه لري په دې معنا چې په ملت کې د غه زمېنه کمزورې ده او له بلې خوا زمونږ دوه قوي گاونډيان هوېې ايران چې د انقلاب مرحله هې تېره کړې او بل ېې پاکستان چې د روسي ضد مقاومت خبره ېې له کوره تنظېم او برې ته ورسېدله. دواړه اوس د حوادثو سره د خپل مصلحت په ساحو کې د هو سياسي دريځ په جوړولو او کامېابولو کې پوره ابتکار لري، دلته د د چې کېدای شي نژدې ايران او نژدې پاکستان دواړه د د غسې هود نظام د ټېنگيدو خبره مخکې له دې چې د هغه پښې افغانستان ته ورسېږي پرې کړي.

له همدې ځايه د افغانستان په رابطه د ايران، امرېکا او پاکستان په پالېسو کې ډېر تفاوتونه دې چې همدا تفاوتونه د هوې خوا په افغانستان کې د هوه معتدل باثباته حکومت د رامنځ ته کېدو او پاتې کېدو دواړو مخه نيسي او د بلې خوا روان جنگ ته نوې شکلونه نوې پړاونه او شعارونه ورکوي.

امرېکا او غرب هڅه کوي چې د افغانستان د تحولاتو په رابطه ټول ابتکار د امرېکا په لاس کې پاتې شي او راتلونکی افغانستان د امرېکا د مېل او مصلحت په حد کې خپل روابط

او مناسبات د ایران او ان پاکستان سره عیار کړي ولې لکه څنګه چې «ایراني افغانستان» اوبا هم «پاکستاني افغانستان» ته حوادث اوخنډونه ډېر دي داسې ځو برابر د امریکایي افغانستان په مخکې هم لاموانع پراته دي چې کېدای شي په دې مسابقه کې د روس په شان د غه ټولې هلې ځلې په نیمه لار کې نامراد پاتې شي.

امریکا د هغو هیوادو سره چې په بین المللي سطحه د ګروپېکو هڅو ماحول جوړوي اوبا هم د دغسې ماحول جوړولو لپاره طبیعي استعداد لري سخته مخالفه دد همدې ځایه په فاتح افغانستان باندې د امریکا ګوزار هم ستر و ځکه چې که څه هم د ګروپیکو هڅو د ماحول په رابطه په افغانستان کې د تحرک احتمال کمزوری و ولې د افغانستان طبیعي استعداد کېدای شول د دغه ماحول لپاره لبار هوارد کړې ود.

د افغانستان په ګاونډ کې متفاهم او دوست ایران او پاکستان د امریکا لپاره ځکه د زغملو وړ نه دي چې د دغسې یو ماحول خپله د لویو قدرتونو سره د ډغرو او لویو قدرتونو په ماتولو کې ټول بامخامخ او بابالواسطه سابقه لري اوس چې امریکا خبرد په بین المللي سطحه ګټلي باید له هر ځایه همدې سېمې ته زیاته متوجه

وي چې زيا ته متوجه هم دداو دهمدې سوابقو له مخې په دغه سېمه کې يو دزمکې لاندې درونداخ وډب روان دې چې افغانستان دهغه اوله درجه او پاتې هيوادونه به د هغه دويمه درجه قرباني کېږي.

د امريکا په سېورې کې پاتې شوې اروپا که څه هم د امريکا په نسبت دافغانستان په قضيه او د شوروي په ماتې کې زياته برخه کړې ځکه چې د مهاجم شوروي شراو مخامخ خطر خو د اروپايي هيوادونو سهار لکه ماښام تور کړې وله همدې ځايه خو ددغې ژوندي اروپا خوله او عمل دواړه د شوروي له خوا د پراګ د اشغال په ورځ لکه سابېريا کنګل پاتې وو ولې څنګه چې غربي اروپا بلکې شرقي اروپا هم د شوروي په سقوط د بوې لوېې بلا نه په امن کې پاتې شوه او د په تېر تور دوران کې د امريکا د همکاري شکرې پورې تړلي وه خود امريکا د تېرې همکارې د شکرېه ښايي ډېره لنډه وي بلکې همدا غربي اروپا به د جرمني داتحاد وروسته د امريکا دغه اوږد او خوځنده لاس تر ډېره تحمل نکړي.

له همدې ځايه د روسي سرې بلا په لوېدو جوخت په اروپا باندې د امريکا د تنګو پروګرامونو پيرېان ناست ښکاري له همدې ځايه

فرانسه په ډېرو بین المللي قضایاو خاصتاً دافغانستان په رابطه دامریکا د سیاست سره د جوختې ملګري نه هنرمندانه ډډه کوي.

اروپا که د شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې د خپلو جوختو عکس العملونو په نتیجه کې د تاریخ دوه ورانوونکېو نړیوالو جنګونو په عمراني او انساني لحاظ ښه وځپله ولې د جنګ د غه ناوړېن اروپا ته په اروپايي قضاياو کې د سیاسي مسالمت امېز عمل هغه ژور کلچر ورکړ چې د شلمې پیړۍ په دویمه نیمايي کې اروپا او ټول غرب دد غې روحیې له برکته په جنګ باندې کنډواله شوې اروپا ټوله آباد او په سوله بسیا کړه او په انساني لحاظ یې د وحدت او سولې په مزو کې ډوبه کړه دلته ده چې اروپا د امریکا د واکمنې په رابطه د تند عکس العمل نتایج وینې او هېڅوک نه غواړي د هېڅ لپاره د اروپا د سولې د غه طلايي تسلسل مات او اروپايي انسان د خپل ماحول په خوړ اخته کړي.

هرڅومره چې اروپا پخپله سوله او د امریکا په ملګرتوب حساب وکړي ولې د روس نه د ویرې د دوران د غه ملګري کېدای شي کرار کرار خپل ځای هغو اروپايي کرېږو ته پرېږدي چې مسايل او قضايا یوازې د همدي ننۍ امریکا له حسابه حساب کړي او د امریکا سور «اروپا» ته به ګرانه وي چې د یوې (د بې)

په شان په ټولو نړیوالو قضاياو کې د امريکاتر شا روانه وي.

د مات شوي شوروي اتحاد په تعقيب د امريکا د جوړ شوي سياست له مخې د نړۍ زيات هيوادونه او اسلامي هيوادونه غواړي چې خپل اقتصادي پروګرامونه دغربي هيوادونو په مرسته روان کړي ځکه له يوې خوا ددغو هيوادو سره د تفاهم ښه زبه پيدا کولی شي اوله بلې خوا په اقتصادی معاملو کې دهغوی استعماري «چونکي» کم دي.

امريکا د سياسي اسلام پلوه ډلو د خطرناکه ښودلو د لپاري غواړي د يوې خوا اروپا د اسلام په رابطه د حد نه زياته ووېروي او د بلې خوا پر سياسي اسلام پالو له همدې ځايه د اروپا په همکارۍ نړيوال فشار واچوي چې له يوې خوا اروپا ښه چانس تر لاسه کړي او له بلې خوا غواړي د چانسونو د ويش په موقع امريکا همېشه د زمري برخه د ځان کړي.

د افغانستان د راتلونکي په نسبت همدغسې يو تفاوت د امريکا او اروپاد سياستونو ترمنځ شته ولې اسلامي حکومت نه د مخنيوي په خاطر امريکا په اروپا باندې د افغانستان د خلکو سره د اسانه تفاهم لبار ډب کړي ده .

که څه هم انګليس په اروپا کې د امريکا سره په زياتو نړيوالو

قضاباو کې ډېر نږدې دربځ لري او افغانستان دد غو قضاباو نه بو د قضیه دد ولې د انګلیس د غه نږدیوالی له دې ځایه دد چې امریکا هم د امریکا وروسته په سیمه او نړۍ کې د انګلیس دګټو دویمه درجه حامي دد اوله بلې خوا په زیاتو سیمو کې شته نظامونه د انګلیسانو د پالل شویو نوکرانو په لاس کې دي او امریکا په دې پوهیږي.

د افغانستان مقاومت څومره چې نړۍ د شوروی اتحاد په انحلال هوسا کړه، هغومره د شوروي اتحاد غیاب نړۍ د نوې امریکې د تېرد او غوڅوونکې سیاست خولې ته ودروله.

د امریکا نه پرته ټول ملتونه د شوروي اتحاد ترماتې وروسته د شوروي د ځای ډکول یو ضرورت وبني ولې د امریکا د مقابلې لپاره دامریکا معادل بین المللي ساری او «سیال» پیدا کول یوه عادي عملیه نه دد.

دا کار کیدای شي لږ طولاني وخت ونیسي او دا په دې خاطر چې امریکا دد غسې یو قدرت میلاد د ځان لپاره خطرناکه وبني.

له همدې ځایه د روس تر سقوط وروسته امریکا په بین المللي قضاباو کې د سپین نسل په نمائندګي د هغو سرو سترګو سیاست را خپل کړی چې غواړي په بین المللي سطحه د روس د خالي ځای

Ketabton.com

ډ کېدو ته کاندېد دولتونه د تبارز د ورځې له خطر د مخکې شنډ کړي.

نړۍ د شوروي د بدېل د راپېدا کېدو زمینه خپله د امریکا په پروني ملګري غربي اروپا کې اټکل کوي.

ځکه چې له یوې خوا هغوي هم د سپین نسل مغرور وارثین دي او له بلې خوا هر یو په نړۍ کې یو د اوږد د استعماري دورد ( با سابقه ) لري چې په آسیا او اروپا کې د هغوی غلامې حاکمې کورنۍ کېدای شي ورسره ژر پیوند واخلي او همداسي هغوي ته د امریکا کمزوري د هرچا نه زیاتې معلومې دي او په دریمه درجه کې په غربي اروپا کې سیاسي ماحول د تفاهم او یووالي ماحول دی چې دا خپله کېدای شي د امریکا په وړاندې د یو مقابل بدېل قدرت د زیږیدو زمینه هلته ښه برابره کړي ،ولې د امریکا او برتانیې ډیر نژدې والي کیدای شي په دې لیارد کې موقت خنډ شي. دویم احتمالي ځای چې کېدای شي د بدېل خبره پکې په تدریج رامنځ ته شي هغه د چین او ننۍ روسیې وحدت دی چې د امریکا وروستیو مواقفو او په سیمه کې د امریکا یوطرفه مداخلې کېدای شي د همدغسې ستراتیژیک وحدت زمینه برابره کړي او دغه وحدت په تدریج د برژنف د شوروي اتحاد ځای ډک کړي

Ketabton.com

چې په نړۍ کې د هر چا لپاره تهدید و، ولې داخل نه هغه روسیه پاتې ده او نه هم چین د غسې یو سیاست چلوي چې د ړیمه نړۍ د هغه نه زیاته په ویره کې ولویږي.

د ریم احتمالی ځای اسلامی نړۍ ده.

اسلامي نړۍ د بده مرغه د د غسې یو د بزرگوار احتمال نه په دې خاطر لرې ده چې یو خو د غه هېوادونه پخپلو کې د بې باورۍ بحران تېروي او د بلې خوا په علمي لحاظ د غه هېوادونه ډېر ډېر ته پاتې دي که څه هم د اتحاد خبرې د افغانستان په ماحول کې او د علمي پرمختګ خبرې د پاکستان په ماحول کې یو څه رنګ اخستی ولې د افغانستان د کورني او سیمه ییز جنګ تداوم و ښودل چې د دغسې سیمي ملتونه او سیاست چلوونکي لا د غسې یو تصور ته د رسېدو ډیر مراحل غواړي او د بلې خوا په دې رابطه کېدای شي چین او روسیه او هم غربي اروپا د امریکا سره په یو ه پله کې ولویږي او دغسې چانس که ډیر وروسته هم پیدا کېږي ډیر مخکې به یې له منځه یوسي.

کېدای شي سیاسي تحولات د دغسې یوې مرحلې لپاره لیار هوارې کړي ولې د افغانستان په شاوخوا تحولات عادي نه دي کېدای شي په دغه سیمه کې زیاتې مداخلې په ملتونو باندې زیات فشار راولي! په ړیمه درجه کې د ډېدخله قوي دولتونو

ناڅاپي اختلاف به د دغې سيمې په رابطه د نړۍ په ستراتيژۍ کي ژور بدلون راولي او هم کېداى شي خپله د دغسي اخ و ډبونو قرباني شي.

غرب، او په هو کمزورى احتمال چين او خپله روسيه په دې رابطه د امريکا سره يو د رېغ لري چي د يو د سياسي فعال اسلامي دولت د جوړيدو مخنيوي و کړي ولې کله چي د هغوى په گټو او سياستونو کي د تفاوت خبره پاتې شي نو کېداى شي اسلامي نړۍ د امريکا په مقابل کي د سيال بديل په جوړېدو کي د يو مساعد عامل په توگه تر هرڅا زيات رول ولوبوي څه د غه بديل په لړ اروپا کي وي او څه هم دغه بديل د افغانستان په پوله ولاړ چين او روسيه کي وي .

افغانستان د يوې عملي تجربې په حيث او پاکستان په اوس وخت کي د يو قوي تجربه لرونکي فوځ له مخې او په دې لحاظ چي پاکستان يوازنى اسلامي هيواد دى چي اتومي پخي تجربي يې ترسر منزل ورسولې او ايران په فرهنگي او مادي لحاظه د يو غني هيواد په توگه د غو دريو اړو هيوادونو کولاى شول چي په لومړي سر کي د يوسيمه ييز قدرت او په دويمه درجه کي د غرب د خپل سرى ليپارد د يو سياسي پاټک تر پولو جوړولو امکان راخپل کړي و ولې د يوې خوا د اقليتونو په وياخته ملتونه او د بلې خوا د فقر په کمر د ولاړ افغانستان او پاکستان به د ضروري گامونو په اخستلو

Ketabton.com

کې په کومه اقتصادي ژوندۍ پروژه د تګ کولو چانس پیدا کړي؟

دغه سیمه د همدغسې هوابتکار فرصت لري ولې د طبیعي منابعو په دې کنکل حالت کې هغه د ځان په نسبت د قوي چین او قوي هند او نیمه قوي روسیې ترځنګ څه کولای شي.

غرب د دغې سیمې روابط پوره څاري او داسې یې دغه سیمه د عربانو د توجه نه لرې وغورځوله چې خوارکي عربان کېدای شي شل کاله وروسته هم په دې پوه نه شي چې د اسلامي تحریک د بد نامي شاته اصلا همدا خبره پرته وه چې دغه سیمه له بنیاده د عربي نړۍ له ملتونو نه وشلوي.

امریکا او غرب غوښتل چې مجاهد افغانستان د عربي نړۍ نه وشلوي او هغوی په دې پروګرام کې داسې کامیاب شول چې د پښتو په زړه کړه د مصروف عرب نه یې خپله عربي هم هېره کړه.

که په افغانستان کې د فرانسویانو مغرضانه سیاست او د المانیانو سوړ او خنثی سیاست د اروپا د ګډ سیاست مخه نوي پرې کړې نن به د شوروي له جنګه فارغ افغانستان د افراطي امریکا په خلاف د عربي دنیا د معتدلو سیاستونو د کمزورو حکومتونو لپاره لکه د ایران درش بندي دروازې پرانستي وې.


ACKU

Ketabton.com



Ketabton.com

66972





Ketabton.com

دریم فصل

# روسیه او د شمال جمهوریتونه

د روسیې کمونستو واکمنانو د امیر امان الله خان په ناکامه تېښته د خپل کمزوري ګاونډي افغانستان په باب د بې سابقې اوږدې حوصلې نه کار واخیست.

په داسې حال کې چې روسانو په ډېر لرې ماحول کې د کمونیزم لپاره د روسي پالل شوېو په وسیله په خونړیو کودتاو لاس پورې کړي و، افغانستان نسبتاً د ډېر باثباته اوضاع نه په دې رابطې برخمن و.

د دې عامل کېدای شي دا هم وچې روسانو د امان الله د ناکامي وروسته غوښتل داخل په دې هېواد کې پوخ قدم پورته کړي او خپل سري د مقابلې د پړاو په حد کې تربېه کړي.

Ketabton.com

په داسي حال کې چي په نژدې کرښه بې چين، عراق او هند راخپل کړي وو په ایران کې بې پلوېان په فکري او سیاسي لحاظ د امریکا د لومړي درجه پلوي پهلوي رضا شاه رژیم ځوځله وجړ قاو د دا پوازې د حواد ثو نه په امن کې پاتې نژدې افغانستان وچې د بلا په پنجو کې بې دناولبو کودتاو گوښي ژوند کاوه .

روسانو که له بوې خوا د ظاهرشاه د رژیم سره د پتو معاهدو له مخې دد غه هیواد اقتصادي پروگرام پخپل انحصار کې ساتلی و له بلې خوا بې تعلیمي اونظامي (عسکري) اداري د خپلو پلوبانو ډکې کړې وې که د موسی شفیق فعال تحرک او په پوهنتوني سطح د مسلمانانو ورځ په ورځ زیاتېدونکي محبوبېت روسان مخکې له وخته نه وارخطا کړی نو د ظاهرشاه رژیم هغه څه چي د شوروي لپارد په کم مصرف اجراء کړل یا یې مفت ورته کول د روسي پلوبو رژیمونو (داؤد خان ،ترد کي...) بوهم دافغانستان تر نامه لاندې هغه روسيي ته وړاندی نشوای کړل چې د ظاهر شاه رژیم مفت ورته کول بلکي کود تا یې اندېوالانو خو د نړی قدرتمن شوروي په هغه توپاني پړاو ورگډ کړ چي نور پکې د شوراگانو هېواد هم مخ اوشاته د تگ لاره ورکه کړه .

Ketabton.com

روسانو د داود خان په ناراضه کولو په افغانستان کې خپل ټول پټ او ښکاره کړی کار په مخاطره کې وغورځاوه او دا دروسانو لویه غلطي وه چې هغوی فکر وکړ د ثور د کودتا لپاره استخدام شوي کمونستان به په افغانستان کې د داود خان ځای ډک او د روس په گټیه به داسې قدم پورته کړي چې نور به د بلوچستان په سوزنده صحرا کې د سایبریا د کنگلو راورل شوې لمنځی د هند سمندر سره د یېږیو خبرې کوي .

روسانو د ثور کودتا په لومړیو مباشتو کې دا درک کړه چې دهغوی پورته کړی گام دخام راپور او خام تدبیر له مخې پورته شوی ولې د هغوي د سرې کودتا په مقابل کې عکس العمل دومره ځوان شوی و چې په دې رابطه د شاتگ هر تدبیر د پورد ماتې معنالرله او روسان یې په افغانستان کې په لابد موقعیت کې غورځول .

د کریملن واکمنانو وغوښتل چې د افغاني کمونستانو روحیه اوچته کړي او هغوی د وېتنام په شان د روسیې د نظامي همکارۍ له مخې د مجاهدینو مخې ته ټینگ کړي خو افغاني کمونستان پوهیدل چې هغوي په وېتنام کې نه دي هغوي د افغانستان په مذهبي ټولنه کې د نه ستنېدونکي غبرگون خولې ته دربدلي له

Ketabton.com

همدې ځایه روسان مجبور شول چې افغاني کمونستان نامراده نکړي ولې ښايي داد هغوی په فکر کې هم نه وه چې دافغاني کمونست ضد پوره کول به هغوی د شوروی سره پوخ دماتې ذلت او دېرې ورې شوروي اتحاد سیاسي کنډوالو ته کښېنوي .

د ۱۳۵۹ کال په پای کې روسان د همدغسې راتلونکې بیم واخستل او له همدې ځایه هغوی د سیاسي مذاکراتو باب فعال پرانست خو د سیاسي مذاکراتو باب خپله د روسانو بین المللي مخالفین په دې پوه کړل چې کیدای شي د ویتنام دانتقام ښه فرصت په همدې افغانستان کې برابر شي .

روسانو په بین المللي سطح له خپلو مخالفو سره د معاملې ډیرې لارې ولټولې او خپل کمونست افغاني اندیوالان یې لسهاو تنازلونو ته اړ ایستل ولې د پیل شوي مقاومت مخه نه د غه نړیوالو تعاملو او نه هم دغه ملي تنازلونو بند ولې شوه .

د روسي واکمنانو هغه بار چې د امریکا د امپریالیزم په مقابله کې یې په اوږو اخستی ؤ هغه په ملي او بین المللي سطح د قضایاو په کشمکش کې د روسي کمونیزم د توان نه ځوبرابر د زیات شوی و د افغانستان غونډي د یو غرنی هیواد او مذهبي ملت پراخ مقاومت چې شاته یې بین المللي ممتاز حمایت راخپل کړی و د

روسي واکمنانو نه لوري لودن ورک کړ، له همدي ځایه دافغانستان حوادثو په روسانو د شاتګ لارهم ورکه کړه او دغسې فضا په روسیه کې د واکمن ګروپ اختلافات ورځ په ورځ زیاتول او څو مرده چې اختلافات زیاتېدل راليږلې پوځ په هماغه اندازه روحیه له لاسه ورکوله.

د ګورباچوف روسيي ډېره هڅه وکړه چې خپل جنوب ګاونډی افغانستان بیرته د ظاهرشاه د وخت په شرایطو ومني چې هغه ددې پېيل کړې جګړې له باره سپکه کړې ولې روسانو د خبرې کولو جهت هم نه پيژانده .

روسانو د همدغسې ورځي له وېرې په مجاهدینو کي د دوستۍ مزي وغزول چې که کمونست افغانان په شا شي چې د هغوی په ځاي راتلونکي فاتحین خو د مخې د روس سره د هر طرفه دښمني پر کربنه ولاړ نه وی دهمدې ځایه روسانو د ۱۳۶۱ کال په سر کي د ځینو مجاهدینو سره اړیکي پیدا کړې چې همدا اړیکي د کابل د سقوط په مهال د هر بل داسي نظام لپاره بنیادشو چې هغه خپله د سیمي او نړۍ د مهمو دولتونو لپاره د شک ځای و .

روسان که زمونږ سر سختي دښمنان دي خو هغوی خپل ملګري په سختۍ کې نه پرېږدي که دافغاني کمونستانو د حمایې

په قمار کې روسي کمونستانو ټول شوروي د هغوي پر سر برباد کړ له بلې خوا هېڅ دامریکا سره دا ضد ترسره کېږي چې د کمونستانو له لاسه وتلی کابل ئی بیا هم دداسي چا په لاس کي ورکړي چې تر هرچا بېي د روسانو سره اړیکې ښې او ژورې وي.

که وخت په همدي جهت کې روان و او امریکا همداسې په مسلمانانو پسې راخستي وي نو دا بعیده مه ګڼئ چې د بو ویشتمي پیړۍ په سر کې لکه د شلمې پېړۍ د پیل په شان دا ځل اسلامي نړۍ دانګلیس پر ځای د امریکا پر ضد د روسانو تر خوا راټوله شي.

که روسان په اقتصادي لحاظ لږ هوساوالی نو دغسې شرایط په خپله د هغوی په ګټه روان دي.

په عراق او فلسطین کې د امریکا سیاست نور حتی په عربي نړۍ کې دامریکا دنوکرانو لپارد هم د توجیه او زغملو وړ نه دی امریکا هم چې ویني هېوادونو د تیښتي ځای ورک کړی دد نیا لوی او واړه هېوادونه په لویو او ورو قضاياو کې تر کوره تعقیبوي.

روسانو د اسلامي بنیادګرایی مخه په افغانستان کي تر یوه حده ونیوله او کبدای شي د وخت په تیرېدو حالات نور هم ځنډني

شي ځکه چې همدا اوس د روسانو پلوي ګوندونه هڅه کوي د امریکا اعتماد لاس ته راوړي په داسي حال کې چې د جهاد د دوران ځینې نور بیا هڅه کوي چې د روسانو په خوا کې د تېکې ځای پیدا کړي.

روسانو په ډېرو هېوادو کي خپل موثریت له لاسه ورکړ بلکې د شوروي په انحلال نور هغوی ته څه پاتې نشول ولې په افغانستان کې د هغوی سیاسي او نظامي نېمژواندی حضور د یادونې وړ دی اودا په دې خاطر کوي چې د افغانستان د شمال هېوادونو د بیا لاندې کولو خبره هغوي د حالاتو د ښه کېدو په صورت کې د بوي ورځې کار ګڼي.

له همدې ځایه روسان هڅه کوي هغه افغانستان چې روس هر څه د هغه په خاطر بایللي دي بوازې هغه تر ډېره حده د هغوی په ګروت کې پاتې شي.

روسان په داسي حال کې چې له ایران سره ښې اړیکې لري په دې پوهېږي چې په افغانستان کې د هغوی یو کمزوری موجودیت هم هغوی ته د منځنۍ آسیا د کنګل ماتولو په ارتباط ښه او اسانه فرصت خوندي ساتي.

د پلټسن روسیه ښایي په دې حساب وکړي چې نړې د

امریکا د سر اخستي سیاست سره د فاصلې په حال کې دداو د
مهاجم شوروي د لښکرو ماتیدل به نړۍ د روسانو نه د بې ځایه
وېرې پر ځای هغوي ته زیاته نژدې کړي د همدغسې احتمالي
راتلونکي په خاطر افغانستان بو طرفه له لاسه نه ورکوي چې هغه
د غني منځنۍ آسیا لپاره د دیوال حیثیت لري .

په هر صورت که څه هم د مناسب بدیل په لټه کې روسان په
افغانستان کې د خپل هر غرورنه تېر شول ولې بیا هم هغوی په
افغانستان باندې د یر حساب کوي او د دې جدي هڅه کوي چې
هغه نور د دې نه زیات د روس پر ضد د روسانو د دښمنانو له خوا
فعال نه شي او کېدای شي د مسعود افغانستان د ځان لپاره په دې
خاطر هم بود نیمه فتح وګڼي چې هغه تر اوسه د ایران او پاکستان
سره د روس په اندازه د روابطو تود ماحول نه دی جوړ کړی بلکې له
پاکستان سره خو عملا په اختلاف اخته دی.

دا کېدای شي چې د حزب اسلامي له خوا د مسعود د نظام پر ضد
فعال جنګ مسعود تر ډیره د پاکستان پر ضد حساس کړی وي ولې
په دې رابطه چې تر کابل د فتحې وروسته راغلی نظام په حقیقت
کې د پاکستان د سیاسي همکارۍ لاس راوړی نظام و او په هغه
کې تر هر چا استاد رباني او انجنیر احمد شاه مسعود ښه

Ketabton.com

موقعیتونه راخپل کړل، دې خبرې دا ایجابوله چې د استاد رباني حکومت باید د یوې داسې ډیپلوماسۍ له مخې د پاکستان سره د جوړښت او تفاهم لاره غوره کړي وه، نه هغه چې ونیول شوه، له همدې ځایه د غه دوه احسان کوونکي یخپلو کې داسې سره ولویدل چې نن دواړو یکې د تفاهم ژبه ورکه کړې ده بلکې خپله انجنیر احمد شاه مسعود او د هغه ګروپ کله کله د نیمږواندي تفاهم زمینې هم نه شي زغملی.

روسان ښایې د غه حالت د ځان لپاره د شرمیدلې ماتې شاته یو فتح وګڼي چې نن د کمونستانو په ځای هغوی د پاکستان سره د کلمې او جهاد شریک ملګري د جنګ پر کرښه د رولې او د اقناعت ورځ په ورځ له هغوي سره د حوادثو په لړ کې ژور او پراخیږي.

څومره چې امریکا د اسلامي فتحې په مهال د افغانستان شرایط په افغانستان کې د یو پاک او مطمئن اسلامي حکومت د جوړیدو څخه مخکې بدل او هغوی د یو غښتلي اسلامي افغانستان مخه یرې کړه روسانو هم په ماته ملا بلا وکړه چې په افغانستان کې یې د اسلامي او امریکایي دواړو نظامونو د راتګ مخه بنده وساتله.

که څه هم روسیې او امریکا په افغانستان کې د اسلامي ډلو او په سیمه کې د سیاسي اسلام د خپریدو د مخنیوي په رابطه یو د بل سره پوره همکاري وکړه خو په دې رابطه افغاني کمونستانو هغه ضد ترسره کړ چې که د هغوی راغلی رژیم له پښو ولویږ خو د نورو لپاره یې هغه سرخوږي پیدا کړ چې تر نن پورې د جبهې شاته او مخ ته هغوی د نوي جنګ او د جنګ د نوي پړاو لپاره پروګرام جوړوي ولې په افغانستان کې د طالب د مزار فتحې روس او امریکا دواړه غبرګ د یو بل افراطي اسلام د خطر په کرښه ودرول.

امریکا طالب ته د اسامه په پلمه نوی جنجال مخ ته کیښود او د بلې خواې له دې فتحې وروسته خپل روابط له ایران سره د نږدې کولو په جهت کې وغورځول ولې روسانو له یوه پلوه په ډیره جدي توګه د طالب مخالفینو ته د کومک ډاډ ورکړ او د بلې خواې د پخواني شوروي نه په شکیدلیو ملګرو رژیمونو باندې له سره لاس تیر کړ.

روسان ښه چانس په دې خاطر لري چې د افغانستان په شمال (منځنۍ آسیا) کې د هغوی پخواني ګوډاګیان لا مسلط دي او هغوي د هر اسلام نه (د مجاهد اسلام وي که د طالب اسلام)

Ketabton.com

زياته وېره لري او د همدې ځايه هغوی په نژدې ګاونډ کې د تيښتې ځای له مسکو پرته بل نلري نوځکه روسان په ډېره آسانۍ د دغسې سېمې حکومتونه د ځان ترڅنګ درولايشي .

کوم رول چي په دې رابطه دازبکستان رژيم لوبوی هغه د روسانو لپاره په دې وخت کې د حساب خبره ده .

روسان هڅه کوي چې له يوې خوا په افغانستان کې استقرار رانه شي چې به دې توګه په کورني جنګ کې اخته افغانستان په منځنۍ آسيا کې د کار نه د ځان په خوړ مصروف وي .

همداسي روسان کېدای شي هڅه وکړي چي د شمال کمونستي رژيمونه دافغانستان دشمال اقليتونه سره د قومي بنياد له مخې په يومحلي اخ و ډب کي د مصروف ساتلو له لپارې هغوی د يو متحد افغانستان سره د رابطې او پېوند نه غافل کړی ترڅو دغه قومي لاينحل مشکل پر افغانستان باندي خپل منفي اثرات پرېږدي او د شمال رژيمونه دافغانستان د حالاتو نه متاثر نه شي.

په افغانستان کې روان اخ و ډب روسانو د خپلو افغاني کمونستانو په ابتکار رامنځ ته کړی ترڅو له يوې خوا د مجاهدينو او يا مجاهدا و طالب نه د متحد شوي حکومت مخنيوی وکړي اوله بلي خوا دغه اخ و ډب د افغانستان د کمونستانو په لاس کې

د هغوی د بالواسطه فعال موجودیت تسلسل خوندي کړي.

څومره چې دافغانستان په داخل کې جګړې او جنګونه دوام کوي په همغه اندازه به د منځنی آسیا کمونست رژیمونه په امن کې ژوند کوي او د ملیتونو عقیدت او رابطه به یې له افغانستا سره صدمه وینې

د منځنی اسیا رژیمونه د میزپر سر د پکې د باد په وړاندې واقع کاغذي پانو ته ورته دي ولې په افغانستان کې کورنی بدغونې جنګ دی چې د سرمیزې ډبرې په شان د هغو د خوړیدو نه مخنیوی کوي.

که څه هم په افغانستان کې د پرامریکا پلوی رژیم سرمنزل ته د امریکا څو پړاوېزه هلو ځلو کار چې هغه پخپل وار په اوس وخت کې به منځنی اسیا کې د عاجل بدلون غوښتونکی نه دی هغه به په پوه مرحله کې د منځنی اسیا د دغو رژیمونو تغر ورټول کړي، ولې دامریکا دغه مصروفیت د بلې خوا د منځنی اسیا کمونستي رژیمونو ته دا فرصت ورکړی دی ولې بیا هم د مود د لویدلي شرقي کمونستان لا اوس هم د کرملن د غلامی د دوران د چړچر په یاد وروستی وفاداري ښیي.

روسان د محمد غنی جذبې نه په استفاده غوا ړي افغانستان

Ketabton.com

همداسې غیر فعال وساتي او هلته د هر مسلط نظام د راتګ په ځای یوه داسې فعاله جبهه ژوندۍ وساتي چې له یوې خوا په افغانستان کې د اسلامي نظام او ورسره جوخت امریکايي نظام د واړو مخنیوی وکړي او له بلې خوا د افغانستان په شمال کې د کمونست شوروي پاتې بقایا د خپل جنوب متحرک ګاونډي افغانستان نه همداسې خوندي پاتې شي.

که څه هم د یلتسن (اوس د پوتین) د روسیې په متنو کې نور دومره شیمه نه ده د پاتې چې خپله پاتې روسیه په پتمن ډول سمبال کړي د همدې نقطې په درک امریکا نن په نړیوالو قضایاو کې د روسانو مخالفت په ډېره سپکه تیره تلي، ولې ترکومه چې لا د شوروي د هیبتناک رژیم په سقوط دومره وخت نه دی تیر شوی د شوروي د عظمت د ورځو په ماتوشویو پنجو کې لا دومره متره شته چې د افغانستان زاړه زخم ته یوه نیمه پوري مالګه د څو رژیمونو اخوا ور ودوروي او دا هم په دې باطل امید که لویدلې روسیه سبا بیا په پښو د ریدو شي نوچې په دې سیمه کې بې د نوې اوضاع د راتلو مخنیوی تر یوه حده کړی وي.

روسان له افغانستان سره پخپله زړه دوستي ولاړ دي او غواړي چې د غه په تجاوز ولاړه دوستي همداسې د نیمه او بالواسطه تجاوز

د لارې ژوندی وساتي ترڅو د روس په نژدې پولو کي نوري وېدې بلاوي وخت پیدا نکړي . له همدې ځایه روسان د استاد رباني په حکومت او د احمد شاه مسعود په جنګونو ډېر حساب کوي او هغه په همدغه حد کې چې د هغوی دغه ناکام مصروفیت په منځنۍ اسیا کې د موجوده حالت د دوام لپاره کامیاب قدم وېني.

روسي کمونستان په ډېره آسانۍ د خپلو اوپا کلنو فکري محورونو نه چې روس بې په نړۍ کې د دویم نړېوال قدرت په توګه مطرح کړی و لاس واخیست خو هغوی بلا کوي چې په دې لوی په شاتګ کې بیا هم د افغانستان څخه لاس نه اخلي. بلکې غواړي اوسني وېجاړ افغانستان بیا هم د روس په ګټه یو فعال رول اجرا ء کړي چې هغه په منځنۍ آسیا کې د اسلامي اوامریکایي رژیمونو د مخامخ راتګ مخنیوی دي .

اسلام په افغانستان کې مخکې له دې چې یو مرکزي او په پښو ولاړ حکومت جوړ کړي د امریکا او غرب له خوا تر تهدېد او محاصرې لاندې راغی هغه په هیڅ صورت د روس لپاره چې خپله یې کمونیزم ته شا کړه دومره خطرناک نه دی لکه څومره چې د روسیې په شاوخوا کې د امریکا یې نظامونو د خطر خبره خطرناکه ده .

Ketabton.com

مسلمانانو په کمونیزم خپل زړه سوړ کړ او کمونیزم هم نور په روسیه کې په پخواني شکل د پاتې کېدو عوامل له لاسه ورکړي له همدې ځایه له کمونیزم سره د شدیدې دښمنۍ عامل خپله په روسیه کې هم خپل نامطلوب حالت وښود چې د غسې اوضاع کېدای شي د یوې د غسې ستراتیژۍ خبره په مخ کې راوړې چې که روسانو د خپلې غلطۍ اوماتې په منلو سره اسلام د دغې راغلې اوضاع په مخ کې د یوې باثباته کرښې په څیر خپل رول ته پرې ایښې وای هلته به روسانو لېدلي وای چې په نړۍ کې د سولې خبره خپله داخل د ناکام سوسیالیزم په ځای کامیاب اسلام راوړې وه او ددې ټوله خساره به هغه امپریالیزم ګالله چې هر چېرې د جنګ د دوړو شاته پټېدې چلوي.

روسانو د خپلې ناکامۍ او بدنامۍ غچ د خپلو محلي اندېوالانو په ذریعه د افغان ملت د مجاهدو ډلو نه په وخت واخیست، هلته چې د ژبې په محور تقسیم شوېو کمونستانو د قدرت په دروازه ولاړو هوسي مجاهدینو د جذابو راپورونو په لړ کې داسې یوې ګمراهۍ ته وسپارل چې نتیجه یې په افغانستان کې د مسلمان ملت ژېړ رنګي شود.

که افغاني کمونستانو د روسي کمونستانو په څېر له حوادثو

عبرت اخستي وای او د کمونیزم سر د یې هغه معامله کړې وای چې د پلتسن انډیوالانو ورسره وکړه او بیا هم افغاني مجاهدینو د افغاني کمونستانو په حد کې پخپل تعهد اوخبره د رېدلي وای نن به د اقبال په تعبير کابل د ټول آسیا د ثبات مرکز و ولې له بده مرغه چې دلته افغاني کمونستانو د پلتسن د انډیوالانو نه په زیاته سرتمبګې ژوند کاوه ځکه چې له یوې خوا عفو د اعلان شوې ود او له بلې خوا کمونیزم ته سپېتانه پخپل کور (مسکو) کې پیښه شوه له همدې ځایه که غلطي هر څومره لویه هم وي خو د اخستو فرصت خدای تر هغه هم لوی پیدا کړې روسي واکمنانو خپله غلطي واخستله او د راویړي او باکلن کمونیزم جنازه یې په حوصله خاورو ته وسپارله ولې ځني افغاني کمونستان د خپل قبائلي دود مطابق ضد اخستي ځان د روسانو نه هم د کمونیزم په موروثه کې اصیل ګني او ملت ته د راګرځېدلو ګود ر نه شي پیدا کولای.

د نجیب د مسلماني مکرر اعلان او بیا د هغه د نظام د سقوط وروسته او بیا د ټولو نه وروسته د مجاهدینو له خوا د عفوې د اعلان څخه وروسته څه پاتې دي چې کمونستان یې د روس لپاره عملي کړي او ولې په دغه ډول پخپل ملت کې د ځان د لرې کولو عملیه پخپله ژوندۍ ساتي.

Ketabton.com

داسې هم ندہ چې په ټوله نړۍ کې یوازې افغانان د کمونېزم د فکري څپې ښکار شول نژدې ایران کې ایراني کمونستان په خپله چې افغاني کمونستانو ته يې په کمونېزم کې څوکاله درس ورکولای شو ولې د ټولې نړۍ خاصتاً د اسلامي نړۍ زیات کمونست ځوانان په دې اعتراف کوي چې دا د وخت یو موج و هغوی پر خپله اشتباه اعتراف کوي دا به کوم ضد پورد کړي چې زمونږ د هیواد پروني غو لېدلي کمونستان همداسي چوپ پاتې دي یبا هم ځینې اوس هم پخپلو کمونستي گوندونو ویاړ کوي.

هغه ضد چې یکې د افتخار ځای وي تر سره کول یې یو هنر دی ولې د کمونېزم په شرمېدلو پسې دځان هسي تړل ان روسانو ته هم په زړه پورې نه دد.

منم چې د کمونېزم ځای په افغانستان کې یوه پتمن اسلامي نظام و نه نیوه ولې له یوې خوا باید خپله د خلق او پرچم پخواني غړي په دې پوه شي چې هیڅوک تر عفوې وروسته له هغوی سره د دښمنۍ خبره په مخ کې نه نیسي له همدې ځایه ډېر محدود حالتونه هم د انتقام ونه لېدل شول او دا په هغوي پوري په مربوط سرنوشت کې زمونږ د اسلامي انقلاب لوی مثبت ټکی دی.

راغلو د نظام خبري ته هغه پخپله دوي له هرچا نه زیات پوهیږي

چې په ملي او محلي بلکې په نړیواله سطح چې کومې توطئې په افغانستان کې د ګډوډۍ د کوربه کولو په جهت کي رواني دي هغه داسې عادي حالت هم نه دی چې یوطرفه یې څوک د مجاهدینو په سریو پورې وتړي خو ترکومه چې په بې طرفه قضاوت پورې مربوطه د د هغه داده چې د دغې ګډوډۍ مرکزي پړه پر مجاهدینو د ه او په مجاهدینو کې دهغوی پر مشرانو ولې دا په هیڅ صورت کې ددې معنا نه ورکوي چې افغاني کمونستان خپل تور تاریخ هیر کړي او بیا پخپلو کړو تویو وړپور ته شي.

روسان نن له هغې پرونۍ موضع نه چې د افغانستان د اشغال نه یې مخکې لرله ډیر لرې ولویدل او س نه دریمه نړۍ په هغوی کې هغه متره وینې چې پرون یې د هغې په اساس نننۍ امریکا ته په هر ځای کې د توقف کرښه ایستلای شود او نه هم په روسانو کې دهغسې منډې لپاره شبهه پاتې د ه چې پرون یې هسې واشنګټن ته د مقابلې پلمې لټولې.

روسان نن د پرون په نسبت ډیر بیچاره دي ولې ددې سره سره په افغانستان کې د هغوی د مقابلې سلسله هر اړخیزه ولې مړژواندې روانه ده .

لکه څنګه چې روسی فوځیانو دخپل مات شعور د پیوند په

خاطر د خپلو پوستو په دیوالونو د وتلو په مهال لیکلي وچې مونږ ولاړو خو دا ځکه به له تاسو افغانانو سره اته کاله جنګیږي. داسي د کریملین په میراث ناست جرقیدلي قبادت اوس هم غواړي دافغانستان په باب یو خوځنده ( فعال ) دریځ ولري دهمدې ځابه هغوی په افغانستان کې د راغلېو نظامونو سره د دوستۍ د پیوند تسلسل داسې وساته چي دمجاهدینو د فتحې څپانده توپان ونه شوای کولای په هغه کي وقفه راولي له همدې ځابه پاکستان او ایران دواړه چي د جهاد حامي هیوادونه دي د فتحې په دوران کې بیا هم دراغلي نظام سره د دوستۍ په کتار کې ځان د روسانو پسي واقع ویني اود همدي ځابه دغو هیوادونو کیدای شي عقده اخستي وي اوروان اخ وډب د دغي عقدې یو برخه وي .

روسیه دغسې بر افغانستان چې د هغه نه بې کاملا لاس وتی وي په هیڅ قیمت نه غواړي ، دهمدې ځابه دروس دماتې د دوران په سیاسي نوښتونو کې د مجاهدینو په منځ کې د پلوي طرف خبرد ډیره مخکې مطرح او دهغې په رابطه ډیر کار شوي و ، همدغه عامل دی چي نن روسیه دبل هر ځاي په نسبت په افغانستان کې د یو پلوي نظام د ساتلو په جهت کې تر ډیره کامیابه ده ځکه چي په دي رابطه بې له ډیر پخوا نه تدبیرونه تړلې دي.

Ketabton.com

روسان چې اوس د پر کمزوري شول نو ډېر هوښيار شول ولې دغه هوښياري به تر ډېره د روسانو په درد ونه خوږل شي ځکه روسان د امريکا د رول د کمزوري کولو په خاطر غواړي د پاکستان سره هم دوستانه روابط ولري مسکو ته د پاکستان د پخواني صدراعظم نواز شريف سفر او هلته د هغه تود استقبال دا ټول په سيمه کې د روس د حضور د موثر ثابتولو په خاطر د روسانو د انعطاف معقول نوښتونه او معقول خوځښتونه دي چې غواړي له دې لارې د افغانستان د شا وخوا حالات د هغوی د تېر گاونډيتوب په تسلسل کې خپل تحول او ثبات خوندي کړي.

د روسانو دغسې سيمه ييزې هلې ځلې او د روسانو بين المللي سياستونه ټول د افغانستان په موجوده او راتلونکي جريانات کې موثر رول لري له همدې ځايه د سولې او پوځي فتحې مکمل جريان په افغانستان کې د روسي نيمه نظامي او بشپړ سياسي حضور زند ولې او هيڅوک هم دې ټکي ته ځومرد چې واقعا لېدل کېږي متوجه نه دي.

روسان هڅه کوي چې په هر ډول د افغانستان د نظام سره خپل پخواني تسلسل وساتي او دلته بو روسي ضد نظام را منځ ته نه شي او په هغه صورت کې چې شرايط په بله ولاړ شي او هغوي

ACKU

Ketabton.com

دخپل دې هدف په رابطه مايوس شي نو کېدای شي د تجزيې خبره په افغانستان باندې تحميل کړي او دهمدغسې يوې سراتيژۍ لپاره روسانو په افغانستان کې مقدماتي قدمونه مخکې له مخکي اخستي هم دي.

که څه هم د وخت تېرېدو وښودله چې د روسانو سره به دافغانانو هغه پخوانۍ کرکه پاتې نه شي او د وخت په تېرېدو او دنورو هيوادونو مداخلي به په کرار کرار د دغه هيواد د خلکو ذهنيت د يو متوازن ماحول او روسانو سره د خپلو روابطو عادي کولو بلکې تر ښو اړيکو ساتلو پورې ځان عيار کړي خو په هغه صورت کې چې نژدې ماحول او نړۍ دافغانستان په خلکو دخپلې خوښې نظام تحميل نه کړي او روسان همداسې په يوه تجرېد شوې کرښه ود رېږي نو بيا به د تجزيې خبره ځکه لږه گرانه شي چې د افغانستان عام خلک او مليتونه دومره سره او بدل شوي چې دهغوي بېلول به آسانه خبره نه وي.

څنې په داخلي جنگونو او په جنگ کې په غير انساني اعمالو باندې استدلال کوي چې داخپله دتجزيې خواته بطي حرکت تقويه کوي ولې څوک چې دافغانستان دخلکو په رابطه ژوره مطالعه لري هغوي پوهيږي چې په جنگ او مخالفت کې تشدد د هر افغان

Ketabton.com

طبيعي خصوصيت د ی دهمدې ځايه د سني اړخونو داخلي جګړې او د شيعه اړخونو داخلي جګړې پخپل منځ کې د هغو جګړو په نسبت څو برابره بدغوني وي چې د سني او شيعه ډلو ترمنځ پيښيږي، همداسې خپله د پښتنو او تاجکو داخلي اختلافات هماغه بڼه لري چې کله کله د پښتون او تاجک تر منځ پېښيږي. د همدې ځايه د روسانو د تجزيې، پروګرام پای ناکام او کبدای شي په هغه وخت کې روسيه په افغانستان کې د بوه متفاهم افغانستان ټولې زمينې له لاسه ورکړي او هلته به روسان هم د افغانانو په شان د داودخان د حکومت د تسلسل په يادخاورې پر سر باد کړي

يوځه چې په پای کې يې يادونه ضروري ده هغه داده چې د کمونيزم د جابرانه نظام نه د روسانو ابتکار او عظمت غوښتنې ډيرې صدمې هم ليدلي ولې د قوي روس او لوي شوروي بين المللي وجاهتونه به د روسيې راتلونکي نسلونه د هماغه پخوانيو سياستونو پسې دوباره وتمړي چې په دې لحاظ د روسانو لپاره پوره حساب کول په کار دی او پخپله افغانان بايد په دې محاسبه کې دخپل هيواد او ملت راتلونکي په هغه ليکه وربرابر نکړي چې

شمال کې بيا د يوې قوي روسيې حضور د هغوی له ستر ګو نه خوب و تښتوي.

Ketabton.com

## د منځنۍ آسیا هیوادونه:

ترکومه چې د منځنۍ د آسیا هیوادونو په ملتونو پورې اړه لري نو د افغان مجاهد ستوماني او د افغان شهید سلګیو خپل مطلوب رنګ راووړ هلته چې پرون د غو تیولو د افغانستان د آزادۍ سره تړلي، د دغو مذهب او تاریخ شریکه ورونو ملتونو آزادۍ ته خپله وینه شریکه ورکوله .

دغه ملتونه که د داخلي تحول سربېره او خپلو اکه لار را خپله کړي کېدای شي په راتلونکي کې د هغه افغانستان قیمت او دوستي هېر د نکړي چې د روس له خوا په قفس کې اچول شوي ملتونه یې له قربانۍ پرته مفت د آزاد او تاریخي خراسان په څنډو شنه کړل .

د منځنۍ آسیا ملیتونه د ومرد ځپل شوي چې په روسیه کې د کمونیزم په هغو سرو کدرونو کې د پراخ بدلون سره سرد په دغو هیوادونو کې د زوړ شوروي اتحاد هغه غلام صفته شخصیتونه پخپل ځای امانت پاتې شول پرته لدې چې د نوی اوضاع په پای کې هلته یو نیمه نوی نظام را منځ ته شي .

د همدې ناولو زړو نظامونو موجودیت دې چې د دغو ملتونو

روابط يې په خپل منځ کې او بيا د دغو ټولو اړيکې او روابط يې د اسلامي افغانستان سره په مذهبي او قومي لحاظ کنګل ( بې روحه ) ساتلي دي.

د منځنۍ آسيا ځيني ملتونه د خپل تېر علمي او مذهبي ژور کردار له مخې د افغانستان د ملت په زړه کې ډير لوړ مقام لري.

له همدې ځايه زمونږ رومبنيو په بخارا ته بخاراي شريف ويلې او کومه رابطه چې زمونږ خلکو د دغو هيوادونو سره درلود له هغه د ايران په نسبت لس برابره د ورورۍ او برابرۍ رابطه وه بلکې د افغانستان په زياتو سيمو کې داسې علمي کورنۍ شته چې د شمال نه په پخوا زمانو کې افغانستان ته راغلي او تر اوسه دلته د عزت ژوند لري. همدا وجه ده چې د معاصر افغانستان جنجالونه د شمال سره ډير کم او هغه هم څو ځل هم چې احمدشاه بابا شمال خوا ته فاتح سفر درلود هغه يې هم د يوه روحاني سوغات په اخستلو يوې تلپاتې متارکې ته وسپارد.

که څه هم پر امان الله خان او نادرخان باندې د وخت د تزاريانو فشار هغوی دواړه د دغې سيمې له خلکو سره پر يوې د غسې جفاء مجبور کړل چې نه د افغان ملت د غرور سره سرخوري او نه هم زمونږ د دغو په وينه او مذهب شريکه ورونو د حق او پاس سره

ولې د ۱۳۵۷ کال مقاومت چې د ېو نيم مليون افغاني سرونو په قرباني ددغو عزيزانو د استقلال په سرمنزل برسېره ېي دمقاومت څپه د چيچين تر پولو ورسوله زمونږ ملت د اسلامي همدردۍ په رابطه دنادرخان ټوله جفا تلافي او داسې باېد هغوی ددغه افغان مجاهد د توري شرنګ ته ترمرګه په هغه درنه وګوري چې د ګاوندي توب او وروري حق ېي غواري.

ترکومه چې دافغانستان په اوسنۍ اوضاع پوري مربوطه دد هغه خپله ددغو نوېو آزادو شوېو هيوادونو ابتداېي او په عين حال کې د سابقه کمونست مشربه رجالو په لاس کې په لويدلو نظامونو پوري اړه لرې چي هغه د شوروي اتحاد سره د تېر لوېدلي تعامل د روحيې له مخې ذ سېمي د ملتونو سره د قومي بنېاد او نه هم د مذهب په بنباد د غېږېدو توان لري بلکې د غو ټولو نظامونو د ترکمنستان له نظام پرته د روسانو سره دمذهبي نظام اومذهبي روحيې په وېره کې شرېک او ددې په ځای چې هغوي خپله راتلونکې دهغه روسي استعمار ګرانو د تېرو مظالمو نه په عبرت اخېستلو روسانو سره دخپلو پولو ساتلو ته واړوي د هغوی ټوله توجه هغه افغانستان ته ددچې دوی ېې د قربانۍ له خبرا ته دنظامونو او آزادۍ خاوندان شول

د شوروي تر سقوط وروسته دغه نظامونه په سېمه کې په دوه جهتونو کې مصروف دي

اول دا چې هغوی په دې خاطر چې د پروني شوروي په سېوري کې یې د روسانو سره د ګډ کلتور زمينه پيدا کړې د بېګانګۍ احساس نلري د خپل قوي ګاونډي څنګ کې د بدیل فکر د هغوی لپاره اصلاً د قناعت وړ نه دی له همدې ځایه فکر کوي چې د روسيې لوېدل به ډېر وخت ونه نيسي په دې اساس غواړي چې د تکړ پر ځای د هغې سره په سوله کې ژوند وکړي او د بلې خوا دا هماغه پروني روسان دي چې د دغو غلامو رجالو لپاره یې پخپلو هېوادونو کې د سیاست او حکومت کولو زمينه پيدا کړه ځکه غېر لدې څخه ملتونه د هغوی د پروني ظلم او غلامۍ پر ضد راپورته کېږي دا خو په ځای پرېږده چې د مذهبي موج اخستي افغانستان او ایران غوندې ګاونډیانو په منځ کې د هغوی د بقا، چانس د همدغو روسانو پورې تړل شوي چې دوی ئي حمایه کوي.

د همدې ځایه په لږ تفاوت دغه ټول رژیمونه لاتر اوسه د روسیې سره په سرنوشت کې شریک او هغوی ټولو د روسي کرېملین د رشل ته تکیه کړې هیله کوي چې د جنوب د «شمال» نه به د هغوی شمالي ګاونډي هغوی خوندي وساتي.

دویم دغه هېوادونه له آزادۍ وروسته غواړي د بهرنۍ نړۍ سره هم خپل روابط جوړ کړي او دهغه پخواني تنګ ماحول نه په تدریج واوځي ولې دهغوی په لارکې د همکارۍ او ارتباط لپاره بلا جهتونه کار کوي چې هغوی په دویمه درجه کې د روسانو نه وروسته غواړي د یو دفېل ( شوروي اتحاد ) د لکۍ په شکېدو د بل فیل ( امریکا ) لکي ونیسي د همدې ځایه هغوی د ایران خلیج او ان افغانستان سره د پرمخ تللو روابطو نه ډډه کوي بلکې دغو ټولو هڅو ته په شک ګوري. د منځنۍ آسیا زیات رژیمونه د زمانې د رفتار سره جوخت غواړي چې خپل سیاست او روابط د خپل ولي نعمت روسانو او په دویمه درجه کې د امریکا د خوښۍ په حد کې عیار کړي د همدې ځایه د افغانستان حالات د ځان په ګټه نه بولي او د ایران هڅو ته هم په شک ګوري.

که څه هم امریکا فطرتاً د دغو ستبود عمل او موجودیت سره جوړه نه دده ولې په سیمه کې د مسلمانانو ( ایران او افغانستان ) د فعالیت د مخنیوي په خاطر غواړي هغوی راضي وساتي او په دې سیمه کې نورد بي ثباتي رامنځ ته نکړي.

د دغي سیمې هېوادونه یا په مطلبي ډول نظامونه د ټینګیدو په صورت کې کیدای شي د روسانو او یا امریکائیانو په ګټه په

Ketabton.com

راتلونکې کې زیات موثر کردار اجراء کړي اومنځنۍ آسیا چې په تاریخي لحاظ یوه اسلامي ژوندۍ سیمه ده د همداسې پټه په پټ کله د امریکا او کله د روس مشترکو ګټو او کله هم چې وخت یې راشي د یو طرف په ګټه موضع ونیسي.

منځنۍ آسیا د څو لحاظه خلیج ته ورته ده او په دې لحاظ کیدای شي په افغانستان کې په اوسنیو شرایطو کې د یو مرکزي نظام د شکل او لوري په ارتباط جانبي اخ و ډب د ځان سره ولري.

لومړي داچې داسیمه یوه غني سیمه ده ، کیدای شي د څه وخت لپاره د اقتصادي او سیاسي ګټو د پورته کولو تود د صحنه شي او څنګه چې افغانستان د هغو په ګاونډاو لار ه کې واقع دی د سیمې او نړۍ هیوادونه به د همدې ځایه زمونږ د ځپلي هیواد لپاره نور کارهم وګوري اوهغه به د ځپلو ګټو لپارد ،استخدام کړي.

دویم دا چې د غه سیمه د اروپا په لورد دروازې حیثیت لري او همداسې د غرب اوشرق په منځ کې د یو ارتباطي پله حیثیت لري د همدې ځایه به دا سیمه د اروپائیانو له نظره داسې لوېدلې پاتې نه شي څکه خو اروپا ( ټول غرب ) په اوس وخت کې د دغسې سیمې شمال کې د البانیا او یو ګوسلوایا ؛ په یوه تصفیه بوخت دي .

کېدای شي دویم قدم کار یې له همدې ځایه پیل شي .

د ریم دا چې دغه سېمه د بوې خوا بوه ژوره مذهبي او تاریخي سابقه لري او له بلې خوا هغه په کلي توګه د ترکانو سره هم د ګاونډ له مخې او هم د قومیت له مخې یو ډول پیوند لري چې همدا رابطه کېدای شي هغه د عثماني ترکانو د معادل رول د تکرار لپاره وکاروي.

غرب بناې د همدې ملحوظاتو له مخې وغواړي په دې سېمه کې یو بل اسرائېل شین کړي. په اوس وخت کې د ترکیې موجود د رژیم په دې ارتباط دغه رول اجراء کولای شي ، خو ترکېه او پاتې لوی ترکستانونه که کله د وحدت فرصت پیدا کړي بیا د دې خطر شته چې دا اسرائېل په هغو عثمانیانو بدل شي چې نن بیریدونکی غرب د هغوی د تیر فاتحانه ګوزار غچ د کوسووا د مظلومو مسلمانانو له خوارو بچو اخلي.

که روسانو دغه سېمې د اوږده پړاو په لړ کې د خپل کلچر او سېمه یېزو مقدسو رابطو نه لرې کړي نه وای نن به د دې سیمې مسلمانانو د راوینښې شوې اسلامي نړۍ بهېر د غرب په دروازه درولای وای خو د کریموف او رحمانوف نه ځکه د دې تمه نه ده په کار چې د دغې روحیې موسېنو په افغانستان کې د غربي نړۍ

ACKU

Ketabton.com

راغیر ګ شوی امتداد ( سیکولر نظام ) د فاتح کابل په پوله ودراوه.

که مسلمانانو ځان د یوه هېواد ، یوه ولایت یوې ولسوالۍ د تنګ ماحول نه لرې په بین المللي سطح تفاهم او تعاون ته وقف کړی وای نن به مونږ د بل هر ډېر والقدرت نه زیات د کار او تحرک زمېنې په لاس کې لرلې چې دد غو طلایي زمېنو له جملې نه خلیج ، منځنۍ ختیځ او منځنۍ اسیا هېوادونه دي ولې څوک نشته چې دغه ټول د اعتماد په ډېر ي سره وتړي .

مونږ که پرون د شوروي په ماتې خلیج او منځنۍ اسیا ، د مات شوروي او پاتې غربي نړۍ د پروګرام پر ضد د ځان سره ملګري کړي وو نن به په منځنۍ آسیا کې شلو نورو ویشو چیچینونو د نړۍ د ظالمانه روان نظام پر ضد محشر جوړ کړی و .

په داسې حال کې چې دا کار د محلي مصروفیت او حزبي تعصباتو له مخې له مونږ نه پاتې شو همدا نننی منځنۍ آسیا او مسلمانان یې کېدای شي په افغانستان او ایران کې د مذهبي روحیې د مخنیوي په جهت کې د بیګانه قدرتونو په درد وخوړل شي.

څومره چې د منځنۍ آسیا د هیوادونو مثبت دریځ د

Ketabton.com

افغانستان او سېمې په ګټه و همداسې ددې هېوادونو منفي درېځ به پخپل وار يو وخت د اوښېي چې مونږ پخپل لاس پخپل ګاونډ کې ځانته ازغي وکرل .

په داسي حال کې چې د دغو هېوادونو خلک او رژيمونه ټول په دې پوهيږي چې د هغوی استقلال او آزادي د افغانستان د خلکو د مذهبي هڅو محصول دی هغوی عمداً خپله د همدغو مذهبي فعالېتونو د مخنيوي په جهت کي کار کوي او ښايي ډېر کار وکړي.

دغه رژيمونه په هغو روابطو او مشترکاتو باندې خاورې اړوي چې د دغو هيوادونو ملتونه يې د افغانستان سرد وېنې او مذهب پر اساس لري ، ولې د روس د تېر اشغال غلامانه ژوند هغوی ته د روسانو سره د مداوم ارتباط لپارد هو مطلوب محور ښکاري له همدې ځايه په هغوی کې نه د روسانو د ژبې او نه هم د روسانو د کلچر په رابطه کوم عکس العمل لېدل کېږي په داسې حال کې چې هغوی د اسلامي فعالېتونو په رابطه ډېر حساس مخالف دي .

ددې پر ځای چې مونږ د تاجک ملېت د وېنې او عقېدوي ارتباط نه د هغوی په اسلامي کولو هڅه وکړو کېدای شي همدغه د کمونېزم بقايا په تاجکستان کې له بلې لارې وغواړي د

افغانستان مسلمانان پخپلو کې مصروف کړي.

همدا رابطه کېداي شي د ازبکستان په رابطه هم مطرح وي منتهي تاجک ملت نظر خپل مذهبي عمق ته په سېمه کې د ټولو ملېتونو په نسبت هغه موقعیت خوندي کړي او هغه د روسانو د اشغال په دوران کې د خپل مذهب سره ژوندۍ رابطه ساتلې او اوس هم هغه د نورو په نسبت خپل مسئولیت او لورۍ ښه پېژني د همدې ځایه خو د شوروي په سقوط د کمونېزم غلام رژیم ونشواې کولای چې د خلکو عکس العمل کنترول کړي که په افغانستان کې کورنۍ جنګ د دغو عزېزانو د کار مخنيوي نه واي کړی نن به رحمانوف او نورو اوفونو د دوی د مقاومت له برکته په بله د نباکي د پناه شپې تېرولې.

اېران او افغانستان چې د منځنۍ ختيځ او منځنۍ آسيا په منځ کې واقع هېوادونه دي دواړه کېداي شي د همدې دوو سېمو په منځ کې د ارتباط قوي مرکز جوړ شي دا چې اېران امریکا يې استعمار پخپل فرهنګي انقلاب تجربه او افغانستان پخپل مسلح جهاد روسي استعمار د ماتي سره مخامخ کړ دا دوه لوېې حادثې پخپل وار ښيي چې د غه دواړه سېمې څومره په اسانه نه شي خوړلای.

د همدغې اجراء کړې رول له مخې متفاهم افغانستان او ایران د موجوده رول لس برابره د سیمه ییز ثبات لپاره مفید واقع کیدل ولې له بده مرغه د همدې نه تفاهم له مخې افغانستان د یو مرکزي نظام په لارکې د سیمه ییزو ستراتیژیو د تحمیلي جنګونو سره منزل په منزل مخامخ کیږي او ایران د هغه سیمه ییز رول نه د یر لیرې واقع دی چې سیمه یې توقع لري.

افغانستان او ایران د منځنۍ اسیا د ملتونو سره د وینې او مذهب د مشترکاتو په بنا کولای شی داسي روابط ولري او که ضرورت شو داسې یو وحدت رامنځ ته کړي چې نور په کې د هر اجنبي قدرت د نفوذ لار ډب کړي خو متاسفانه چې په افغانستان کې لا یو منلي نظام نه دي راغلي او ایران د یود قوي افغانستان څخه بې ځایه ویره لري.

څو مره چې متفاهم افغانستان او ایران د منځنۍ آسیا په رابطه په سیمه کې د باثباته اوضاع لپاره مثبت رول اجراء کولای شي په هماغه پیمانه د منځنۍ آسیا هیوادونه که په همدې ډول ادامه ورکړي او یا د دې نه هم لږ په لویدلي شکل د بیګانه قدرتونو د لاس اله شي د بې ثباتې اوضاع په رابطه خطرناک رول اجرا کولای شي په دې رابطه هر مثبت قدم باید د ایران او افغانستان له خوا چې

د دغسې احتمال مخنیوی وکړي باید واخستل شي .

منځنۍ آسیا د شوروي په سقوط نړۍ ته د سیاسي او اقتصادي سیالیو یوه بله زمینه په لاس ورکړه چې د افغانستان او ایران د غفلت له مخې احتمال لري چې د دغې بې ثباته سیمې (منځنۍ آسیا ) په خاطر همدغه هیوادونه قرباني شي .

د سابقه شوروي وابسته رژیمونه د هغه ملي غرور نه برخمن نه دي چې دغې مهمې سیمې ته په ځان باندې د اتکاء او د اجنبي حضور سره د حساسیت له مخې د استقلال روحیه ورکړي او خپل مطلوب کردار د سیمې په رابطه سمبال کړي .

د همدې ځایه د دغې سیمې هیوادونه د یوې خوا پخپل منځ کې شکیدلې وضع لري هغه مشترک شي چې هغوي پخپلو کې سره وتړي هغه هماغه د زاړه مات شوروي په چوکاټ کې اخستې روحیه او پاتې نیمژواندي روابط دي.

د نړۍ مطرح قدرتونه غواړي د دغه هیوادونه د سیمې د محلي مطرح دولتونو ( ایران، ترکیه، افغانستان، پاکستان ) له اثراتو ګوښې وساتي لکه څنګه چې په دې هیوادونو کې پاتې رژیمونه دبلې خوا نظر خپل طبیعت ته غواړي ځان د سیمې د هیوادونو د اغیزې نه لرې وساتي.

Ketabton.com

ترهغې چې په افغانستان کې يو مرکزي نظام او هلته يو مستقر حکومت نه وي راغلې د دغو رژيمونو اړيکې او موجوديت د واړه د افغانستان لپاره په دې شرايطو کې په هغه مطلوب حد کې نه لېدل کېږي له همدې ځايه د سېمې زياتو رژيمونه د دوستۍ او وروری پر ځای د زاړه شوروي نه د ورپاتې روحيې له مخې د يو قدرتمند او ارام افغانستان نه زيات انديښنه لري ، بلکي هڅه کوي چې د بهرنيو قدرتونو د ستراتيژيکو اهدافو په جهت کې د افغانستان پر ضد په طرحه شوي پروګرام کې اساسي رول ولري. که څه هم په منځنۍ آسيا کې موجود رژيمونه د نورو د نظارت له مخې خپلې شپې سبا کوي ولې دا رژيمونه به ډېر ژر پخپلو کې سره مصروف شي چې د همدې ځايه په موجوده ترکيب کې د هغوی ښه روابط پخپلو کې د دښمنۍ د شرايطو په پرتله لاخطرناک دي او د دې خطرو لومړی باج به همدا ځپل شوی افغانستان ورکوي ځکه سوله يېزه سيمه زمونږ د بقا او استقرار لپاره د بل هرهيواد په نسبت زياته ضروري ښکاري.

بود باثباته منځنۍ آسيا چې د غلامۍ غړوندی په غاړه کې ولري هومره د افغانستان لپاره خطرناکه ده لکه بود بې ثباته منځنۍ آسيا.

Ketabton.com

په موجوده حالت کې چې دهغوی ثبات زمونږ په هېواد کې د مداخلو زمینه برابروي او خپل بد اثرات له وراپه ښېي سبا چې همدا سیمه پوه بې ثباتي واخلي بیا به د سیمه ېزو څپو په تل کې د کومې بي ثباتي باج پورد کوي ؟ !

وروستی خبر دچې تر ټولو مهمه دده منځی آسیا په رابطه باید د ایران ، پاکستان او افغانستان د دریو مسلمانو هېوادونو سیاستونه او ستراتیژی باید پخپلو کې د یو ډول تفاهم نه وتلي وي هغه مصارف او اندیښنې چې د یو بل درول د دردولو په خاطر مطرح دي هغه باید د همدغسې یو تفاهم او وحدت په لیارکي وي ځکه شته داسي بهرني جهتونه چې په همدې ساحه کې د همدې دریواړو هیوادونو په نسبت خور پروګرام لری او دهغه مخنیوي په یوازې سر د هرهېواد دوسی بهر خبردده .

ACKU

102U1



محترم نجیب الله رئیس جمهور افغانستان د رحال مصافحه با میخائیل سرگیوویچ گرباچف

Ketabton.com

10742





Ketabton.com

ثلورم فصل

# ایـــران

اېران زمونږ د هغو ګاونډيانو له جملې څخه دی چې هغه د روسي تزاريانو د استعماري جګړو نه ډېر د لوېه صدمه لېدلې هغه که د انګلېس استعمار د قوي ضربو له ضربې لکه څومره د چې افغان ملت وګاللې خوندې پاتې شوې ولې د شمال نه يې داسې مرګونی ګوزارونه خوړلي چې د خپلې خاورې زياتې حاصل خېزې سيمې يې له لاسه ورکړې دي .

اېران او افغانستان دواړه د وخت د سپالو ( رقيبو ) استعمارګرانو ( انګلېس او روس ) پر ضد ژوندی او فعال رول لوبولی ولی د بده مرغه د همدغو استعماري دولتونو د طرحو مطابق يې د خپل منځي روابطو په رابطه د خپلو کمزورو حکمرانانو د غلطو پاليسيو له امله د بې اعتمادی يو داوږد د مرحله هم لېدلې دہ چې همدغه د دښمن له خوا تحميلې بې اعتمادي په شمال کې روس ته او په جنوب کې انګلېس ته د بوې نيمې پېړۍ د آرامو اوسېدو فرصت ورکړ ځکه چې متفاهم یا

Ketabton.com

متحد افغانستان او ایران کولاي شول چې د هند او منځنۍ آسیا ملتونو کې هغه خوځښت او تحرک چې څو ځله د یو محلي حامي د کمبود له مخې ناکام شوېدي کولای شو خپل مطلوب منزل ته رسولای وای.

ایران له افغانستان سره اوږده پوله لري او ملت یې د افغانستان د خلکو سره ګډ تاریخ او د وېنې او مذهب مشترکات لري.

منتهي یوشی چې د غه ملتونه یې سره لرې کړي هغه په ایران کې د شیعه اکثریت او په افغانستان کې د سني اکثریت دی. د واړه هېوادونه د یوې مذهبي اجتماعي فلسفې له مخې په دې نه دي بریالي شوي چې د خپل اقلیت سره د تعامل یو واضح او عادلانه چوکاټ ولري چې دا قلیتونو د قناعت وړ شي

افغانستان د یو لړ مرحله یېزو تندو حوادثونه او خوا د خپل شیعه اقلیت سره د تعامل او تفاوت هغومره لوی خلیج نلري لکه څنګه چې یې په ایران کې اکثریت شیعه د خپل سني اقلیت سره لري.

د افغانستان او ایران دواړو شیعه مذهبه خلک په مرکزي سیمې کې مشته دي ولي د ایران شیعه مذهبه مرکزي کتلې

Ketabton.com

همېشه خپل سني مذهب اقليتونه د خپل موقعيت مطابق په سياسي ژوند کې هم څنډې ته ايستلي دي.

د افغانستان د خلکو له ايران سره د دښمنۍ روحيه کمزوري ده او له ايران سره يې د ګډوډېو په مراحلو کې داسې مهمې جګړې نه دي پيښې شوي.

هغه محدود حوادث چې د هوتکيانو په دوره کې په اصفهان او ځينو نورو ايراني ښارونو کې واقع شوي هغه په صفوي ايران کې د يو متشدد شيعه نظام د تشدد په وړاندې د افغانستان د خلکو طبيعي عکس العمل و.

هر وخت چې په افغانستان کې يو مرکزي او قوي نظام راغلی د خلکو توجه يې هند او د هغو ملتونو پر خوا ګرځېدلې چې د هغوی سره يې د مذهب مشترکات نه درلودل.

ولې په ايران کې د بده مرغه دا روحيه ډېره ده چې مستقل افغانستان همېشه د خپل استقلال په رابطه يو خطر ګڼي او په دې رابطه د ښو روابطو د برقرارولو پر ځای همېشه د مذهبي تفاوت له مخې د بيګانګۍ روحيه چلول کيږي.

ايران پخپل ټول معاصر تاريخ کې چې د افغانستان په باب يې خپل ديني مسؤليت او د ګاونډيتوب حق پوره ادا کړي هغه د اماء

Ketabton.com

خمېني د انقلاب په اتو اولو مياشتو کي و ، ايران د شوروي اشغال په دوران کي زموږ زيات مهاجرين ځای پر ځای کړل او په سياسي لحاظ يې زموږ د قضيي سره پوره ملاتړ وښود .

که په ايران کي د انقلاب د اولو ورځو مهم او محوري شخصيتونه د وای تجريد شوي کېدای شول چي ايران د پاکستان په کچه زموږ د جهاد سره همکاري کړی وه او هلته به د روسانو اشغال خپل دويم کال هم نوي پوره کړی .

هغه څه چي د جهاد په دوران کي يې ايران زموږ د انقلاب (جهاد) سره د لوړي کچي همکاري نه ګوښي وساته هغه خپله د ايران د انقلاب په مخکي را تېرکيدونکي جنګونه او توطئې وې اوبل دا چي کله چي ايران د امريکا سره د دښمنی د مرحلو په هسکو کي و هغوي د روسانو سره د يو ډول لباسي تعاون په حد کي و لکه په همدي پيمانه کله چي زموږ ملت د روسانو سره د دښمني په اوج کي و امريکا زموږ د ملت سره يو ډول سياسي خواخوږي درلودله چي همدغو تفاوتونو د بشري همکاري فرصتونه څه ناڅه ضائع هم کړل.

په داسي حال کي چي ايران د ټول خليج سره په جګړه داخته واو دغه خليج د افغانستان د جهاد سره ډېره نژدې همکاري درلودله

Ketabton.com

بیا هم ایران په افغانستان کې د اجنبي قدرت په رابطه خپل حساسیت اود ریخ په یو پتمن حدکې خوندي وساته او زموږ د قضیې نه یې په بشپړ د توګه دفاع وکړه .

د روس اشغالګر فوځ په ماته او په تیره د نجیب د حکومت په سقوط د ایران په پالیسیو کې څه بدلون راغي چې د غه بدلون زموږ د هیواد بې ثباته اوضاع نوره هم هغې بې ثباتۍ ته وسپارله چې اوس یې خپله ایران هم په مناسبه چاره نه پوهیږي .

ایران په افغانستان کې له دووجهتونو ځان په د خالتونو کې مستحق ګڼي:

اول دا چې ایران په نژادي لحاظ په افغانستان کې د څېنو اړخونو سره د همدردۍ په عنوان ځان شریک ګڼي. .

دویم دا چې ایران ځان ته د شیعه اقلیت د حقوقو په رابطه د دې حق ورکوي چې په افغانستان کې یوډول مداخله ولري .

ایران د روسانو د اشغال په دوران کې خپله د عراق له خوا په داسې اوږده جګړه کې لتاړ شو چې د خلیج د ولتونو او امریکا د حمایې له مخې یې د یوې بابللې جګړې پیغور ته سر کینبود د همدې ځایه ایران په د غه دوران کې د افغانستان د جهاد سره د مطلوبې همدردۍ چانس د لاسه ورکړ همدا وجه وه چې هغوی ان

هغه په ایران کې زیږیدلي افغاني شیعه ډلې هم راضي وې نه شوای ساتلی او له دې ځایه د محسني ډلې ترې په ړیا ورغ پاکستان ته راکډه وکړه د خو کله چې د عراق د جګړې مصارف ود ړیدل ایران بیا دافغانستان قضیې ته فارغ شو له همدې ځایه د راولپنډې د متحدي شورا د تشکیل په دوران کې په ایران کې میشتو تنظیمونو د خپل حق د ود برابرد غوښتنه کوله او په هغه مهال په اسلام آباد کې د ایران مقیم سفیر هم ځیني سني تنظیمونو ته سیاسي ګواښونه وکړل خو هغه وخت نه چا د ایران په ګواښونو حساب وکړ او نه هم د شیعه ډلو په بایکاټ.

وروسته چې د نجیب د حکومت پر ضد بغاوتونه پیل شول او خبره د دوستم د بغاوت د سنجبد د پروګرام په کرښه ودرېدله ایران او شیعه ډلو هڅه وکړه چې د جبل السراج معاهده په پاکستان کې د افغاني ډلو د قناعت نه ګوښې عملي شي خو احمد شاه مسعود هغه مهال زړه د هغه پیښور د تائید نه د ومره بې نیازی ته نه وه کړ چې هو وخت یې د بې وطنی تود ماحول و. همدغه پیښور ته د پریکړې د تائید په تفاوت وچې په وروستي وخت کې د انجنیر مسعود او شیعه ډلو او بیا انجنیر مسعود او ایران ترمنځ د شکوکو او اختلافونو مبدأ شوه.

Ketabton.com

ایران که څه هم دهغه د پلوي افغاني ډلو په حکومت کې اساسي ونډه ودخو په دې خاطر چې د پریکړې مرجع یې بیا هم د پیښور ډلې شوې تر پایه یې د مسعود پر کابل زړ دا وبه و نه ځنبلې او کله چې د انجنیر احمد شاه مسعود اختلافات د شیعه ډلو سره د جنگ په کرښه ودریدل نو ایران معلومه کړه چې مذهبي روابط هغوی ته د نژادي پیوند نه زیات مقدس دي او ایران د مسعود پر ضد را څرخیدلې ډلې د حزب اسلامي په څنگ کې یو ځای تأییدا او تقویه کړې.

که څه هم استاد رباني د ایران اوسعودي عربستان سره په یو متوازن سیاست کې تر یو حده کامیاب و ولې همدغه سیاست همیشه کله د استاد رباني حکومت د سعودي سره د دوستانه اړیکو له نظره د ایران د تائید او کله هم د ایران سره د نژدې اړیکو له کبله د سعودي عربستان د یو طرفه تأیید نه غورځولی دی.

ایران د افغانستان په باب د څو جهتونو له خوا ویره لري:

دا چې په افغانستان کې د یو مستقر حکومت روابط د پاکستان، سعودي عربستان او امریکا سره د ایران په نسبت مخکې او مطرح روابط وي.

دویم دا چې په افغانستان کې د هغوی پلوي ډلې په مرکزي

Ketabton.com

حکومت کې په موثر ډول نه وي ځای په ځای شوي .

دریم داچې دلته داسې جدي سني مذهبه حکومت رامنځ ته نه شي چې په منځنۍ اسیا کې د همدې روحیې له مخې د ایران د کار او فعالیت مخه پرې کړي او په خلیج او نړۍ کې وسیع روابط ولري .

څلورم د ځېنو له نظره چې که بین المللي توطیه د افغانستان د تجزیې په لور روانه شي ایران په دې تجزیه کې خپله مهمه ونډه ترلاسه کړي ولې فکر کوم چې ایران به اوس د دغو خوبونو نه لاس مینځلي وي .

په داسې حال کې چې یو مستقر او با ثباته افغانستان د ایران لپاره د ضرر په جهت کې نه دي او هېڅکله به هېڅ افغان حکومت افغانستان د بل بیګانه جهت د مصالحو په خاطر د ایران پر ضد استعمال نکړي. ایران نه شي کولای د ګاونډیتوب په کرښه د افغانستان په سیال حد کې ځان عیار کړی .

افغانستان نظر د ایران سیمه ییزو پراخو مشکلاتو ته همیشه د ایران پر ضد د اسانه او کامیاب خوځښت چانس لري ولې افغانان د خپلو ګاونډیانو سره د ګډ ژوند ارزښتونه او پاس له هر څه نه پیژني له همدې ځایه حتی د غه طالبان چې په سنتي لحاظ د

Ketabton.com

ایران د حکومت سره د فکري تضاد له مخې څوک په څوک دي ښې هم د ایران پر ضد د استخدامېدو پر بدو اوبدرنګو عواقبو ښه پوهیږي .

همدغه موجود د افغانستان چې د جګړو ظالمانه توپان له هر څه نه لغړ کړاو په همدغسې یو تاریخي پړاو کې چې د روس سره یې پخپله دښمنی او تضاد کې هغه دریغ را خپل کړ چې د نړۍ د دود نیمې پېړۍ نیمه کلابند تحولات یې له محاصرې واېستل ښا هم امریکا د نړۍ مقتدر قدرت یې په پیښو کې دومره لتاړه ده چې د ایران مخالفت یې څوک په شکرانه کې هم نه اخلي اودا ددې خبرې لوی ثبوت دی چې افغانستان د خپلو ګاونډیانو پرضد د نړۍ د واکمنو قدرتونو په څنګ کې دریدل د خپل افغاني غرور مخالف کار ګڼي .

بلکې همدا اوس اوس د ایران د ټول مخالفت سره امریکا ددې هڅه کوي چې ایران د ایران سره په سیمه ییزو مشکلاتو کې د همدردۍ له لارې د امریکا لپاره د شاه د زماني مشابه رول ته وکاږي .د خامنی د ایران معتدل تګ کېدای شی یو وخت په همدغه منزل سر ولګوی.

امریکا په ایران او افغانستان دواړو کې یو وخت د امریکا د

پلوي رژیم خلا نه شي تحمل کولای او دا په دې خاطر چې دد غسې اوضاع په نتیجه کې کېدای شي سیمه یوه سیمه ییز وحدت او یا هم د دریم جهت سره د سیاسي تکتل فرصت پیدا او لدې مخې دامریکا راتلونکي ګټې تهدید کړي.

امریکا که ایران ته د زیات امتیازاتو ورکولو له لارې ایران د امریکا د سیاستونو په رابطه دچوپې خولې سیاست ته اړ نه باسي نو دجنګ او تهدید له لارې خو به په افغانستان کې د بدیل حل لاره تر یو خالص سیکولر امریکایي نظام پورې په زغرد تعقیب کړي.

ایران په دې ښه پوهیږي چې د امریکا مخه یوازې د یو اسلامي معتدل نظام له مخې په افغانستان کې نیول کېږي، ولې سني مذهبه اسلامي نظام پخپل وار د ایران اندیښنې راپاروي، له همدې ځایه ایران په افغانستان کې د سیکولر امریکایي او اسلامي سني مذهبه نظام په منځ کې د تردد په حال کې غیر ثابته پالیسي لري.

امریکا هم چې فکر کېده چې دشیعه ایران په څنګ کې غوارې سني افغانستان شین کړي او په ابتدا کې د طالبانو سریع پرمختګ همدغسې یو قدم توجه کېده ولې د ظاهرشاه او اسامه

Ketabton.com

په سرد امریکا سرد د طالبانو تیکر ونبود له چې باخو امریکا په دې کار کې لاس نه درلود او باخو طالبانو د قوت په مرحله کې د امریکا په شنه شوي فصل وباله وروتړله .

ایران که په افغانستان کې سني مذهبه حکومت ته لار ورنکړي او په دې رابطه د افغانستان د خلکو د اکثریت روحیه راخپله نکړي نو د سیکولر نظام په راتګ به په افغانستان کې د ایران لپاره بوجدي مزاحمت پیدا کړي .

که څه هم غرب تیول په دې پوهیږي چې د اسلامي ایران په څنګ کې به په افغانستان کې د یو سیکولر نظام راوستل او ساتل د امریکا او غرب لپاره په ډیر قیمت تمام شي ولې امریکا او غرب په دې سیمه کې د دوو مذهبي حکومتونو په منځ کې د تفاهم او تعاون دا حتمال له ویرې د هر مصرف لپاره زړه ښه کوي.

د ایران روانه تجربه چې د چین، فرانسې او روسیې سره یې په دوستانه روابطو د امریکا د بندیزونو مخه تر یو حده پرې کړه که څه هم ایران یې په عاجل ډول د یو نسبي ثبات نه برخمن کړی دی ولې په طویل المدت کې ایران باید د امریکا لپاره د غه تجربه او په دغه حد کې د فاعي تحرک کافي ونه ګڼي . له همدې ځایه د ایران زیات ثبات د ګاونډیانو سره د ایران د ښو روابطو پورې اړه لري او

Ketabton.com

افغانستان د ټول فقر سره سره د غسې يو هيواد دی چې کېدای شي د بچو همت او قرباني يې د خطر په مهال ان ايران هم د نا ملائماتو ته خوندي وساتي.

په افغانستان کې کمزوری حکومت ( يا د کمزورو جهتونو واکمني ) که دامريکا او غرب لپاره مفيد ثابتيدای شي خود پاکستان او ايران لپاره ځکه زيانمن دي چې همدا کمزوری حکومت کيداي شي د ايران په ځای د يو بل قوي جهت په دام کې ولويږي او د سيمې مشکلات او مسائل به د پرديو په کچه د حل لپاره لار پيدا کوي.

ايران چې د اسلام په عنوان او س د استقرار د مرحلې په پيل کې واقع کيدونکی دی بايد له همدې عنوان سره مناسبه سيمه ييزه پالېسي راخپله کړي .

هغه څه چې افغانستان، پاکستان او د ايران ته د پرمختګ فرصت او په بين المللي سطح پتمن موقعيت ورکولای شي هغه د خپلو ګاونډيانو په هکله د شک او دښمنۍ له سياست نه د اعتماد او دوستۍ سياستونو ته انتقال دی. په سيمه کې ثبات د هر هيواد لپاره د دې چانس ورکوي چې هم د خپل ملت په جوړولو مصروف او هم د مطمئن ګاونډ له مخې د لرې دښمن مخه په وخت ونيسي کړي .

Ketabton.com

په ایران کي محصور او د تشو خبرو «ایران» که ایراني ملت په شعار او خبرو اسمان ته هم ورسوي ولي د ګاونډیانو سره اخته ایران به د خپل انقلابي عنوان مناسب کار ته هېڅکله موقع تر لاسه نکړي او نه به په یوازې ځان ،ځان د چین غرب او امریکا د سیالیو حد ته پورته کړای شي.

ایران سره د خپل تاریخي غرور له مخې بین المللي اوچتو مراکزو ته د ختلو ژوندۍ هڅه پیدا شوې او دا روحیه که هغه د دي لاري په نیم منزل کي واقع هم کړي، ولې پاتې نور نیم منزل به د متفاهم ماحول پر ته چي هغه د معاصري اروپا د تفاهم او وحدت په حد کې وي د هغه مخکې وهلي منزل به بابیزد او نامراده کړي.

په دې ترتیب حساس او متواضع ایران چي د افغانستان د خلکو سره د خپل پیوند وساتلی شي هېڅکله به د افغانستان له خوا د امریکا پټ ګوزارونه پر سر ونه خوري دا د همدې ایران په معاملې پورې اړه لري چې د افغانستان سره د خپل حسابونه د دوستۍ او اعتماد له لارې جوړ کړي.

ترکومه چې د افغانستان سره د پاکستان او سعودي عربستان د پر مختللي رابطې خبره د د هغه د بوي خوا د ایرا ن د امنیت لپاره

هېڅ خطره نه پیدا کوي او له بلې خوا افغانستان غونډې یو فقیر هیواد د هر دوست هیواد کومک او مرسته نالیدلي نه شي پر پښودی.

دا چې ایران دافغانستان د خلکو سره د همکارۍ په لیکه کې دریم او څلورم درجه موقعیت ولري د روابطو په حساب هم باید پرې زړه تنګ نکړي، په همغه درجه کې ځان واقع کړي چې تشویش یې کم کړي، ولې که ایران له دې مناسب ځای غواړي نو د مناسبې اوباورې سیاست او همکارۍ خبره دې په مخ کې واچوي.

فکر کوم چې زمونږ نږدې ګاونډیان پاکستان، ایران او خپله سعودي عربستان هم باید دا درک کړې وي چې افغانان که څه هم دا کمبود لري چې د ذات البیني اختلافاتو له مخې په موقت ډول د ځینې هیوادونو د همکارۍ سره داسې کرښنده روانیږي چې هغوی فکر کوي چې افغانستان به د یو ګونګ میزائیل په شان د هغوی د جبه خانې په کار ورشي ولې افغانان که هر څو مره دا عیب لري خو دابې هنري نه لري چې د یو ګاونډي د مصلحت په خاطر د بل پر ضرر قدم پورته کړي ځکه د غسې کار د هغوی د کلتور او عاداتو سره جوړ نه راځي بلکې دا د هغه رول مخالف حرکت دی

Ketabton.com

چې افغانستان ئې په سیمه کې په سنتي لحاظ د پیړیو راهیسې اجرا کوي. افغانان که هرڅومره پاکستان او سعودي ته نږدې شي په هغه کې به د هغه خیر په حدودو کې څرخیږي چې د همدې هیوادونو په ګټه وي ولې دا به ډیره لیرې خبره وي چې هغه د چا د احسان په خاطر د خپل بل محسن ګاونډی کورته اور ورته کړي

افغانستان لکه ایران ضرورت لري چې د سیمې هېوادونو سره ښه تعلقات او دوستي ولري خود خپل مصلحت په حساب، نه د نورو لپارد د سرخوږی د پیدا کولو په غرض. په وروستیو کلونو کې څه محدود حوادث داسې ولیدل شول چې د افغانانو نه په دریم هیواد کې په درګیریو کې استفاده وشوله ولې هغه د یوې خوا ډیره محدوده وه او د بلې خوا هغه د داسې چا کار و چې د خپل تاریخ او کلتورر سره بې دزې دي، د همدې ځایه افغانانو د تهران او عراق په جنګ کې او بیا د عراق او سعودي عربستان په اختلافاتو کې خپل طبیعي ضبط النفس راخپل کړ که څه هم ځینې سیاسي جهتونو غوښتل چې د سیاسي ګټو په خاطر د غه ملت بدنام کړي ولې زمونږ ملت په دغسې ورځو کې د هر تنظیم او هر نظام د احسان نه جلا موقف ونیوه ځکه زمونږ خلک کرکه لري چې پر پردیو جګړو کې لتاړ شي.

ACKU

Ketabton.com

اوس هم کیدای شي د دغسې استخدام ډېر کمکي صورتونه جرېان ولري ولي ایران خپله د عراق په جنګ کي ولیدل چي دافغانستان دخلکو نه د سیاسي مجبورېتونو له مخې غلط کار اخستل څومره ګران دي . دغسي به په راتلونکي کې د مستقر او باثباته نظام په راتګ د دي ملت غرور او عزت النفس هغه د نننۍ بدې ورځې په نسبت د ود برابر د دخپلو ګاونډیانو په رابطه د یو حساس او هو ښیار ملت په توګه خپل د ریځ ته را کاږي.

ایران په دې باطله وېره کې هسې ځانته هم باېد یو مصروفیت پېدا نکړي او زمونږ ملت هم د دغسې هوسې سیالۍ قرباني نکړي او په دې رابطه زیاته وېره او توجه کیدای شي افغانان د خپل طبیعي حالت نه په بله واړوي او هلته به بیا ایران ته ګرانه هم وي چي د دې خلکو طبیعي اعتماد چي د ګاونډېتوب د ماحول عمده عنصر دی لاس ته راوړي .

ایران دا څو کاله مسلسله ولیدله چي ملت د بیګانه تحرک سره عکس العمل ښیي له همدې ځایه خو په افغانستان کې د ګاونډیانو په شا راغلېو ډلو یوې هم په ملت کي طبیعي حمایه پیدا نکړه او ملت د دغسي جهتونو نه کرکه وښودله.

دغسي موجود د سیاسي جهتونه او سیاسي تنظېمونه بو هم د

افغانستان د خلکو ممثل نه دي ځکه چې تر اوسه د جنگ او مداخلو دوران مونږ ته د دې فرصت نه دی راکړی چې خپل ممثل نظام رامنځ ته کړو له همدې ځایه په راتلونکي کې معلومه نه ده چې د ایران او پاکستان په حساب مطرح ډلې خپله په کوم سرنوشت اخته کیږي؟؟

که د زور نظامونو د ملتونو تمثیل کولای شوای نو کمونیزم به په روسیه کې د افغانستان په ځای خپله روسیه هم له لاسه نه ورکوله.

سېمه ییزه او بین المللي اوضاع همېشه په بوحال نه وي ولې افغاني کلچر او دودونه د زماني د ډېرو پاټکونو له سره اوښتي دی له همدې ځایه د دې ملت سره د دوستی او دښمنی په حساب کې باید زمونږ گاونډیان د احتیاط نه کار واخلي.

که په دغسي یو د رژیدلې اوضاع کې زمونږ گاونډیانو زمونږ په باب بو زړه سواندی دریځ ونیسو د ثبات په مرحله کې به افغانستان بوه ورځ په هغوی باندې د دغسي بدې ورځې په سختو کې په کار ورشي.

مونږ پر دې پوهیږو چې کیدای شي ځیني جهتونه د افغانستان په باب داسې فکر وکړي چې هغه په هر سیمه ییز جنجال کې د

Ketabton.com

هغوی په لاس کې د لویدلي کوټک په توګه پاتې شي ولې د روسي اشغالګرو حضور هغه څه چې زمونږ شعور یې له نهاده مصروف کړی وو او د دغسې بوې وضعې په نسبت چوپ او بې طرفه پاتې کیدل نه د افغانستان او نه هم د سیمې په خیر و، له همدې ځایه افغانستان د دغو اشغالګرو سره خپل سرونه هغه تکړ ته ورکړل چې نن د تېر شوروي مات شوي پوځیان په چیچین کې ولویدل ولې دا هسې یوه بیله او ځانګړې حادثه ود نه بنایي چې خپل منځي حوادث په دې مقایسه کړو.

افغانانو ته به د دغسې راغلي او تېل شوې ګډوډۍ د څپاند قلزم نه پورې وتل څه وخت ونیسي او څه کرامتونه به وغواړي ولې سیمه ییز تضادونه او بین المللي متفاوتې ستراتیژي به بالاخره افغانستان ته ددې ګډوډۍ په منځ منځ کې د پورې وتلو لاروړکړي او هلته مبادا داسې افغانستان رامنځ ته شي چې وړپیښ خوړونه ټول د خپلو هغو ګاوندیانو پورې وتړي چې له مونږ سره یې هو وخت د روسانو په تجاوز کې د لوړې کچې انساني همدردي کړې ده.

ایران ته که څپلې امنیتي پولې مهمې دي نو دا ورته په کار ده چې هڅه وکړي چې هر څه ژر په افغانستان کې یو سوله ییز رژیم

راشي، دا رژیم که په ظاهري لحاظ کاملاً د ایران سره په ټولو سیمه ییزو پالیسو کې موافق هم نه وي ولې هغه به دا ایران لپاره هغه قیمت ورکوي چې ایران دافغانستان د خلکو لپاره ورکړی دی.

اوس ایران ته په کار ده چې د سولې د مرحلې د نظام سره د تعلقاتو په خاطر نن د جنګ د مرحلو د نظامونو په کار حساب ونکړي بلکې د هغې سولې منزل ته په افغانستان کې وګوري چې د جنګ د حالاتو سره به په بالمقابل روحیه جوړیږي.

څومره چې زمونږ ګاونډیان د ترکمنستان پالیسو ته ورته موقف نیسي هغه به په راتلونکي کې مطرح وي او څومره چې د خاصو ګوډاګیانو د تپلو هوس را اخستي وي هغوي به یو ورځ د جنګ په دریدو د جګړه مارو په محاکمه کې د خپلو پلویانو په مات سنګر لکه د روسانو د سرو او ښکو توپولو پر ته هیڅ ونه شي کړای.

ایران پخپله انقلابي ستراتیژي کې په افغانستان کې د شیعه ډلو باارزه مقام او خپله د نژادي پیوند د ټینګولو هڅه هم په مخکې لري.

ترکومه چې د غه په اسلامي نړۍ کې پیچلې او جنجالي قضیه د ایران د مرکزي رول پورې تړلې ده او د غه ایران بیا د افغانستان سره اوږده او اوبدلې سرحد لري، دې قضیې زمونږ په هیواد کې

همېشه دا ایران مقبول رنګ ته صدمه رسولې ده او زمونږ زیات خلک دا ایران د کردار په رابطه ژور شکوک لري.

د مختلفو راپورونو له مخې د ایران معامله دافغاني مهاجرینو په رابطه د همدې تصور له مخې دوه رنګي لري او همداسې د ایران انساني همکارۍ تر ډېره حده پخپلو وابسته اندیوالانو کې خلاصه کېږي .

ایران که د یو مرکزي شیعه دولت په توګه د خپلو شیعه ورونو د دفاع کوښښ ته کوزښتي او بیا هم په دې رابطه د یو نړیوال تعامل د تاکلو لپاره معقول تفاهم او مذاکرې حل ته پرېږده شي په دواړو صورتونو کې به د (اهل سنت) د لوري د مشابه دریځ سره مخامخ کېږي .

ترکومه چې د افغانستان په خلکو پورې اړه لري د افغانستان خلک د بیرونیو هیوادو د مذهبي غلط او تنګ پروګرام او د ملت د تجزیې په رابطه د پرېمانه مصارفو سره سره بیا هم په ملي سویه متحد دي ، هغه محدود عکس العملونه چې په ځینو سیمو کې لیدل شوي هغه د یوې خوا بېروني منشا لري او د بلې خوا هم په دالرو اخستل شوې ډلې ئې د حراد ثو شاته دې نه خلک ، ځکه چې په خلکو کې پیدا عکس العمل بیا څوک نه په پیسو او نه هم په

Ketabton.com

تهران کې په لاره کولای شي.

ایران باید د مبارزې پر ځای د تفاهم لاره خپله کړي ځکه چې د دغسې عکس العمل متشنجې فضا فشار په ایران باندې تر هر چا زیات ورځي.

له بلې خوا دغسې مبارزه په افغانستان کې ځکه بری نلري چې له یوې خوا دغه هېواد دا امتحان مخکې ورکړی دی او له بلې خوا په دغسې غلط اخ و ډب کې به دافغانستان خواخوږي دوستان دایران په نسبت ځو برابره وي.

افغانستان او ایران که هر څومره لري شي او یا سره تقسیم شي خو باید د لرې دنیا لپاره متحد حساب ولري او همدا روحیه د اجنبي حضور مخه په آساني پرې کولای شي

ACKU

Ketabton.com

123441



Ketabton.com

پنځم فصل

# سعــودي او خليـــج

عربي خليج چې په مذهبي او اقتصادي لحاظ او هم په دې لحاظ چې دلته د عربو مسلمانانو لویه کتله ژوند کوي همېشه او په اوس وخت کې زیات اهمیت لري.

د عثماني خلافت سره دښمني چې په خلیج کې د عربي دولت په هوس کې د ملک شریف کورنۍ او ځنې نورو د خلافت د سقوط ترسرحده استقبال کړ د هغه د یوی خواد سېمي طبیعي حدود مات کړل له بلي خوا یې د یهودو د پرېږو پیړیو ځنډېدلی ارمان (یهودي دولت) پوره او د همدې دولت تر شاه د صلیبیانو پوځونه شام او مصر او د کمونیزم ارادتمند ګوډاګیان ترېمن پورې را ورسول .

د عثماني خلافت په سقوط غربي استعمار هغه پرونۍ وعدې هېرې کړې بلکې د عربي خلافت د روحیې د څېلو له لارې یې ځیني عربي هېوادونه عملا اشغال کړل چې دا مرحله په عربي نړۍ خاصتاً په عربي خلیج کې د هغو داخلي اختلافاتو ښکارشوه چې وروسته په تدریج څوک پکې د روسانو پلویان او څوک پکې د

Ketabton.com

غرب پلوېان شول.

په پنځمه او شپږمه لسيزه کې چې زياتات اشغال شوي هېوادونه آزاد شول هلته په ځينو هېوادو کې د روسانو له خوا نظامي کودتاوې په کار ولويدې چې وروسته د غه کودتايي رژيمونه د عربي خليج تر پولو هم ورسېدل او عربي خليج يې په حساس موقعيت کې وغورځاوه.

که په سعودي عربستان کې د ملک فيصل تلافي کوونکي اقدام او په منځني ختيځ کې د اسرائيلو پرضد د ناصر هنګامه يي رژيم ماته نه وه خوړلې نو د خليج د حکمرانانو چلتارونه مګر اوس چا د قفقاز د سپورو په موزيمونو کې پيدا کړي وای.

خليج او سعودي عربستان هلته د مه شول چې ناصر ته د اسرائيلو سره د جنګ هغه ستړې پېدا شوه چې ناکامي او بد نامي يې جمال ناصر ته د روسانو له جفا نه اېسله د زړه حمله ورپه برخه کړه.

د سادات په راتګ او په مصر کې د روسانو ناکامي د خليج لپاره بوده سياسي د مه شوه ولې د ناصر په مرګ بيا هم عربان په دوو کتلو وېشل شوي پاتې شول:

د روس افراطي پلويان

دغرب معتدل پلويان

په ۱۹۷۳ کال د اسرائيلو پرضد د سادات جنګ عربان په ښه موقعيت کې ودرول خاصتاً د ملک فيصل همکاري خليج ته د ناصر د تېروخت رسوخ راانتقال کړ ولې په ۱۹۷٦ کال چې سادات د کمپ ډېوېډ سولې ته ننووت عربان تر هر وخت زيات په داخلي اختلافاتو اخته شول.

ترکومه چې روسانو خپل پلويان تر يمنه پورې رسولي و د خليج خاصتا د سعودي عربستان لپاره يې د يو ناسور زخم حيثيت درلود خو څنګه چې د روسانو د سلسله ييزو کړيو په مخکې د ايران اوترکيې روسي ضد نظامونو د خليج لپاره يو ډاډ و ولې کله چې په افغانستان کې د ظاهرشاه رژيم د سردار داؤد خان روسي دوله کودتا په وسيله چپه کړای شو او په ايران کې په همدغه مهال دايران د شاه پرضد د يو پراخ ملي پاڅون څپې راښکاره شوې په همدغه مهال کيدای شي امريکا اوخليج په افغانستان کې د ګډ رول په رابطه د لومړي ځل لپاره هم فکراوهم عمل ته زړه ښه کړی وي.

امريکا د سعودي عربستان په نسبت کېدای شي مکمل ډډې

سېمې د ګډېږدې اوضاع په نسبت د خطر احساس کړی و او د همدې ځايه يې د دې هڅه وکړه چې د محمد داود خان مناسبات د پاکستان او د هغه د وخت ايران له حکومت سره ښه کړي د همدې ځايه پاکستان ته تهديد داوود خان د خپل انقلاب په څلورم کال کې د پاکستان سره د دوستۍ په کرښه ودرېد او د همدې دوستۍ د تقوېې لپاره د حامي ماحول پېدا کولو مفکورې د افغانستان جدي سردار په ۱۹۷۹ کال د سعودي عربستان د دوستانه سفر کامېابونتابجوته ورساوه .

همداسې چې وروسته حفيظ الله امين د پاکستان او غرب سره د دوستۍ په بدل کې خپل سر او نظام دواړه قرباني کړل داوود خان هم د پاکستان او سعودي عرب سره د تنګې دوستۍ له مخې د هغې کودتا د عکس العمل سره مخامخ شو چې پرونېو خلقي يارانو يې د کور په تي خور ماشوم هم د روسي وسلې جاغور تش کړ .

داسې د پاکستان او خاصتاً د سعودي عربستان دوستۍ ته رسېدلي هڅې په افغانستان کې د ثور د هغې کودتا د نامراد اقدام سبانارۍ شو چې که په افغانستان کې هغه د جدي مقاومت سره نوی مخامخ شوې کېدای شول چې په غرمه نارې کې يې پاکستان او هند او بيګانارې کې ئې د خليج بې ثباتي مخ ته

Ketabton.com

اېښې وای.

سردار محمد داوود خان د پاکستان او سعودي عربستان سره د ښو تعلقاتو لپاره لوېه قرباني ورکړه ولې د ثور د کودتاېي رژیم په راتګ سره پاکستان او سعودي عربستان هم د افغانستان د قضیې سره د ومرد نوک او اوری شول چې نن پاکستان او سعودي عربستان د ۲۱ کلونو تودو روابطو په لړ کې د هغې روسېې ځای ثلوربرابره قوي ډ ک کړ چې پووخت به مسکو د سرپه اشاره هم په افغانستان کې د تحول خبره عمل ته اېستلای شود.

سعودي او خلیج د افغانستان د قضیې سره خاصتاً د روسېې د نظامي اشغال په دوران کې تر هر چا زیات مالي او سیاسي تعاون کړی دی او دا په داسي حال کې چې په دې دوران کې د خلیج لپاره د افغانستان په خبر دود لوی خطرونه چې بویې د اېران د شیعه انقلاب او بل ېې د صدام د عربي انقلاب خطر و ، په مخ ورغلل.

د ثور د کودتاچیانو لوڅو اصلاحاتو او د روسیې سره د دوستۍ باندې بربندو اظهاراتو له پاکستان او خلیج سره د کودتا د نظام د خطر په رابطه هیڅ شک پرې نښود لکه څنګه چې د امریکا د سفیر په وژلو له امریکا سره نور ددې نظام سره د روابطو د هڅې فرصت پرېنښود د همدې ځایه خلیج پخپل تول بربنډ

سیاست د مقاومت خوا راخپله کړه چې دا په تاریخ کی د خلیج د دولتونو د سیاسی موضع گانو په رابطه تر ټولو لومړی قاطع او غوڅه موضع بلل کیږي.

کله چي د روسانو په راتگ شپږ میاشتې تیرې شوې او دافغانستان د خلکو مقاومت هره ورځ د بلې ورځې په نسبت پیاوړي کیده د خلیج د حکومتونو زړه په مقاومت باندې پوره د مه شو د همدې ځایه هغو پخپلو ملتونو کې د روسانو پر ضد له راپاروونکو تبلیغاتو او د مجاهدینو په گټه د هرې حمایت کوونکې هڅې عملي فرصتونه آزاد پرېښودل چې همدې روحیې د خلیج ټول ملتونه خاصتاً سعودي عربستان خلک د مجاهدینو سره په داسې بې باکه رابطه کې وغورځول چې د ننگرهار او خوست د محاصرې به دومره په «کچه کړی» کې مېشته مهاجرین نه وو اندېښمن کړي لکه څومره چې ئي د رباض د ناز او نعمت په ښارونو کې خبره د سهار تر قنوته او قنوت تر هغه تسلسله ورسوله چې بالاخره د حکومت مداخلې ابلــه هغه راد مه کړه.

دافغانستان د مجاهدینو سره د همکارۍ عملیه داسې د سعودي د حکومت د سانسور او مراقبت نه په ظاهر گوښې

Ketabton.com

وخوښېدله چې د سعودي په هر ښار کې داسې ډېر ځوانان وچې دمال په ځای خپلو وېنو ورکولو ته حاضر شول او ډېر خوېې دافغانستان په ځمکه د جنګ په تاوده مېدان رانسکور هم شول.

کومه خواخوږي چې د سعودي خلکو زمونږ له مقاومت سره ښودلي هغه د هرچا په نسبت زياته او ځپانده وه.

څه هغه د سعودي دعلماو په فتوى او دهمکارۍ په شرعي ضرورت کې ولتېول شي او يا هغه د ښځېنه و په مالي پېرزوينه او يا هم جهاد ته د دعوت او په جهاد کې د شرکت په رابطه د سعودي دخوځنده ځوانانو په فعاليت کې. د افغانستان دخلکو سره د همکارۍ په رابطه په سعودي کې داسې لوی بنياد ونه جوړ شول چې اوس د نړي نورو اسلامي قضيو په رابطه خپل رول اجرا کوي چې الاغاثه د دغو له جملي څخه دد. سعودي عربستان د جهاد رهبرانو او د هغوی کورنيو ته ډېر امتيازات ورکړل او ډېر ېې ونازول او داسې فکر کيدد چې دا قضيه په حقيقت کې د پاکستان او سعودي عربستان قضيه ده.

د استاد سياف لپاره د ملک فيصل له علمي جائزې نه نيولې او په هر موسم کې د مجاهدينو د رهبرانو تود استقبال او په استثنايي حالاتو کې سعودي ته دهغوی دعوت او هلته د يوې متحدې جبهې

جوړ ولو ته د هغوی هڅو نه دا ټول په ظاهره هغه ژوندی ارتباط و چې د سعودی حکومت او خلکو د جهاد په دوران کې زمونږ د خلکو سره درلود اود همدې ژوندي ارتباط اثرات وچې اخواني ډوله ډلو ته یې په ملت کې د زیات مطرح کېدو ښه شرایط برابر کړل.

که څه هم اخواني ډوله ډلې د قربانۍ او مقاومت په کرښه کې د نورو په نسبت مخکې او ملت د هغوی په شعار ښه قانع شو ولې بیا هم د عربي نړۍ پرېمانه پیرزوینو د هغوی حوصله د جهاد په ټول دوران کې ځوانه وساتله.

په دې مناسبت د یادونې وړ ده چې په سعودي کې داسې ډېر اشخاص دي چې هغوی یووخت زمونږ له جهاد سره د ومرد همکاري کړې چې په نړۍ کې د یرو مسلمانو هېوادونو د هېواد په سطحه نه ده کړې په دې رابطه د عبدالله نصیف د شیخ عبدالعزیز بن باز، ابوالحسن او ابو عبدالله اسامه بن لادن همکاري او فداکاري د هېرولو نه ده.

که څه هم اسامه نن د خپل هیواد د حکمرانانو سره په مخالف جهت کې واقع شو ولې اسامه بن لادن د جهاد په دوران کې د هغو نازدانه عربانو له جملې نه و چې لکه د نن په شان چې د امریکا د

دښمني سپوری ئې پر سر تیرېږي پرون هغه په افغانستان د روسي طبارو د بي رحمه بمباردونو په لوخړو کې د هغه افغان ژنکي زړه او ایمان په گوگل کې ساته چې د دېن او وطن غبر گ غم د مر گ په کور کې مېلمه ساته

خلیج دا ېران د مخنېوي په خاطر د صدام تر شا داسې غوځ ودرېد چې د مات شوي اېران په تسلي مندونور فاتح صدام خپله د هغو ټولو لپاره خطر و چې د اېران پر ضد یې ترشا ولاړ و .

څنگه چې دا ېران لپاره په سیمه کې صدام و ولې د سیمې لپاره گواښ کوونکی صدام په سیمه کې بل صدام نه درلود د همدې ځایه امرېکا لکه چې غوښتل یې هسې په خلیج کې ځای په ځای شو د او د صدام مانور د واړه کوېټ د عهدې نه پورته ونو ټول خلیج یې دامرېکا د نظامي حضور په ستوني کې وغورځاوه .

که څه هم د خلیج د جنگ ترخې ټولې په عراق کې خلاصه شوې ولې په اقتصادي لحاظ یې خلیج د هر وزیبېښه چې نور په خلیج کې د بل افغانستان د حمایې جذبه نه د د پاتې او د مړ د عراق سر ته د غه ځوندی خلیج بل عراق دی چې کبدای شي په نژدې کې د هېڅ مثبت کار لپاره حتی د ځان نه د دفاع لپاره شېمه ونلري

امرېکا د افغانستان ، عراق اېران او د خلیج په جنگ کې خپل

Ketabton.com

مخالفین په ډیر سنجول شوي ډول تصفیه او سیمه یې په هغه اقتصادي رنځ اخته کړه چې نور هغه د اسلامي نړۍ لپاره د بل خوځښت حوصله ونلري.

په دې جګړو کې روسیه ایران او صدام حسین چې هر یو یې بیل بیل د امریکا لپاره خطر و تصفیه شول او اوس د همدې جنګ ځپلې سیمې په لوی قلمرو کې امریکا مخامخ او بالواسطه هغه تسلط لري چې هیڅ یو ته د دې فرصت نه ورکوي چې د امریکا د علم او پروګرام پرته حتي یو کوچني قدم هم پورته کړي آن که هغه د مهاجرینو په سطح د یو عادي پوهنتون خبره هم وي.

خلیج او سعودي عربستان د مجاهدینو د مقاومت په دوران کې زمونږ له ملت سره ډیرخه وکړل او ډیر نژدې روابط یې و ولې د خلیج په جنګ کې د مجاهدینو د تندو رهبرانو سیاست او د عراق په ګټه د هغوی موضع او اظهارات سعودي عربستان پخپل کړي کار له بنیاده وجړقاوه او د هماغه ورځې راهیسې د جهاد د دوران قیادت او سعودي عربستان قیادت یو د بل په نسبت د شک ښکار شول او همدغسې یوې اشتباه له مخې خلیج په افغانستان کې د یو بې ثباته سیاست ښکار شو او مجاهدین هم د یوې لرې قضیې په رابطه د یوې کاواکې موضع له مخې د خلیج د هغه نوازش نه

Ketabton.com

محروم شول چې بووخت بې د الهي داد په عنوان د عطا تسلسل د خلیج (وجبه) پاخه چرګان پرامانکوټ هم ورواړول (۱)

خلیج په افغانستان کې د روس په موجودیت کې د کمونیزم مخنیوی او د روسانو د ماتې وروسته د ایران د یو طرفه تسلط مخنیوی لوی هدف و څنګه چې استاد رباني له ایران سره دوستانه روابط لرل کېدای شي د خلیج لپاره یو د تشویش خبره وه له همدې ځایه سعودي عربستان له دغه حکومت سره تر پایه داسې دوستانه روابط پیدا نکړل چې هغه نظام ته ثبات ورکړي .

کیدای شي د دي علت دا وي چې سعودي عربستان پوهیږي چې د یوې خوا د دغه نظام سیاسي مخالفین عادي مخالفین نه دي او له بلې خوا څنګه چې د نظام په لړ کې د پښتنو لپاره مناسب اشتراک نه لیدل کیږي دا پخپل وار د خلیج د دولتونو په ذهن کې د دغه نظام د مقبولیت په رابطه یو سوالیه وه .

د نجیب د سقوط نه وروسته دافغانستان حالات د امیر شیر علیخان د دوران اخر و ورځو ته ورته شول هلته چې په افغانستان کې د هر ګاونډي ارتباط او مرسته د بل لوري لپاره هغه تشویش پر ځای پرېښود چې د یو مرکزي نظام نه مخکې باید د ځان په هکله د

(۱) امانکوټ د ازري او سرو بې په منځکې یو هسک غر دی

یو مطمئن ګوډاګي د مطرح کېدو خبر د په مخکې واخلي همدا وجه وه چې خلیج په افغانستان کې داسې طرف نه درلود چې زړه یې پرې پوره اوبه څښلې وای ولې بیا هم د خلیج حکمرانانو هڅه وکړه چې د دوستم په شمول یو پراخه شورا جوړه شي او د دغې شورا د جوړېدو پورې په موقت ډول پوله شپېلونو ( مولوي صاحب خالص او یا مولوي محمد نبي محمدي ) مخکې کړل شي خود انجنیر احمد شاه مسعود له خوا هغه ته مثبت ځواب ورنکړل شو .

په هغه مهال چې حزب اسلامي د خپل مرګونې ګوزار په نتیجه کې مخالف لوری په مکه ، تهران او اسلام آباد کې خبرو ته کښېناوه او د مکې قرار داد دوارد خواوې د ملک فهد په حضور کې یوې اساسي روغې ته کښېنول په کابل کې د هغه شوی قرارداد په رابطه د څو مخالفتونو سلسلې سعودي عربستان د خلیج د دولتونو په شمول د مجاهدینو په رابطه د روغې جوړې د کار نه ستړی او کېدای شي د خلیج دولتونه د هغه بدیل په پیدا کولو او تقویه کې د نورو جهتونو سره په پوره تفاهم او تعاون کې غورځولی وی چې وروسته یې د طالبانو تر نامه لاندې تبارز وکړ .

خلیج او سعودي عربستان که څه هم د رې مهمو جګړو پوره دلغې کړل ولې بیا هم هغوی د مسافې د بعد سره سره د ومره رول لرې چې

د پاکستان په مشوره کولای شي څوک چې وغواړي مطرح او څوک چې وغواړي هغه تجرید کړي.

سعودي او خلیج داسې سیمه ده چې د خپل لرې ماحول نه هم ډیره متاثره کېدلای شي له همدې ځایه دد غې سیمې حکمرانان غواړي خطرې د خپل د کور له غولي نه ډېر لرې دفع کړي؛ خو اکثراً نتیجه معکوسه ور کوي

افغانستان په دې حساب چې د سعودي عربستان له ستراتیژیک ملګري پاکستان سره پوله په پوله هیواد دی او له بلې خوا د منځنۍ آسیا هېوادو لپاره مهمه لار بلکې مهمه دروازه ده او دا هم چې هغه دایران په شرق کې پروسني مذهبه هېواد دی د سعودي لپاره ډیر قیمت لري او له همدې ځایه څوک نه شي ویلې چې دجهاد د دوران نه وروسته به سعودي داسې په اسانۍ په دې هېواد کې دخپل رول نه ژر په شا شي.

که څه هم سعودي عربستان د نجیب دسقوط وروسته په آسانۍ سره دافغانستان دخلکو سره د نورې همکارۍ د کرښې نه ځان وکېښ او په هجرت کې د سعودي خیریه فعال بنبادونه بیرېرېل پسې په پرله پسې ډول د ساحې نه کم بلکې کاملا ووتل او نن په ټول افغانستان کې د هغې پراخې همکارۍ نه د اغاثي د تشکیل او

مرستو نه هغه زر چنده کمکۍ شوې اداره کې هسې نوم او عنوان پاتې دد. او زمونږ ملت له دې مخې دسخت کړاو سره مخامخ شو.

هلته چې نصراني ټولې اداري فعالې او زمونږ خلک یې د مجبورۍ ورځې په اساس پخپل مذهبي ناروا دعوت کې برمته نیولي د عربي خلیج سیالي اداري بود پر بلې پسې کډ او ساحه یې همدغو رقیبانو ته خوشې کړه او زمونږ خلک یې د ژوند د اولي ضروریاتو په کمبود کې د دغو نصراني خېریه موسسو د اوږد ولاسونو د عطاء او پیرزوینو پورې یوطرفه وتړل.

که څه هم خلیج او سعودي عربستان د جهاد په دوران کې د خپل خاص فکر په بنیاد هم ځانته پلویان پیدا کول هدف و ولې په عمومي توګه د هغوی نظر زیات د مجاهدینو په اخواني ډوله تنظیمونو و.

سعودي عربستان چې اوس د نظام په ضرورتونو کې د مذهب او زمانې د تقاضا په منځ کې رامحاصره دې هغه د سلفي مذهب د محدودیت نه زیات راضي نه ښکاري او بالذات په وروستیو کلونو کې هغوې غوښتل چې په دې رابطه د روحيې او فکر د ازاد ماحول په بنیاد خپل فعالیت او روابط عیار کړي ولې بین المللي نارامه اوضاع کله کله هغوی د خپلو مذهبي علماو د عکس العمل نه د

خونديږ پاتې کېدو پر ځای هغوی ببرته د هغه تنګ ماحول په ګوتو کې ور کړي.

خلیج او سعودي عربستان د خپلو پرېمانه امکاناتو او په دې خاطر چې د عالم اسلام په مرکز کې موقعیت لري هغوی ته د دې ښه فرصتونه ورکړي چې د صلیبي مذهبي ادارو مخه پرې کړي ولې د خلیج په شا و خوا کې د مسلسلو جګړو له مخې هغوی داسې ښکاروي چې په دې رابطه د کېدونکي کار نه زیات نه شي ترسره کولای.

د افغانستان جهاد چې د پاکستان او سعودي عربستان د لومړي درجه اهتمام له مخې د سیمې او نړۍ د ستراتیژۍ رنګ وربدل کړ د دې قضیې په بنیاد نور وپاتو مهمو قدمونو په رابطه چې د سیمې او مسلمانانو لپاره ضروري و، د سعودي عربستان او ټول خلیج خوا او توجه بد له شو او لدې ځایه زمونږ زیات هیواد وال لدې تغیېر دا تعبیر کوي چې دا په افغانستان کې د راغلې او پېښ شوې اوضاع په نسبت د سعودي عربستان یو ستراتیژیک هدف وچې تر سره شو.

که څه هم دا خبر ګنده د دچې د مجاهدینو جوړ او بل وریسې جوړېدونکي احتمالي حکومت هم په هیڅ صورت په هغه حد کې نه

دي چې دافغان ملت دقربانۍ د قیمت مطابق هلته دداسې یومثبت تحول بنیاد کېږدي چې دافغانستان دخلکوګټلې غرور خوندي او دسیمې د ولسونو لپاره دروسي خطر د مخنیوي وروسته د یوبل مثبت تکتل زمینه جوړه کړي ولې د خلیج دولتونه کېدای شي د غرب هغو بې پناه تبلیغاتو پر سراخستي وي چې دمجاهدینو د حکومت په رابطه یې دافراطي اسلام په عنوان کوي.

که څه هم هغه څېړن تصویرچې د وخت غولېدلومجاهد ډوله یارانو داسلامي حکومت په رابطه په افغانستان کې وړاندي کړ هغه د غرب د تبلیغاتو لپاره ژوندۍ بېلګه وه خو سعودي عربستان او پاکستان دواړه په دې پوهېږي چې که دهغوی په جدي همکارۍ په افغانستان کې د سولې لپاره لار هواره شوې وه نه به د وخت مجاهدین دومره زیات بد نامېدل اونه به هلته راغلی سوله بېز نظام د پاکستان اوخلیج سره دجهاد د ورځو دتعلقاتو له مخې بل لوري انتخاب کړی و.

څومره چې په منځنۍ آسیا کې د روسانو تیر یوځ نظام د خلیج او سیمې لپاره خطرناک و همداسې په منځنۍ آسیاکې پاتې خام نظامونه په خپل وار په راتلونکي کې کېدای شي دسیمې اوخلیج لپاره خطرناک ثابت شي ځکه چې ددغونظامونو دتعلقاتو لوری

Ketabton.com

لامفتوح پاتې دی.

د وخت په تېرېدو کېدای شي د سيمې اوضاع د ټولو دوست افغانستان په غياب کې په بله ولاړه شي او هلته کېدای شي همدغه منځنۍ آسيا د هغې تېرې روسيې په نسبت څو برابره خطرناک حالت راخپل کړي.

کېدای شي خليج د خپلو امکاناتو او رسوخ له مخې په دغه سيمه کې ډېر کار وکړي ولې د بلې خوا په دې سيمه کې ايران ډېر قوي ګاونډی له مخې د بلې خوا ترکيه د خپلې قومي قوي رابطې له مخې کولای شي د سعودي عربستان رول ډېر وروسته او بې اثره کړي او همدا خلا کېدای شي د وخت په تېرېدو د هغه تحول لپاره زمينه برابره کړي چې هغه د خليج په ګټه نه وي.

افغانستان که خپل طبيعي حالت راخپل کړي هغه به هېڅکله د هېڅ لپاره د بل اسلامي لوري په ضرر استخدام نه شي .

ولې دا معلومه نه ده چې د افغانستان داخلي تحولات به په نژدې کې خپل رنګ او مسير را خپل کړي او که نه ؟ ولې دا ډا ډشته چې د سيمې تحولات به بالاخره افغانستان په هغه سر منزل سپاري چې د سيمې مصلحت يې غواړي .

که افغانستان په سياسي لحاظ پخپل طبيعي سرمنزل راکوز نه

Ketabton.com

شو زه باور لرم چې زمونږ د نژدې اولرې ګاونډ نیم هېوادونه به بالاخره د دغه حالت نه بود سیاسي او اجتماعي صدمه وېني.

د سعودي عربستان او ټول خلیج په خبر دادد چې افغانستان پخپل طبیعي مسیر کې ولویږي او د دې سیمې خلک باید د نورو د تېلي نظام د تشویش نه فارغ وي او همداسې افغانستان د سیمې اولري خلیج په خیر دی او د دې لوی ثبوت د جهاد دوران دی.

په داسې حال کې چې د پومهاجر افغان نه پو بشپړ ولایت په داخل کې ناآرام و ولې په پېښور کې د ود ملیونه مسافرو افغانانو د سولې او وروری ژوند کاوه ځکه چې هغوی د خپل ماحول نه همدغسې الهام اخستی و او افغانانو نه غوښته دویم کور پېښور نارام شي.

همداسې چې افغانستان سبا ته آزاد شي او خلک یې د طبیعي آزادی احساس وکړي هغوي به د هېڅ جهت لپاره خاصتاً د هغه چا لپاره چې په سختو مراحلو کې ورسره د زړه همکاري کړی د ملګرتوب پر ته بل تصور پیدا نه کړي.

خلیج او سعودي عربستان نور په افغانستان باندې هغه حساب نه کوي چې پرون یې کاوه او یا هغوی په دې رابطه داسې ښکارې چې نوی حساب پیل کړی دی چې دا دواړه پخپل وار په

راتلونکې کې خپله د خلیج د حساسې ستراتیژیکې سیمې د فکري او سیاسي امنیت سره سر نه خوري.

افغانستان له یاده ایستل او یا هغه د خپل طبیعي استعداد خلاف استعمالول دواړه خطرناک عواقب لري.

دا یوه مذهبي خبره نه ده بلکې په دې سیمه کې د افغانستان موقعیت او په حوادثو کې د هغه تسلسل داسې راغلي چې همدغه مطلب تأییدوي.

په داسې حال کې چې د روسانو په مداخله ۱۵ کاله تېر شول او مونږ د ډیرو شواهدو شاهد یو داسې به پنځه کاله وروسته وګورو هغه جهتونه چې غواړي افغانستان د خپلې مجبورې ورځې له مخې د خپل طبیعي استعداد خلاف استعمال کړي هغوي به د کوم انجام سره مخامخ شي ؟ .

که څه هم مستېري پخپله وظیفه کې ناکام شو ولې د هغه تجربه ځکه کامیابه وه چې هغه علی الاقل افغانان وپیژندل هلته چې هغه د ناکام ماموریت په پای کې وویل :

« افغانان کېداي شي په کرایه واخستل شي ولې بیع بات نه اخیستل کیږي »

د همدې تصور له مخې باید د خلیج دولتونه افغانستان

Ketabton.com

هېر نکړي او نه هم د نورو خواوو د غلط تصور له مخې هلته داسې څه وکړي چي عواقب به يې خپله هغوي ته معکوس ورشي.

د سېمي حالات همېشه داسي نه وي چي هغه د معېنو لوربونه صدمه ووېني او د خاصو خواونه همېشه ډاډ، د همدې ځايه څوک پوهېږي چي د چين او روسيې په منځ کې احتمالي وحدت د سېمې حالات په بله او لا پسې خطرناک کړي.

که څه هم چين داسې سوابق پري ايښي چي په سېمه کې سوله ييزو روابطو او د ځان په هکله يوه ډاډ من ماحول ته ترجيح ورکوي ولي د يوي خوا دا معلومه نه ده چي چين به تل داسې په دې خط کې پاتې شي او له بلي خوا دا هومثال دی کېداي شي د سېمي د شرائطو په بدلېدلو هند داسې د ځان په نسبت څو برابره نېرومند موقعېت راخپل کړي او يا په لېرې راتلونکي کې د وچې او سمندر په مسائلو کې خليج ته سرخوږ پېدا کړي هلته بيا هم افغانستان خپل سېمه ييز اهمېت ترلاسه کولای شي ولې که په حوادثو کې افغانستان بېواځې پرېښودل شي او يا د دې ملت سره د ځينو خواو د جفا خبره ثبوت ته ورسېږي دا لرې نه ده چي د نسلونو د روحيې د تغيېر سره د املت د پخوانيو دوستانو پر ځای نوي دوستان پېدا کړي.

Ketabton.com

عربانو د اتاترک د ترکیې نه اخستې زخم تراوسه هم پټې نه شو کړای داسې هڅوی ته په کار ده چې د ستراتیژیکو او نفوذي سیمو حساب له ځان سره همېشه وساتي.

کله چې د اسیا په دې سیمه کې انسان د ډېرو هېوادونو نوم واخلي لکه ایران، پاکستان، ترکیه، ازبکستان، ترکمنستان، هند افغانستان په خپله پوهیږي چې افغانستان خپل ځای پوره ډک کړی او په دې اساس پوهیږي چې کـه خدای مکړه دا ځای یوځل تش شو د هغه ډ کول که له بوي خواګران کاردی له بلي خوا د دغه کمبود نه سیمې ته رسیدونکې صدمه هم کېدای شي ډیره لویه وي.

روسان چې د بشپړ شوروي اتحاد په بربادۍ نه غواړي افغانستان له لاسه ورکړي هند چې غواړي په هرصورت د دې خاورې د خلکو سره ښه روابط ولري چین د څو کیلومتره پولې په بنیاد ځان د افغانستان سره تر هر چا نژدې ښیې دا ټول یو مطلب ښیې چې باید خلیج په دې پانګه اچونه کې د نورو نه کم نه وي.

منم چې زمونږ وخت او نړۍ دواړه ډیر بدل شوي دي ولې دا هم باید ومنو چې د وخت او نړۍ د غه پراخ بدلون د همدې هېواد د خلکو د قربانۍ په نتیجه کې لاس ته راغلي دي.

Ketabton.com

کومه ګټه چې خلیج په دې بدلون کې په عاجل او یا تدریجي ډول لاسته راوړي باید هغه د افغانستان د خلکو سره د ستراتیژیکو ملګرو هیوادونو او یا هم مذهب شریکه هیوادونو په شان شریکه کړي داسې فکر ونکړي چې افغانان پخپلو کې جنګیږي د معاملي او ملګرتوب خلک نه دي ځکه چې هغوی پوهیږي چې دغه جنګ په مېداني ډول د روسیې نه فارغې شوې نړۍ پرموږ تحمیل کړي او په دې جنګ کې لوی هدف هم دادې چې د خلیج د ملتونو سره د جهاد په دوران کې قائم شوي روابط او باورونه له منځه یوسي چې اسلام د کمونیزم ځای ورډک نکړي.

د مذهب او دین نه بې برخې شوې ترکیه کیدای شي په دې سیمه کي د امریکا له خوا بده استخدام شي کیدای شي د مذهب نه ګوښې پان ترکیزم رامنځ ته شي.

همداسې کیدای شي د وخت ضرورتونه چین او روسیه متحد کړي یاهند، روسیه او ایران متحد کړي.

د دې ټولو احتمالاتو په لړ کې د مشبتو ټکو ترڅنګ ډېرو ژورو خطرو احتمال هم شته او کیدای شي د دې خطر لومړۍ مخه په سعودي او خلیج وي او په دې ټولو صورتونو کې چې د حالاتو خطر یا احتمال شدید کړي هغه په سیمه کي د دغه افغانستان رول دی چې

بو ځل تېولې نړۍ د روسانو د تجاوز په دوران کې امتحان کړ.

کـه نه د روسانو د نظامي کـودتاوسلسله څـو له افغـانسـتـانـه مـځکې لکه لېونې شرمښ د هر چا لارې بندې کړې وې اود خلېج په زړه کې بې د جنوبي يمن تر خوار سېدلې و.

مـځکې هم پـه افغـانسـتـان باندې خلکو حسـاب نـه کـاوه ولې د حسـاب پـه ورځ هغـه له ټولو خـپل باج پوره کړ داسـې بـه دا داخلي جګړې پای تـه رسـېږي اوافـغانسـتان بـه د ټوې بلې ترخې ورځې پـه لړ کي بيا هم د ډېر وپه سـر سبوري اود ډېــرو له ســرد خطرونـه دفع کړي.

افغانستان كه په كورني جګړه د لتاړ کړ نو همدغو دوستانو لتاړ کړ چي د روسانو له جنګه بې فاتح اوسرلوړي نه شو تحمل کولای په افـغـانسـتـان كي پټ او د پردی لاندې كـار همـداسي نـتـايج ودرلودل چي وي درلودل داسي زمـونږ له ملت ســر د څـــر ګـنده همکاري کولای شی افـغـانسـان سوله ېېز رول ته راستون کړي تر څو ټول تري په کرار شي.

Ketabton.com

۱۴۶۹۱



Ketabton.com

14692





Ketabton.com

## شپږم فصل

# پاکستان

کله چې د هندوستان د خلکو مبارزات د برېتانیا د استعمار پرضد په هند کې خپل پوخ پړاو ته ورسېدل د هند مسلمانانو د خپل عصر د ښېچلي اوضاع په درک سره هغه د فارسي ضرب المثل مطابق چي وايي «جنگ شد بار سر شد بار» هغوي د مسلمانانو لپاره د جلا وطن غږ پورته کړ او په دې لبار کې دانگلیسي استعمار د کړاو پر سر د هندوانو سره هغه زهره چاودې پړاو په مخه کړ چې بالاخره د غو مبارزو د هندوستان تر څنگ د هند همځولی پاکستان وزېږاوه او نن هې له برکته د د غې سیمې مسلمانان په سوري کې دمه دي.

د نېمې پېړۍ په عمر کې د غو مسلمانانو وکولای شول چې د اسلامي نړۍ د هېوادو په کتار کې هغه پتمن مقام راخپل کړي چې نن د ډېرو په نسبت هغوی د بو مطرح دولت نه برخمن دي بلکې د خپلو هلو ځلو له برکته نن د اتومي تجربو په کامیابه مرحله هغوی

Ketabton.com

سره دا احساس شوی چې په دې لحاظ هغوی په نړۍ کې انځواک دی.

د پاکستان له آزادۍ سره جوخت پاکستان په افغانستان کې د وخت د حکومت د مخالفت سره مخامخ او ورورسته د روسانو اوهندوانو په تحریک هغوی د پاکستان سره د دښمنۍ پر پوله ودرېدل.

د امان الله خان وروسته راغلېو حکومتونو د انګلېس سره د تفاهم اودوستۍ لار ونیوله بلکې د هندوستان د خلکو دازادۍ په مبارزه کې دغو حکومتونو هېڅ ډول مثبت کردار اجرا نه شو کړای له همدې ځایه چې د پښتونستان مطالبه د پاکستان د جوړېدو سره جوخته مطرح شوه د هغوی دغه کار هوازې د پاکستان سره د مخالفت معنا ورکړه .

د محمد ظاهر شاه دوران ټول د پاکستان سره کله په مړو روابطو اوکله هم د دښمنۍ تر پولې پورې لاندې باندې روان و کله چې سردار محمد داود خان د ظاهرشاه پر ضد نظامي کودتا بریته ورسوله فکر کېده چې کېدای شي د دغو دواړو هېوادونو د تضاد خلیج نورهم پراخ شي ولې په ١٣٥٤ کال چې پاکستان د فراري مسلمانانو په ذریعه نظامي عملیات اجراء کړل د دغو

عملیاتو داخلي او سیمه ییز اثرات داسي راغلل چي سردارصاحب دځینو نورومسائلو له مخې چې سردار داوودخان یې په داخل کې د کمونستانو او په بهر کې د روسانو د توجه کوونکي فشار سره مخامخ کړ تر څو د پاکستان سره د تفاهم او دوستی لپاره ونیسي.

داوود خان د پاکستان سره د تفاهم سیاست او د خلیج دولتونو سره د تودو روابطو پیل او په افغانستان کې د یو مترقي پروګرام په رابطه د روسیې د انحصارنه د وتلو او د غربي دولتونو سره د آزادو روابطو قرباني شو او افغانستان د هغو سرو افراطیانو په لاس کې ولوید چي ترهرڅه کیدای شول پاکستان ته خطرناک و.

د ثور د کودتا د سر سره د ستالین د څوانی د دوران کمونیزم ته په وطن کې داسي لیونی هڅې پیل کړې چې د یو کال په لړ کې ئې د جعلي تأیید ونکیو جبري مارشونو څلوربرابره هیوادوال پاکستان او ایران ته په پټه تیښتیدلو ته مجبور کړل چې بالاخره د څو کلونو په تیریدو د دوی په اصطلاح د فراریانو همدې بابیزد مقاومت په شوروی اتحاد کې د بین المللي کمونیزم او په کابل کې د تره کي د عامیانه کمونیزم جنازد خاوروته وسپارله.

که څه هم د آزادي وروسته د سیمي وروستي تحولات چندان په زړه پوري رانغلل ولې یوحقیقت چې په هیڅ صورت یکې نوی نظر

Ketabton.com

نه شي مطرح کېدای هغه دا دی چې نه داچي د کود تا نظام سرد مذهبي خلکو ته ژوند گران و بلکې هر هغه افغان ته هلته ژوند گران و چې علی الاقل د عقل خاوند او د خپل ملي کلچر سره ئې هغه نېمگړې رابطه پاتې وه د همدې ځايه پاکستان ته د خلق او پرچم له غړيو پرته د ټولو سياسي ډلو پلويان را مهاجر شول بلکې په دې کې هغه چېنايي سرسخته کمونستان هم و چې مخکې د شعله جاوېد په عنوان يادېدل.

په هندوستان کې د دې فکر حکمت چې مسلمانان بايد ځانته مستقل هېواد ولري کله بل هيڅ شي هم نه شي دا پکې لوېه خبرد شو د چې پاکستان دافغانستان د خلکو لوېه سرپناد شو د او که همدا سرپناد هم نه وه په افغانستان کې به د خلق او پرچم د مظالمو د نظام تېنگېدو په هېواد او سېمه کې د هلاکو کېسه په باد سپارلې وه.

پاکستان له افغانستان له خلکو سره هغه همکاري سرته ورسوله چې يو مسلمان يې بايد له بل مسلمان سره سرته ورسوي.

دد فخر خبر د پر ځای پرې ابنېي د د همداسې دا فخر د پاکستان د بچي د همکار يو پورې تړلی تاريخي افتخار دی.

کېداي شي بين المللي قضاوت او نړيوال تعاون پاکستان ته ډير

جرأت ورکړی وي ولې حقيقت دادې چې پاکستان د تاريخ د لوی هجرت د کوربه افتخار وګاټه او هغوی نن د همدغه افتخار له برکته پرمخ روان دي.

درې ملیونه مهاجر او هغه هم د (۱۰ - ۲۰) کلونو پورې پخپله خاوره کې ځايول د لويو قدرتونو په وسه کې هم نه و پاکستان خو يو ډير بېچاره هيواد دی ولې دوخت د حکامو رواداري او د ملت بې کچه پېرزوينه وه چې د دغه لوی عدد مسافرو لپاره يې د لته د جنګ په سختو ورځو کې د دمې او باور ځای ورکړ.

د جهاد د دوران روابطو وښودله چې څومره چې پاکستان د افغانستان څخه وېره درلوده د جهاد او مقاومت دوران هغه په داډ او اطمينان بدله کړه او داسې يې د سيمې ملتونو خاصتاً پاکستاني ملت ته ثابته کړه چې افغانان هيڅ بې حسه خلک نه دي چې د بل هيواد تحولات يې د خپلو ګاونډيانو پر ضد استخدام کړي بلکې په دې رابطه دا خبره څرګنده شوه چې افغانان په دوستي او دښمنۍ کې خپل اصول لري او همدا اصول وو چې د دوست شوروي اتحاد په راتګ يې افغانان د خپل مخالف پاکستان سره د دوستۍ په کرښه ودرول ځکه زمونږ په اصولو کې روس او پاکستان هيڅکله په يو تله کې نه تلل کېږي د همدې ځايه پاکستان بايد د هندوستان خبره هم پدې تير نرخ

حساب کړي.

همداسې چې زمونږ خلکو د کودتا مخکې پاکستان ته کوم نظر درلود هغه د جهاد په دوران کې عوض شو په دې معنا چې پاکستاني ملت پدې ورځ کې د هر خطر د مقابلې په حد کې ملت دې باید پرې حساب وشي.

همدا پورته تصور دې چې د دغو دواړو ګاونډیانو راتلونکې او په دې سیمه کې د هغوی تاریخي ضرورت ته قیمت ږدي ځو مرد چې د کودتا رژیم د پاکستان لپاره خطرناک و د افغانستان ملت په میړانه د هغه مخه پرې کړه او دا هغه قیمت دی چې ګاونډی پاکستان یې باید افغان ملت ته په دې سیمه کې ورکړي.

څنګه چې د کودتا د رژیم بقا د افغان ملت لپاره په کلتوري او مذهبي لحاظ یو تاریخي مرګ و د پاکستان او د دی هېواد خلکو د غه جرأت مندانه حسابه وو چې د دې سیمې نه یې د لوی خطرناک کمونستي سیلاب مخه چپه کړه او دا هغه قیمت دی چې باید ګاونډی افغانستان یې د خپل ګاونډي پاکستان لپاره ومني.

که څه هم پاکستان او افغانستان ګډ تاریخ، مشترک مذهبي او کلتوري خصوصیات لري، دوښې او ګاونډ مشترکات لري خو د جهاد د دوران ګډه همکاري او د روس په شان یو ستر قدرت ته په

یو د کرښه ثابت د رېدل هغه څه دي چې دا ملتونه باېد په پاتې ژوند کې نور هم سره نژدې او بود بل په نسبت د شکوکو اوبې اعتمادۍ نه د پوخ باور مرحلې ته وکاږي.

څنګه چې د جهاد دوران یو د غسې مرحله وه چې باېد پرې حساب وشي د همدې ځا په لکه څنګه چې دې همکارۍ مونږ د روسي اشغال له ذلته وژغورلو او په سېمه کې مو خپل تارېخي حېثېت ثبوت ته ورساوه ، پاکستان هم همدغه نتابج لاس ته راوړل منتهی پاکستان د خپل هېواد نه یو قدم مخکې خطر دفع کړ او خپل هېوادئې د مخاطرو د تهدېد نه لرې دوراني او وېجاړې او د جنګ د ناخوالو نه بچ کړ ځکه چې که جنګ په افغانستان کې باېلل شوی و نو حتماً جنګ پاکستان ته رانقلېده.

پاکستان د جهاد په دوران کې ځان هغه پاکستان ته پورته کړ چې نن یې د نړۍ خلک د بود مطرح هېواد په توګه پېژني.

همداسې د دې هېواد په خلکو اوپوځ دواړو کې د پاکستان د ساتلو او په ځان د اعتماد یو قوي روحېه رامنځ ته شوله چې امېد دی هغه په همدې حد کې وچلول شي او د خپلو ګاونډیانو لپاره د اطمېنان باعث شي نه د تشوېش. په افغانستان کې د روسانو لتاړېدو د پنتاګون لپاره د سیاسي او نظامي ښکار موقع برابره کړه

څنګه چې که شوروي اتحاد او سور کمونېزم د پرهم خطرناک و نو دامپرياليزم او امپرياليستانو لپاره او امرېکا د دغې هڅې لومړی او وروستي تارګېټ و.

څو مره چې امرېکا د دغه ښکار لپاره د پاکستان د زمکې نه شرائط برابر کړل او د وخت حکومت په دې رابطه د وسيعې همکارۍ زمېنه پرانستې وساتله د افغانستان په رابطه بل هېڅ هېواد په دې کچ مخاطرو ته چمتو نه و.

که د شاه د وخت ايران پر ځای پاتې شوی وای او امرېکا قضيې ته له هغه لوري اهتمام کړی وای باور دی چې د افغانستان نظامي اوضاع به داسې د ټولو په ګټه نه وه غورېدلې لکه څنګه چې يې رنګ را وړو او بريته ورسېدله.

د جهاد په دوران کې د پاکستان سروې معامله توجېه فرمائشات او مهاجرېنو ته ورکړل شوې آزادي ټول پرخپل ځای دقيق او د جګړې د تدرېجي تحول سره د په مناسب حد کې و او همدغه ټول د پاکستان په موجوده ارزښت اثر لري.

پاکستان د افغانستان په شان په يوه تو د او حساسه قضيه کې خپل ازميښت ورکړ او د دې ازميښت نتايج يې د يوه قوي پاکستان ترحده هم واخستل او څو مره چې هغه د دغې قضيې په

ماحول کې عاجله ګټه پوره کړه د هغه سل برابره به په سېمه کې د ګټېل شوي نفوذ ، پېداکړي او صرفه کړي تجربې له مخې په راتلونکې پوره کړي پاکستان د روسانو د وتلو په مهال د روسانو له خطر او مطرح عکس العمل نه ډاډ من شو همداسې هغه د نجیب د سقوط په مهال په افغانستان کې د پاکستان د ښمنو کړېو تسلسل ورمات او د استاد رباني په لېږد ولو هغه په افغانستان کې د خپل نفوذي اثر او رسوخ نه عملا مطمئن شو او د اسې پاکستان ځان د افغانستان سره په دې لین کې حساس پړاو ته ورساوه چې دا ټوله سلسله ښيي چې پاکستان د نجیب په سقوط د افغانستان د ګاونډېانو په کتار کې ځان د سر ستراتیژیک ګاونډي حد ته پوره کړي.

پاکستان غواړي چې د دښمن هند او دښمنې روسیې په منځ کې د افغانستان د خلکو دوستي د جهاد د دوران د همکارېو په بدل کې ځانته یقیني کړي او د نجیب د سقوط په مهال پاکستان د د غسې دوستي هغه د سرڅوکه راخپله کړې وه د له همدې ځایه هغه ملت چې د ډېر کمکي پیغور په وړاندې هم کلونه کلونه توقف کوي د خپل هېواد د سرنوشت په باب بې د پاکستان په خاوره کې مکرر مکرر تصمېمونه ونېول او دا په یقیني ډول د دې روحیې له مخې وچې

Ketabton.com

زموږ خلکو نور په دې خاورد کې د پردي توب هغه پرونی کم احساسي له لاسه ورکړې وه اودا د پاکستان دملت اوحکومت تر تولو لویه سیاسي کامیابي وه .

داچې پاکستان به دا روحیه ترکومه وخته وساتي او یا دا چې اوضاع اوداخلي جنګونو دافغانستان دخلکو په فکر اوتصورکې څه بدلونونه راوستي دي اونور به هم راولي که څه هم دا هغه سوال دی چې باید د پاکستان سیاسي مشران په ځان ډیر مصروف کړي ځکه دوستان پیداکول که سیاسي هنر دی نو د دوستانو ساتل تر هغه هم لوی هنر دی.

په دې دوستۍ کې نه باید د سیاسي ډلو په تأیید اوترديد حساب وکړل شي بلکې په کوڅه کې د روان عادي افغان تصور او اندیښنې د دې دوستۍ لپارد ارقام تاکي که څه هم پاکستان اوس د پخوا په نسبت قوي او غښتلی دی ولې بیا هم دهغه کامیابي د افغانستان او په افغانستان کې د دوست حکومت پورې زیاته تړلې ده ځکه چې د یوې خوا هغه د پاکستان په نسبت منځنۍ اسیاته یود مهمه دروازه ګڼل کیږي او د بلې خوا هغه په دې حساسه سیمه کې د پاکستان تجربه شوي سیاسي اومذهبي ملګري چې په سیمه کې د بل هر ګاونډي سره د نامناسبو حالاتو په

Ketabton.com

مهال کېدای شي هغه ته د اعتماد او تعاون د مه ځای شي.

ولې يوشی چې بايد د پاکستان خلک درک کړي چې د افغانانو راضي ساتل او د هغوی سره د ملګرتوب خبره تر ډېر حده د طبيعي روابطو پورې تړلې نظر دی ته چې څوک د املت په چل او يا په زور راخپل کړي، ځکه د زور سره د املت فطرتاً کرکه لري او روسانو په همدې کې بايلود دا او د چل خبره که څه هم د يو منزل پورې په دې هيواد کې چلېدای شي ولې د هغه افغان راضي کول او ملګرتوب هم ډېر ګران دی چې يو ځل په خپل ملګري بې باوره شي له همدې ځايه د نجيب د سقوط نه وروستی دوستي يو طرفه د پاکستان مسؤوليت دی ځکه چې زمونږ په هيواد کې تر اوسه يو مرکزي ،د خلکو د اعتماد نه برخمن حکومت لا نه دی راغلې چې د دې دوستۍ لپاره پولې او اصول وټاکي او د افغانستان د وزن مطابق تفاهم او تعاون ته مخه کړي.

تېر شل کلونه داسې راغلل چې پاکستان او افغانستان يو د بل لپاره په وخت قرباني ورکړه او دواړو هيوادو خپل سيمه ييز مسؤوليت او رول پوره اجرا کړ او يکې ئې خپل ملي مصالح خوندي کړل منتهي په دې تفاوت چې په دې جنګ کې راغلي افغانانو زياته صدمه وليدله او د روسانو د ماتې په پای کې هغوی

Ketabton.com

ته دوران هېواد آواره ملت، رنګې شوې اردو نه بل څه نه دي پاتې بلکې دغه د پاسه پوره تپل شوې بله جګړه ېې چې په پاتې شتمنۍ بې لګه اور خوله لګولې روانه ده .

د روسانو او کمونېزم په راتګ خطر ټولې سېمې ته متوجه و روسانو د هوبین المللي قدرت په حېث د افغانستان تر څنګ په سېمه کې نور ګنې حسابونه په مخکې نېولي وو . په اېران کې ېې خپل عمال د امام خمېني سرد په روان انقلاب کې ورګډ کړي و او په هغوی ېې پوره حساب کاوه داچې امام خمېني په وخت په هغوی لاره بنده کړه بېله خبره ده .

همداسې روسانو په پاکستان کې هم ورته قوي پروګرامونه درلودل چې د همدې خطرناکو پروګرامونو له مخې د پاکستاني بلوچانو خېمې په افغانستان کې ودرېدلې او د وخت د حکومت مخالفېن په کابل کې دېره شول او په دې خاطر چې ددې هېواد دمخالفېنو ملګرتیا یقېني کړي د ښاغلی بوټو د زوی لپاره ېې هلته د پائېښت خېره په ازدواج ودروله څنې نور اېالتې مخالفېن تر پایه هلته دېره دو او په سند کې څېنو د سېمه پېزو ګټو په خاطر جدي جنجالونه را پېدا کړل .

همداسې د ولېخان کوکي خپل عمل خپله بوده عادي پېښه نه وه

چې د دې زېاتو پروګرامونو ناکامي دافغانستان په ژوندې مقاومت پورې تړل شوې نتيجه وه.

دا سهي ده چې دافغانستان د حالاتو تدريجي انکشاف اوهلته د بې باکه مظالمو لړۍ ټول پاکستاني سياسي احزاب په دې قانع کړل چې د وخت د حکومت له خوا د طرح شوي سياست په تأييد کې ټکنۍ او دهغه د تأييد نه ګوښې نه شي.

په دې رابطه جماعت اسلامي او جمعيت العلماء د تأييد کونکود کتار په سر کې و.

نېشنل عوامي پارټۍ چې دافغانستان د حکومتونو سره د خپلې دوستۍ د تسلسل په حد کې وه هغې په ټول دوران کې د کابل سره داسې جدي همکاري چې د کابل اوپا مسکو واکدارانو شمله پورته کړي ونکړه د بلکې د دوستۍ د ژونديو تبليغاتو په اوج اوج کې د پرچم اونېشنل عوامي ګوندونو ترمنځ پوره بې اعتمادي وه ولې دواړوخواو په خپل ماحول کې د خپلو مخالفينو د جذبې د قوي کېدو له وېرې د چوپې خولې سياست ته ترجيح ورکړې وه.

د کابل رژيم د نېشنل پارټۍ عدم فعال رول نه زړه تنګ وولې د

نېشنل عوامي پارټۍ د قیادت سره د اقوي شک و چې د کابل رژیم په د روسانو په همکارۍ د الویه پای ته ورسوي د همدې ځایه هغوی د غسې یوسیاسي قمار ته زړه ښه نه کړ بلکې د همدې ځایه خان عبدالغفار خان پاکستان ته راغی او دلته تر هغه ستون شو چې بالاخره د مرګ وروستی وصیت یې مړ پاچا خان هغه هېواد ته ستون کړ او دا د هره ژوندی معنا لري.

د کابل رژیم په وروستیو کې خپل تعلقات او روابط د نشنل پارټۍ د مرکزي رول نه جلا په پاکستان کې په قبایلي سیمو کې پیل کړل.

ولې نور په کابل کې محاصره رژیم د دې توان نه درلود چې په پاکستان غوندې هوښیار ملت کې د کار زمینې پیدا کړي.

بوائې پیپل پارټۍ چې د ضیاءالحق حکومت سره د دښمنۍ په کرښه ولاړه وه هغې سره د سیاسي مبارزې په حد کې کله کله د پارټۍ د ټیټې پایې رجالو په خوله د افغانستان د قضیې پر خلاف کلېواله پروپاګنده کېدله د ګوند مرکزي قیادت یې له زړه په دې قانع و چې په د غسې شرایطو کې پاکستان باید همدغسې سیاست راخپل کړي بلکې ما خپله چې د افتاب احمد شېرپاو سره د پېبو

ملاقات کې ولېدل هغه وويل چې په دې جګړه کې موږ ستاسې په خواږو او که روسي ټانګونه تورخم ته راغلل د غسې به ئې مخه نيسم لکه ته ئي چې به کابل کې نيسې

ځکه خو کله چي د حکومت واګې بې نظیر بوټو ته ورسېدې نو په دې باب کوم کلي تغییر په پالیسی کې را نه غی.

ولې د غه هوښیارې او د نظر وحدت چې د پاکستان په خلکو کې لېدل کېده نه ښاهي هغه په افغانستان کې د هغه پراخ مقاومت د اثراتو اوهم د امریکې له رسوخ نه جلا مطالعه کړل شي بلکې تر ډېره دادافغان ملت د هغه پراخ عکس العمل سره تړلې خبره وه چې د وخت د رژیم اود روسانو د اشغال په مقابل کې یې د رې ملیونه آواره پاکستان ته حواله کړل اوهمدې قضيې دافغانستان په باب د پاکستان دخلکو په تصـــور کي مـــوجـــود تفاوتونه نژدې کړل.

پاکستان او افغانستان باید د همدې شل کلنو روابطو ،ملګرېو او په دې رابطه د جګړې او سیاست په میدان کې د لاسته راوړلېو کامیابېو په حساب خپله راتلونکې عباره کړې او د همدغه تعامل

Ketabton.com

له مخې د سېمه ييزې اوتړوالې مشتركې ملګرې حدود اوپولې سره وټاكي.

ولې د دغسې يو اوبدلي مشترك سياست خبره له بنياده په افغانستان كې د پاكستان په شان تر يو سيال اوملي حكومت پورې تړلې خبره ده .

دهمدې ځايه پر جنګي ډلو حساب اودهغوى پرحكومت اوملګرتوب حساب كول پرته لدې چې د جهاد د دوران دغه دوستانه ماحول اوسپېڅلي روابط ګډ وډ كړي په طويل المدت كې په هغوى باندې هرسياسي حساب بې ځايه او بابېزه كاردى.

روسانو په افغانستان كې د جنګي ډلو په حكومت اعتماد وكړ ، ولې ددې پر ځاى چې هغوى پرملت وتپلى شي په خپل پراخ هېواد كې د پښو د راټولېدو نه هم ولوېدل او دهغه انجام سره مخامخ شول چې نورېې دغه دكلونوكلونو ملګري سر په صحرا پرېښودل.

پاكستان بايد د افغانستان دخلكو دشناخت نه فارغ شوى وي او خپل روابط دهمدې ژور معرفت په حدكې عيار كړي.

هغه څه چې په افغانستان كې د يومنلي مقبول حكومت په وړاندې خنډ دى بايد پاكستان د هر څه نه مخكې دافغانستان

Ketabton.com

دخلکو سره دهغه په لرې کولو کې هڅه وکړي چې د پاکستان سره ددوستۍ عملي خبره هلته د پوښنبادي حکومت سره د پخلې مرحلې ته ورسوي او دواړه هېوادونه دغه چانس، ظروف او فرصتونه له لاسه ورنکړي.

که په افغانستان کې بو باثباته حکومت وای نن به پاکستان له هغه سره دېود پاخه سبمه ییز مشترک سیاست له مخې په سبمه کې زیات قدمونه پورته کړي وای ولې داجنګ دی چې هم بې پاکستان مصروف کړی او هم افغانستان.

پاکستان پخپله طبيعي هڅه کولای شي ډېر څه وکړی او ډېر بې وکړل هم ولې هغه څه چې دافغانستان سره په ګډه په سبمه کې سرته رسول غواړي هغه بلا شبهې په افغانستان کې دېود داسې حکومت پورې تړلې خبره ده چې د بوې خوا ملت انتخاب کړی وي او له بلې خوا دخپل ملت سره په جنګ کې مصروف نه وي.

دغسې بوحکومت چي پخپل هېواد کې د جنګ خبره نه په جنګ او نه په خبرو حل کولای شي هغه که دخپل ملت سره ډېر څه وکړي خو بیا هم په سبمه کې دبل هېواد سره هېڅ نه شي کولای او بیا هغه به له ګاونډیانو او بیا پاکستان سره څه فعال کردارادا ء کړي؟

دا پر ځای ده چې داستاد رباني په حکومت کې د اسلام آباد او کابل غلط فهمي داستاد رباني پلویان بر ناحقه دوه ځله د پاکستاني سفارت پر ضد مظاهرې او عکس العمل ته وپارول ولې د مسعود پر ضد نه ښایي پاکستان د داسې عکس العمل د پالیسي په چوکې کې ځان وغورځوي چې د پوه بشپړ ملت سره د دوستانه ماحول په لټه کې هغوی د پارتیو په منځ کې د ترجیح او تأیید ستومانوونکي لاره ونیسي.

که احمدشاه مسعود پر همدغه پالیسي چې روان دی ټول افغانستان هم ونیسي ملت به هغه ته د دې اعتماد ورنکړي چې د ملت په نمایندګۍ د خلکو لپاره حکومت جوړ کړي.

همداسې هر د جنګي ډله چې له جنګ پرته په ملت کې د تمثیل طبیعي حق نه شي تر لاسه کولای هغه به په جنګ پورې تړلې پاتې کیږي.

طالب د کابل د فتحې په مهال ښه فرصت تر لاسه کړ ولې د جنګي سیاست ادامې د هغه نه د پوملي منل شوي حکومت ظروف وتښتول له همدې ځایه افغانستان که له پوې خواد استاد رباني مسافر حکومت نه شي تمثیلولای همداسې طالبانو هم ملت ته د پوبشپړ اعتماد ورکولو لاره بنده کړه او ځان یې د احمدشاه

مسعود سره په عکس العمل کې دومره کمکی او مصروف کړي چې د افغانستان خلک اوس هغه په همدغه حد کې پېژني.

که مسعود او طالبانو خپل ملت په جنگ کې هېر کړ او هغوی بوازې خبرو په سنګر او ټوپک کچ کوي د پاکستان خلک او حکومت باید د افغانستان ملت هېر نکړي. او هغه لار خلاصه کړي چې د جنگ په پای کې خپله راتلونکي او خپل مسائل د ملت په سطح مطرح او هم حل کړي.

په دې ملت کې داسي خلک دي چې په کورکې ي بومبل کلا شينکوف هم نشته ولې د ملت سره داسې ژوره رابطه لري چې نه غواړي يو د مرمی هم د ملت پر خوا فېر شي.

له همدې ځايه د ټوپک او مرمی خبرو نور د کابل د فتحې په مهال ختمه شوه ځو ک چي دا کار په تود د جذ به پر مخ بباېي، هغوی بې د خپل ملت په خاطر نه بلکې د خپل ځان او يا اجنبی طرف په خاطر پرمخ بباېي.

د افغانستان ډېر د رانه ثقه علما ، قومي مشران ،اهل خبره ،لبکوالان او د جهاد د راند ه قوماندانان شته چې د کورني جنګ په مهال په کورناست دي د پر د ولپارد د کار نه ننگ کوي ولې هېڅوک په هغوی حساب نه کوي ځکه چې د هغوی لارد بدله دد.

پاکستان باید خپله راتلونکې د دغسې عزیزو افرادو د تصوراوهغوی ته دخپل هېواد لپاره دکار د فرصت د برابرولو له مخې تنظیم کړي .

افراد اوجنګي ډلې به تن وي سبا به نه وي نن به ډېرې قوي وي سبا به ئې په مېنه دنوروکډې پرتې وي لکه همداسې چې هغوی خپله وینی .

په جنګ کې لتاړ افغانستان یخپله د پاکستان اواېران لپاره ورځ په ورځ مشکلات پیداکوي ، عادي او طبیعي روابط یې پکې صدمه وینی په سیمه کې په تپه ولاړ کارنور هم خپل طبیعي چانسونه له لاسه ورکوي .

په جنګ کې که ترېوه حده ګټه تر لاسه کوي هغه اېران دی ځکه چې د افغانستان ګډوډ حالات د منځنی آسیا هېوادونه بالاخره د اېران دامنیتي خط نه دلارې پرانستلوته اړباسي او همداسې دافغانستان ګډه وډه اوضاع امریکا د بلې خوا یااېران سره دجوړې په خوا پاهم د منځنی آسیا د ذخایرولپاره د ترکیبي په لارد خط اېستلوپه خوا راکاږي چې داټول په عاجل او آجل کې دافغانستان او پاکستان دواړو په ضرر تمامیږي او په هغه صورت کې چې پوځل دغسې معامله باېلودله شي تلافي یې هم آسانه

کارنه دی

پاکستان کولای شي د احمد شاه مسعود تسلط او نفوذ له دې حده نور هم راکم کړي او په اوږده ساه کې کېدای شي د هغه لپاره نور مشکلات هم پیدا کړي.

په دې باب د پاکستان شدید مخالفت او د هغوی د گوزارونو تسلسل د ځان سره د افغانستان د ځپل شوي او ستړي ملت جانبي ناخوالې او په مستقیم ډول د پاکستان په نسبت د ژور خفگان خبره تړلې د پاکستان په شان هوډولت چې سهار او مازیگر د افغانستان د حالاتو نه پوره معلومات لري باید د معلوماتو د تقاضاو په حد کې خپله پالیسي په رواداری جوړه کړي.

احمد شاه مسعود که د پاکستان سره د ځنې مسائلو له مخې په سیاسي جنگ کې ولوېد هغه او س د یو مقبول او منلي حکومت د سوبې نه ډېر تیټ دی. د هغه سره پاکستان باید د مقابلې داسې لاره راخپله نکړي چې د پاکستان په هوډ څېړه هلته د مسعود ترڅنگ نور شل مخونه خوږ شي.

پاکستان په افغانستان کې د روسانو د نظامي مداخلې او بیا د دې نظامي مداخلې پر ضد د افغانانو د مسلح مقاومت په مرحله کې ډېرې تجربې لاس ته راوړې او د دې ټولو د پاسه نن پاکستان د

Ketabton.com

اتومي چاودنې په کامیاب پروګرام ځان په نړۍ کې نور هم قوي مطرح کړ چې دا ټول ایجابوي چې پاکستان په سېمه کې د یو وسیع نظر اود درګېرۍ نه دلرې پالیسۍ له ګړیوا نه سر وباسي.

پاکستان پرون دنړۍ د یو قوي سیاسي مقاومت مرکزي رهبران اواساسي ډلې په کور کې لرلې اود جهاد ټول مشران په همدې پاکستان کې د خپلو کورنیو اوخپلو مرکزې ادارو سره د اوږدې زماني لپاره پاتې شوي واو بالاخره د افغانستان تر آزادۍ وروسته دافغانستان حکومت هم د پاکستان په مشوره او تأیید د همدغوډلو په لاس کي کیووت . ولې نن حالات هلته ورسېدل چې دجهاد د وخت اکثریت رهبران له پاکستان څخه بهر دي او هغه ځنې یې چې په پاکستان کې پاتې هم دي کېدای شي په روحیه او جذبه کې یې د یر فرق راغلی وي.

پاکستان دافغانستان په باب دخپلې کامیابې پالیسۍ اوږد تاریخ لرې ولې دنن پاکستان باید وګوري چې روانه معامله او روان سیاست په افغانستان کې دهماغه پخواني سیاست تسلسل دی او که یکې نوې خبرد پیل شوې دد ؟

پاکستان کېدای شي د ایران، ازبکستان، ترکمنستان او نورو استانوسره د پرمخ تللي روابط او دوستانه ماحول جوړ کړي ولې په

ACKU

Ketabton.com

دې رابطه چې کوم بنیاد پاکستان په افغانستان کې لري په هېڅ ډول هېواد کې یې نلري.

پاکستان باید د غسې ډول افغانستان چې د خلکو جذبه او تعلقات یې له پاکستان سره د ملګرۍ پر بنیاد وعمدا او یا سهوا د نورو هېوادونو د مداخلو په دام کې ور نکړي.

پاکستان په هماغه اندازه چې له هند سره د ټکر او دښمنۍ د خطر احساس کوي باید د هغه دود برابر د له افغانستان سره خپل موجوده تعلقاتو سلسله کلکه او ژوره کړي او د دې کار لومړۍ شرط دادی چې له پاکستان سره په اختلاف کې کښېوتلي جهتونه هم د خبرو او دپلوماسۍ له لارې راخپل او هغوی پرې ښه دي چې د پاکستان سره د نه تفاهم او یا غلط تفاهم له مخې د نورو په هغه دام کې ولوېږي چې اصلا نورو د پاکستان پر خلاف اېښی دی.

همداسې که پاکستان ته دا حیاتي وي چې د منځني آسیا هېوادونو سره د تجارت او سیاست په دواړو اړخونو کې پاکستان کې ښه او مؤثر کردار ولري نو باید چې له افغانستان سره د ډول داسې پراخې دوستۍ لار ولټوي چې طبعاً دغه دوستي باید د ملت د روحیې په بنیاد ولاړه وي نه د خاصو احزابو او جهتونو د حمایې په جهت کې او د غسې یو حالت ته رسېدل حتماً د ځان سره د

ضیاءالحق د وخت هغې مفتوحې پالیسی ته راستنېدل لرې چې د مختلفو جهتونو لپاره یې په مقامت کی د کاراو حضور شرایط برابر کړي و.

کېدای شي ځنې داخبره خپله د افغانستان په باب د هغه وخت د سیاست خامي وګڼي ولې وخت وښودله چې د ګاونډیو هېوادونو مراقبت او د خاصو ډلو لپاره اسباب برابرول د مداخلې معنا لري

همداسې که پاکستان غواړي چې د جهاد د ورځې د دوستۍ تسلسل راخپل کړي او راتلونکې خطرې د افغانستان سره د دوستۍ او وحدت له مخې دفع کړي نو باید چې د افغانستان خلک پخپل طبیعي اخ و ډب کې آزاد پرېږدي چې هغوی پخپله کې د هجرت په ظروفو کې د وطن او هېواد راتلونکې د جګړې پر ته معلومه کړي.

پرون که روسان د سیمې او خپله پاکستان له پاره خطرناک و دا امکان لري نه دی چې دا لرې امریکا خپل مسایل د چین او یا هند سره په هغه حد کې حل کړي چې د سیمې اوضاع د پاکستان او افغانستان د واړو لپاره خطرناکه شي او هلته که پاکستان او یا افغانستان د هر تدبیر هڅه وکړي د پاکستان او افغانستان ګډ تفاهم او ګډه همکاري به هلته د دغه تدبیر په کړیو کې د مرکړي

وی له همدې ځایه مخکې له دې چې د غسې اوضاع رامنځ ته شي باید افغانستان او پاکستان پخپلو کې پوپر بل باندې د تفوق د حاصلولو غلط تصور پرېږدي او د نننۍ اروپا په سوېه د پوې قوې مرکزي آسیا د مرکزي رول لپاره د مخلصانه ابتدائی کار جذبې ته ځان وقف کړي.

څو مره چې پاکستان کولای شي ځان ژر د افغانستان نه فارغ کړي په هماغه اندازه افغانستان هم د پاکستان سره عملي همکاری ته فارغیږي.

هغه مشترکات چې د نننۍ متحدې اروپا د غړیو په منځ کې د وحدت او ګډ سیاست زمینه برابروي د هغه د وه برابره مشترکات د پاکستان او افغانستان او ایران د ملتونو په منځکې موجود دي منتهې د دې هېوادونو رجال او رژیمونه باید لومړی د غسې منزل ته د رسېدو لپاره خپل منځی اعتماد تقویه او بیا مشترک سیاستونه د دوارو یا د ریوارو هېوادونو د ممثلو نظامونو ترنظارت لاندې په تدریج سره طرح او تطبیق کړي.

په د غسې اوضاع کې پر مخ تللي قدمونه طرح کول او بیا اختلافي مسائل مطرح کول د هغو هېوادونو د مصلحت خبره د د چې نه غواړي پاکستان او افغانستان په دې سیمه کې د هغه

سیاست او همکاری ادامې ته راو ګرځي چې دا شل کاله یې پخپلو کې درلودله.

پاکستان او افغانستان په سیمه کې داسې مشترک مصلحتونه ډېر لري چې دواړه یې بوازې د وحدت له مخې لاس ته راوړی شي.

په دې برخه کې د لیونۍ سیالۍ ضرورت نه لیدل کېږي؛ مثلاً که د منځنۍ آسیا د ذخائرو تجارتي لار داو مسیر د افغانستان له خاورې تېر شي دا د پاکستان او افغانستان دواړو په ګټه قدم دی .او هرطرف له دې نه پخپل حد کې ګټه اخستلای شي او په هغه صورت کې چې افغانستان د دغسې حیاتي پروژو نه محروم شو پاکستان ته هم څه په لاس نه ورځي.

په هغه صورت کې چې د افغانستان غني منابع د امنیت په راتلو د استحصال په حد کې شي نو په دې رابطه د پاکستان د تجربو ، متخصصینو او ډېرو ګډ سیمه ییز پروګرام له لارې د ترقی او پرمختګ د پروژو فعالول خپله افغانستان ته د هغه قیمت په نیمه تمامېږي چې د ځنې استعماري دولتونو درانه شرایط او د استثماري کمپنیو استثماري روتینات یې ایجابوي.

ولې د غسې مترقي پروګرام هماغسې د ډېر قوي مرکزي

حکومت حمایه غواړي.

که څه هم جریانات د بین المللي مسلط نظام له مخې د سیمې هېوادونو په منځکې د تفاهم او تعاون په ځای د فاصلو او بدبېنۍ په خوا روان دي ولې باوري یو چې که د پاکستان او افغانستان سیاسي احزاب خپل داخلي شدید مخالفتونه راکم او خپله توجه د سیمې مسائلو ته واړ وي د دې قوي احتمال شته چې د پاکستان او افغانستان د سیاسي ډلو په منځکې موجوده معرفت و کولای شي چې د دواړو هېوادونو د خلکو د دوستۍ خبر د یو حساب شوي سیمه ییز پروګرام له مخې په دې سیمه کې د هرې بېګانه مداخلې او هر اجنبي پروګرام مخه ونیسي.

په پاکستان کې ځنې جهتونه د یوه قوي افغانستان څخه چې مرکزي قوي حکومت ولري بې ځایه تشویش لري فکر کوي کمزوری افغانستان به د پاکستان په څنګ کې ګټور ثابت شي.

پاکستان د ټول هرڅه سره چې لري بې بیا هم په سیمه کې د دېرو قوي او مطرح قوتونو په منځ کې واقع دي چې په یوازې صورت به پاکستان ته کله کله ګرانه شي چې د حوادثو له څپو نه بې صدمې پاتې شي.

دلته په سیمه کې قوي هند، کمونیست چین او هلته ایران ترکیه

Ketabton.com

او عقدمنه روسبه ټول لېږي نه دي .

په دغسي يو ماحول او بيا د لېږنېو حوادثو په دوران کې يو قوي پاکستان او يو قوي افغانستان چې په يوه سيمه ايزه قوي جبهه کې سره منسجم شوي وي بيا هم کافي نه ګڼل کېږي يو کمزوري پاکستان او يا کمزورې افغانستان به په ترخه ورځ کې په يوازې سر د چاد څواب شي ؟

پاکستان ته که خطر جدي متوجه کېږي نو له نورو خوا نه به وي نه دافغانستان څخه اتومي تجربې ته د پاکستان د انتقال موانع د غرب او امريکا له خوا نه د افغانستان .

همدا مثال کافي دې چې پاکستان د مخکې پرتې لبارې خطرات او خنډونه پوره تشخيص کړي.

پاکستان او افغانستان د واړه يو بل ته د متقابل احترام په بشپړه جذبه بايد د ومره ځان نژدې کړي چې يو بل ته د مخکني کومک په رابطه په خپله موثر ثابت شي نور جنجتونه خو خپله ددې کار لپاره موانع ايجادوي.

پاکستان او افغانستان په ځاي ددې چې يو د بل مخې ته ځان وغورځوي او يو بل ته مانع شي بايد د دواړو په مخکې د پرتو موانعو په رابطه د تشخيص او عمل له مخې متحد شي او په سيمه

ACKU

Ketabton.com

کي ګډ دفاعي یا امنیتي ماحول جوړ کړي .

د روسانو په ضد کامیابه تجربه د هغوي په وړاندي یوه عملي تجربه ده .

یو قوي پاکستان یا قوي افغانستان ته د رسیدلو لار خپله په دي ورغلي چي دلته هر ګاونډي د خپل ګاونډي هیواد د همکاري او تعاون نه برخمن وي ځکه په مخالف حالت کي خپله د غه هیوادونه پخپلو کي د بي اعتمادي له مخي د مخکي تګ فرصت نه شي ترلاسه کولي .

هغه لیري لندن چي واشنګټون سره په یوه لیري محلي قضیه کي خپل غږ او عمل شریکولي شي دا د هغو دولتونو د قوت تر ټولو قوي محور دي چي خپل اثرات په ډي لیري دنیا کي پوره ښیي

نژدي پاکستان او افغانستان بلکي ایران ولي پخپلو کي د سیمي او نړي د قضایاو په رابطه خپل غږ او عمل نه شي یو کولي ؟!

که په سر یو ( قبادتونو ) کي د تفاوت خبره نه وي نو زموږ د ملتونو مشترکات او ضرورتونه د ( واشنګټن او لندن ) په نسبت لس برابره دي .

Ketabton.com

د پاکستان په څنګ کې کمزوری افغانستان که د محلي سيالېو دجذبې له مخې د ځينو سطحي عظمت طلبو پاکستانيانو هوس مات هم کړي خو په رښتني معنا کېداي شي هغه د هر بېګانه لپاره لار خلاصه او سيمې ته د هر خطر دعوت کونکې کور به شي همداسې د افغانستان په څنګ کې کمزوری پاکستان.

په پاکستان او افغانستان کې نا اهله حکومتونه وابسته ډلې ځاي په ځاي کول خپله د کمزوري پاکستان او کمزوري افغانستان هغه تر ټولو بدترين اشکال دي.

کمزوري دولتونه همېشه د بهرني متکاء په لټه کې وي. او غښتلي دولتونه برخلاف په ځان باندي د اعتماد روحيه راخپلوي د همدي ځايه د کمزوري ګاونډي خطري د قوي په نسبت زياتې وي او په رښتېني معنا کمزوري ګاونډي هغه لوېدلي «کندو» د ېوال ته ورته دي چې په ورځ د کور عزت او په شپه کې د کور امنيت ته خطر پېښوي همدا تکې غرب درک کړي چې د بوي متحدي او قوي اروپا په خوا روان دي او ېوبل ته لاس ورکوي.

که څه هم دا ټولې تشې خبرې دي او ها په بل تعبير دا بود روېا ده چې روان تريخ جريان د هغې مخه پرې کړې او هېڅ حسابي

Ketabton.com

انسان په دې خبر وحساب نه کوي ولې زه باور لرم چې د سیمې په حالاتو کې ډېر کمکي تغییر کولای شي زمونږ د دغه خوب لپاره هغه ژوندي تعبیر شي چې یوه ورځ یو قوي افغانستان د سولې او ترقۍ په مرحله کې د ګاونډیتوب هغه خواږه سیمي ته ورکړي چې د روسانو د سره حضور په دوران کې یې د سیمې د هیوادونو د بقاء او موجودیت لپاره ور کړل اومونږ باورلرو چې زمونږ نیمګړی کار به راتلونکی نسل ښه پوره کړي ځکه د شرایطو تغییر حتمي دی او د زمانې په ذمه زمونږ د سر یو پور لا هماغسې پاتې دی وکتل شي چې د جګړې د ورې کنبیني او سرې ښکارد شي چې څه کیږي.

ACKU


Ketabton.com

۱۴۷۹۱




Ketabton.com

177۹۲



Ketabton.com

# اووم فصل

# هند او چین

**لومړی هند :**

هند د افغانستان سره ډېر اوږد مشترک تاریخ لري چې له یوې خوا هند ته د اسلام تګ او د هندوستان تکرارېدونکي فتحې ټولې د همدې غزنیو، غوریانو په ذریعه رامنځ ته شوې لکه څنګه چې هلته مختلف راغلي ادیان او حکومتونه زیات د همدې خاورې د بچیانو په لاس جوړ شوي د بلې خوا کله چې دغه د هندوستان لویه وچه د پرنګي استعمار په ولکه کې راغله د هغوی د ازادۍ او استقلال لپاره د افغانستان د خلکو مبارزات او ملاتړ تر هرچا نژدې او انساني و لکه څنګه چې همدغه ګډه سیمه ایزه همکاري د هند تر آزادۍ وروسته د هغې راغلي مسلسلې همکارۍ اساس شوه چې د روسانو تر تجاوز پورې ژوندۍ او وروسته نېمژواندې روانه وه که څه هم د افغانستان او هند حکومتونو سره د روسانو ګډې دوستي دې ته بو بل سیاسي رنګ ورکړ او د همدغسې شکلي

دوستي په لړ کې افغاني حکومتونو دوستۍ تر عنوان لاندې هغه متفاوت سلوک چې د کابل د هندوانو او د هندوستان د مسلمانو سره يې خپلو هيوادونو کې کيده په آسانۍ تحمل کړ ولې دا يقيني ده چې دا دوستي افغانانو ته د خپلو مسلمانو ورونو د حيا ، په قيمت تماميده هلته چې په افغانستان کې پروت هندو اقليت عزيز ژوند درلود ولې هندي مسلمان کله کله د اسپانيې د هغه مسلمان په نسبت هم خوار ليدل کيده چې کينه کښو مسيحيانو د هغه په باداری کې اته قرنه د خپل صليب نه آزاد چور ليدل .

پر افغانستان باندې د روسانو د تجاوز نه وروسته د هندوستان حکومتونو د خپلو سيمه ييزو اوزيږوالو گوندپوله مخې ونشرای کولای د افغانستان د خلکو سره د دوستۍ پورته کړی بيرغ هماغسې پورته وساتي او په دې ازميښت کې پاتې راغلل او په هغه مهال پاکستان چې د کابل د وخت حکومتونو سره يې روابط کله کله د دښمنۍ په مرحله کې هم د افغانستان د خلکو لپاره په کار ورغي ولې گاونډي هندوستان د روسانو په تيري باندې خوله چوپ کړه بلکې د هغوی ننگه يې وکړه په داسې حال کې چې کمونيستي رومانيا په زغرده د غه تجاوز وغانده او په داسې حال کې چې د انگليس ضد مبارزه کې افغان ملت په نره د هندي ملت

ترخواو .

ولې د دې ټولو سره سره چې انسان هې د کابل د کمونستو واکمنانو له روحيې اخستلای شي هغه دا د چې هغوی د هند د حکومت نه په دې دوران کې چندان راضي نه ښکارېدل او کېدای شي عامل هې دا وي چې هند د برېژنف د وخت روسيې (اتحاد شوروي) د ملګرتوب غوښتنو ته منفي ځواب ورلی وي او هغه په هغه مهال پاکستان ته د ډېر تهدېدوونکي جنګ د مانور نه هم ځان ژغورلی وي ځکه چې په کابل کې د روسي اشغالګر پوځ برې پخپله روسانو ته د هندوستان د ضرورت او ملګرتيا چانسونه ختمول او له همدې ځايه کېدای شي هند د روسانو د غسي فعاله ستراتېژيکي ملګرتيا نه وي کړي .

په کابل کي د کمونست حکومت په سقوط او د روسانو په بې کچه متلاشي کېدو هوې خوا د پاکستان حېثېت نور د امرېکا په حساباتو کې مخ په لوېدو کړاو د بلې خوا امرېکا هم داسې نوې هڅې پيل کړي چي د هندوستان لپاره يکې د ډېر پتمن سياست راخپلولو چانس ليدل کېده د همدې ځايه سېمه په ډېر نوي اخ و ډب کې ولوېده د روسيې ماتې د امرېکا د غسي نوې ستراتېژي د هند جرأتونه تر دې حده زيات کړل چې د هوی خوا هې له (سي تي پي تي

) د امضا ء نه سرو غړاوه او د بلې خوا يې خپل اتومي پروګرام د ۱۹۹۸ کال په اتومي انفجاراتو ودراوه ولې د بلې خوا د پاکستان فوځ او حکومت دواړو د سيمې هيوادو په تأييد د هندوستان په رابطه دامريکا نوي پيل شوې رواداري په يوه نوي ازمېښت ودروله هلته چې د امريکا د ټول مخالفت سره سره د پاکستان په جرأت سره د ۱۹۹۹ کال انفجارات ترسره کړل .

امريکا په دې پوهېږي چې که هند تر يوه وخته راضي ونه ساتي کېدای شي په سيمه ييز او نړيوال ډګر کې هند د امريکا لپاره په سيمه کې سرخوږی پيدا کړي ځکه د هندوستان سوابق دهغه لپاره په دې رابطه د دغسې کردار مناسب شرايط برابروي .

ولې ځوسره د چې دامطلب امريکا درک کړي دوه برابر دهند هم په دې پوهېږي چې کـه امريکا هم يوځل د هند دشا وخوا سيمې او حالات دځان کـړي امريکا به د روس سره دهندوستان اوږد د ملګرتيا هېره نکړي او په دې رابطه به دهند ديوائې کولو پروګرام دموجوده هند لپاره د سياسي مرګ معادل خبره وي .

هند دا محاسبه کړې چې ايران لا هماغسې د امريکا نه مخ په لېرې کېدو روان ښکاري او د روسانو کمزوری حضور به مسائل نورهم حساس کړي.

Ketabton.com

همداسې هند پوهېږي چې روسان لا اوس هم په افغانستان کې د ژوندي رول لپاره مصرف کوي او د افغانستان په باب د امريکا نوي پروگرام به د افغانستان زيات تنظيمونه او ډلې د روسانو په جهت کې ودروي.

چين هم نن پرونې چين نه دی هغه که اندېښنه لري نو د پخوا په شان د روسيې نه نه دی بلکې د ننني امريکا نه دی. په اروپا کې د مرکزي رول اجرا کوونکي هېوادونو لپاره هماغسې د روسانو له وېرې د امريکا په خواکې د دربدلو د ضرورت تسلسل نور خپه کوونکی دی.

د دغسې حالاتو نه خبر هندوستان غواړي چې پخپله سيمه کې خپل مرکزي کردار ټينګ کړي. د همدې ځايه د ايران او روسته هند په افغانستان باندې زيات حساب کوي.

هند په اوسنيو شرايطو کې د افغانستان په باب د درې جهتونو نه زيات تشويش لري:

لومړی تشويش يې دا دی چې افغانستان کې د پاکستان افراطي پلوي حکومت رامنځ ته نه شي. د همدې ځايه هند زياته هڅه کوي د دغسې شرايطو پر وخت مخنيوی وکړي.

په دې رابطه کېدای شي د هند سره روسيه او ايران هم شريک

Ketabton.com

وي د همدې ځايه هند او روسيه غواړي په افغانستان کې د هغو ډلو سره زيات ه خواخوږي ښکاره کړي چې د پاکستان سره اختلاف لري او ياېې اختلاف پيدا شي.

د هند دويم تشويش دادی چې په افغانستان کې يو افراطي اسلامي حکومت رانه شي او هغه د هند لپاره خطرناک ګڼي.

که څه هم هند او روسيه اوس هغو مرد چې امريکا د اسلامي حکومت په رابطه ويره لري ويره نه ښيي او دا په دې خاطر چې اوسني شرايط بيا د شلمې پيړۍ د پيل شرايطو ته ورته شوي غربي هېوادونه او خپله امريکا داسې څه را اخستي چې پرونۍ روسيه يې د خلکو نه هېره کړه ولې بيا هم هند تر ډېره حده د يو مذهبي حکومت نه ويره لري چې د هند لپاره د غه موجوده ماحول نور هم تنګ نکړي.

د هند دريمه ويره داده چې په افغانستان کې کاملاً د امريکا پورې تړلی ګوډاګی حکومت رامنځ ته نه شي ځکه چې د امريکا د روند حضور په دې سيمه کې د هند د هغه کردار سره سر نه خوري چې هند يې نيمه پيړۍ په دې سيمه کې اجرا کوي.

په دې رابطه کېدای شي ايران تر هند زيات په ويره کې وي ولې د هند لپاره هم ځکه خطرناک دی چې د يوې خوابه د غه موجوده

ایران هم خپل ثبات له لاسه ورکړي او د بلې خوا چې افغانستان د مرکزي آسیا په دروازه کې پروت هېواد دي هلته د امریکا د باوري رژیم تسلط هند هم د ډېرو تېرو کوڅو سیاست ته راکاږي چې دا به د هند لپاره هوه سیاسي ناکامي وي .

که څه هم د سیمې مسایل عجیبه غوندي او بدل شوي هلته چې خپله پاکستان هم همد غسي ویره لري ځکه په افغانستان کې پرافراطي امریکایي نظام د پاکستان ډېر رولونه خنثی کوي او د پاکستان لپاره کېدای شي ډېر مشکلات راپیدا کړي او دا په دې خاطر چې په افغانستان کې د امریکا پلوي ډلې او شخصیتونه تر ډېر حده د پاکستان سره په فاصله کې پاتې شوي دي.

هند چې په افغانستان کې کوم تشویشونه لري په هغه کې د ځان سره جلا جلا شریک ملګري لري د همدې ځایه هند د پردې لاندې د هغو هېوادو په کتار کې راځي چې وغواړي که ونه غواړي په افغانستان کې بې د ثبات او بې ثباتۍ په دواړو حالتونو کې کردار مرکزي دی.

که څه هم زمونږ ملت د ضیا الحق د پاکستان سره د داسې بوې قضیې پر تاریخ د دوستۍ تړون پېل او وازموېي چې په نتیجه کې دنړۍ لوي نظامي طاقت په ګونډو شو او د دې دوو ګاونډیانو

هېوادونو ورورۍ ته د وخت خبره کړه ولي د افغانستان څخه د روسانو له وتلو وروسته حالات او خپله د پاکستان وروستي سیاستونه داسې راغلل چې کېدای شي دغه دوستي پخپل حال همغسې د هویل ازمېښت په وړاندې واقع شي او د همدې ځایه هند منتظر دی چې د وخت تېرېدل به هغه بیا په کرار کرار خپل بابللي موقعیت ته ورسوي.

هند د چین نه وروسته په آسیا کې داسې یو هېواد دی چې په نړۍ کې د قوي او مطرح جهتونو نه په معامله او تعامل کې د آسیا د یو قوي او مطرح هېواد په حیث د ځان تسلیمول غواړي د همدې ځایه د آسیا حالات او تحولات د هند د موافقې او مخالفت دواړو نه تأثر اخلي.

افغانستان چې خپل بر خلیک هغه د حوادثو په هېواد بدل کړی وغواړي که ونه غواړي د هند له نظره یو داسې هېواد دی چې هند ته یې ملګرتوب تر ډېره اهمیت لري د همدې ځایه خو هند هم لکه د روسانو په شان د پخوانیو دوستانو په بې اثره کېدونوي دوستان انتخاب کړل او په دې سمت کې به هند د غه خواته هغه څاري چې که ضرورت شي کېدای شي د طالب چارواکو سره هم د تفاهم لاره ونیسي ځکه هغوی نه غواړي افغانستان له لاسه ورکړي.

په اوسني وخت کې هند د پاکستان په نسبت په منځنۍ آسيا او ايران کې د ښو روابطو په درلودلو مؤثر موقعيت راخپل کړی لکه څنګه چې پاکستان د چين او سعودي عربستان سره د ښو روابطو په درلودلو لدې مخې هند شاته غورځولی دی بوائځنۍ هيواد چې د همدې ځايه پرې د پاکستان او هند تر ده مسابقه روانه ده هغه افغانستان دی . په عاجله توګه د افغانستان په باب د پاکستان موقعيت راخپلول هند ته يوه ناکامه هڅه ده ولې د يوې خواداچې د امريکا سياست د پاکستان سره د افغانستان د حالاتو په رابطه په نوې لاره روان دی او د بلې خواداچې مجاهدين د خپلو داخلي اختلافاتو او خپله د امريکا د يوطرفه وروستۍ دښمنۍ له پلوه د روسانو خواته د نژدې کېدلو په جهت کې واقع کېدونکي دي دا دواړه صورتونه پاکستان په يوه کمزورې وضع کې واقع کوونکي دي د همدې ځايه هند کېدای شي چې په دې مسابقه کې خپل چانسونه د پر کمزورې ونه ګڼي .

په هغه صورت کې چې روسيه وکولای شي د امريکا په ګټه د بين المللي حالاتو د يوطرفه تسلط د مهارولو په خاطر چين پرخپله ملګرتيا قانع او هغه يو سيمه ييز ګډ د ريځ ته ورسوي نو يقيناً چې هند به په سيمه کې د همدغسې سياسي ماحول له مخې پر

Ketabton.com

پاکستان زیات مخکې او مؤثر شي ولې داخبره پخپل ځای پاتې ده چې د افغانستان په قضیه کې رول باېللي روسیه به بیا داسې ژوندی او متحرک بین المللي سیاست راخپل کړای شي چې چین او نور هیوادونه پر هغې باندې حسابي باور وکړي؟

که څه هم د هند او پاکستان په موجوده کړکیچ کې به ګرانه وي چې چین داسې په آسانۍ هغه لاره غوره کړي چې چین د پاکستان په ځای د هند سره نژدې کړي ولې چین د شوروي اتحاد د رنګیدو وروسته فکر کوي چې د کمونستانو په لست کې د امریکا وار داخل د چین په سر ولاړ دی دا بیله خبره ده چې د خلیج او منځني ختیځ په ماحول کې مطرح کیدونکی سیاسي اسلام د چین د ځېلو وار وروسته کړی دی.

که هند او پاکستان داخلي اختلافات نه د رلودل او هند د سکانو او کشمیریانو مسایل په عادلانه او انساني توګه حل ته ورانديې کړي وای. بیادا یقیني خبره وه چې هند به په آسیا کې د خپل موجوده رول څلوره برابره سیاسي رول د رلود لای او هلته ممکنه وه چې هغه پخپل ځان متکي پاتې شوي وای او د هر اجنبي قدرت مقابله به یې په هغه صورت کې کړې وای چې خبره به یې د هند په شمول د ټولې آسیا لپاره وای.

هند په آسیاکي د اسلامي تحریک نه سخته وېره لري او له همدې ځایه هغه د پاکستان او افغانستان د شوروابطو او وحدت نه وېره لري او هند فکر کوي چې د دغسې یو اتحاد خبره بناپې د هند پرضد پروګرام را وڅرخوي په داسې حال کې چې د اسلام او هند د سوله پېزو مرحلو د اوږد تاریخ د سوابقو سره سره او د استعماري لو یو دولتونو پر ضد د اسلام د ملګرتیا د نه ژوندی شوی هند ولی ځان دومره ګوښي او بې اثره ویني.

هند داسې څه نلري چې یو متحد اسلامي تکتل دې خپل پروګرام د هند پرضد د هرڅه نه مخکې را وڅرخوي بلکې اسلامي نړۍ دا اوس اوس د هغو استعماري دولتونو د ظلم او بدسلوکۍ نه ساه ورکوي چې په عین حال کې هند هم په دویم قدم کې د هغوی هدف او په تېر تاریخ کې یې هم د هغو له استبداد او ظلم نه ډېر څه ځکلي دي.

یوه خبره چې هند یې باید هېره نکړي هغه دا ده چې د افغانانو سره د روسانو په مخامخ جګړه کې د پاکستان ملګرتیا پاکستان ته دا امتیاز ورکړ چې که په افغانستان کې د پاکستان ضد حکومت هم راشي او یا پاکستان د افغانستان پرخلاف دریځ هم ونیسي زمونږ خلک د پاکستان پر بده ورځ او سپکه نه راضي کېږي او یا علي الاقل د هندوستان بر ده به پرې ونه لوروي.

Ketabton.com

لکه څومره چې په اوس وخت کې هند هڅه کوي چې افغانستان له لاسه ورنکړي امریکا هم هڅه کوي چې هندوستان له لاسه ورنکړي حکه چې د نمېژواندی روس روح ئې انتظار باسي

**دویم چین**

چین براځنی غیر مسلمان هېواد دی چې د افغانستان سره په اوږدو تاریخي پړاوونو کې د تېکر او دښمنۍ سوابق نلري بلکې افغانستان د وریښمود هېواد چین سره د لرې تاریخ په عمق کې د سولې او ښو روابطو داسې تسل ښودونکې تسلسل او سوابق لري چې د بوې خوا چین د تاریخ په بومبهم پړاو کې د هغو نه ښه گټه پورته کړه د بلې خوا افغانستان هم د همدې وریښمو لارو د امنیت د تامین له کبله بو وخت ښه شهرت او ښې تجارتي گټې لاس ته راوړې چې تر اوسه زمونږ په هېواد کې ځینې لارې په همدې نوم یادیږي.

د همدې ځایه د دغو دواړو هېوادونو روابط په مسلسل ډول د وریښمو په حد کې طبیعي او په زړه پورې پاتې شوي دي.

له کومه وخته چې په چین کې کمونستي انقلاب راغلی هغه دخپل هېواد په داخلي مسایلو کې لتاړ او بیا د خپل حامي دولت شوروي اتحاد سره په سیمه بیزو او ایدیالوژیکي مسائلو کې داسې

په اختلاف کې ولوېد چې په افغانستان کې د روسي کودتا او وروسته نظامي اشغال چین پوطرفه د افغانستان د مسلمانو خلکو د مقاومت سره د همدردی د کتار په سرکې ودراوه .

که څه هم کمونست چین په افغانستان کي يوه سياسي ډله روزلې وه او د روسانو د پلوي کمونستانو له خوا هغه هم د پاخه برېد لاندې راغله چې کېدای شي چین په دې لحاظ هم د روسيې د پلوي رژيمونو سره نېکرېه نېکر شوي وي ولي حقيقت دا دی چې د جهاد په دوران کې چين خپل مناسبات د خپلو فکري اندېوالانو د تقويې او يا للو د شرايطو نه ازاد عبارکړل او دافغانستان د قضيې سره يې هغسې همکاري وکړه د لکه چین چې د اسلامي نړۍ د هېوادونو د جملې څخه يو هيواد وي بلکې وېلی شو چې د ډېرو اسلامي هېوادونو نه په دې رابطه مخکې هم و .

چین ته ربښتيا ګرانه هم وه چې په افغانستان کې د روسانو د غلاء نظاء د تېنګېدو د روسته هند ي سمندر ته د نژدې کېدونکې شوروي مقابله وکړي او خپل هېواد د دغه هېواد د استعماري محاصرې او پروګرامونو د بدواغېزونه خوندي وساتي ولی د يو کمونست چین په حيث د چین همکاري د افغانستان د خلکو سره په دغه نازک پړاو کې يوه بې ساري همکاري ګڼلای شو .

Ketabton.com

کېدای شي ځني دا بدګماني وکړي چې په ځني افغاني ډلو کې د چين د پالل شوېو کمونستانو موجودېت دا معنا ولري چې د چين همکاري دومره چې مونږ بې بې غرضه ګڼو بې غرضه نه وي ولې د سوابقو له مخې او د روانو جریاناتو د مطالعې له مخې دا یقیني ده چې د مائو د چین نه وروسته د چیني کمونستانو پاخه حامیان په افغانستان کې دومره چې امریکا او ځني غربي هېوادونه دي خپله چین نه دی.

په هغه صورت کې چې چین په دې رابطه د دغو حامیانو سره تفاهم او په افغانستان کې د چیني کمونستانو سره پټ روابط ولري کېدای شي د غسې بوه اوضاع بیاد افغانستان لپاره د بل خطر شرایط برابر کړي.

که څه هم په ۱۳۶۰ کال کې د چین د بوې سفارتکارۍ وینا په تهران کې د مجاهدینو د بوه نماینده د اعتراض په مقابل کې چې چین په افغانستان کې خپل خاص پلویان پالي دهغې دا وینا چې داسې مداخله ګرده پالیسي په چین کې د مائو په مرګ د مرګ غېږې ته وسپارل شوه او چین نور د نورو هېوادو په داخلي مسائلو کې مداخله نلري زمونږ د پورته تشویش سره اړخ نه لګوي ولې په معاصر تاریخ کې چې هېوادونه خپل زیات خوځښتونه د دروازې

Ketabton.com

پر ځای د کړ کېږونه کوي ګرانه د ده چې د غسې خبرې د سړي ګومان په باور بدل کړي.

ولې څو ک چې د چين بين المللي د رېځونه او سياسي پالېسي تر مطالعې لاندې ونيسي هغوی کېدای شي په دې قانع شي چې د چين لار د نورو په نسبت بدله د ده او رښتيا هم د چين داخلي ثبات او بين المللي پتمن اثر رسوخ خپله د اسلامي نړۍ سره په متفاهم سياست او ګډ بين المللي د رېځ کې ښه خوندي کېږي او کېدای شي د همدې ځايه د چين کمونست حکېم دا حقيقت درک کړی وي او د همد غسې درک له مخې يې د ماو ميراث چين ته د غه روانه پالېسي تاکلې وي.

چين که څه هم د داسې يو روي کمونستي رژيم تسلسل تر شالري چې د چين په داخل کې يې د ډيرو پرګنو لپاره د فرهنګي انقلاب تر عنوان لاندې د مرګ او نابودۍ پلمي جوړې کړي او هلته انسانيت له دې مخې نه تلافي کېدونکي صدمې ولېدلې ولې د دې سره سره چين د خپل هيواد بهر د ماجرا غوښتونکي سياست پلوي نه ښکاري، هواخې ويتنام هغه هيواد و چې هلته چين د امريکا د امپريا لېزم نه په ژېړ جاپان باندې د تېر تيري غچ واخست.

دويتنام ترمقاومت وروسته چين په ټولو بين المللي اخ و

د بونو کې معتدل دریځ لري بلکې د هغه مارکسيزم ليار د چې چين خپله په چوپه سوزي د بل هیواد لپاره یې د مفیدې نسخې په پلمه لکه د بریژنف د وخت شوروي د کود تا ویټ سوري نه لټوي.

چين پر افغانستان باندې د روسانو د تجاوز په مخنوي او ناکامولو کې هغه د روند رول راخپل کړ چې د چين غوندې پولوي ګاوندي د حیثیت سره یې ښه ارځ لګاوه او په دې ليار کې یې د افغانستان د خلکو سره د بې غوغا او خاموشه ملګري ورکړه ولی د افغانستان تر آزادۍ وروسته څنې افغاني جهتونه د اشکوه لري چې چين د شمال د جبهې د درښت په خاطر کيداى شي د برى پتې د بري د شمال د جبهې په پله کې غورځولي وي چې کيداى شي همدا پتې د بري تر اوسه د دغې جبهې نيمژواندي مقاومت ته د ثبات روح ورکړی وي.

که څه هم چين په وروستيو کې د طالبانو له حکومت سره هم څه روابط وڅغلول او داښې چې چين کيداى شي د امریکا په شان د افغانستان په باب د یو بې ثباته سياست خواته راښکل شي ولې د چين عام بين المللي د ریخونه ښيي چې چين به په آساني سره په افغانستان کې د داخلي اخ و ډبونو په تنګ ماحول کې ونه لويږي.

چين که په دې پوهيږي چې چين ته د نژدې روسيې له خوا

ACKU

Ketabton.com

د پوره کېدونکې محاصرې د خطر په رابطه افغانستان وروستې سنگر و چې د چين له سره يې د چين د لوی دښمن خطرلرې کړ ولې چين په دې هم پوهېږی چې د لرې امريکا را روانه امپرياليستي محاصره به د چين لپاره د روسيې نه څو چنده زياته خطرناکه تمامه شي د همدې ځايه کېدای شي د چين سره ملگری افغانستان د همدې بل راروان خطر په مخنيوې کې مناسب رول ولوبوي.

کېدای شي ځې دا د مبالغې په حد کې وگڼي چې افغانستان په هووخت کې د باد وشوېوا ومطرح هېوادونو د سلامتي او گټو په رابطه د دومره اساسي کردار موقعيت او ظرفيت ولري ولې څومره چې د افغانستان داخلي روان جنگي حالت د سياست د ناکامو او کم ظرفو دلود تسلط نه راپيدا دی هغومره د غه جگړې د همدغو هېوادو د گټو د باوري خوندي کېدو په خاطر اکمالات پيدا کوي، د همدې ځايه افغانستان څومره چې د روسانو لپاره مهم دی يقيني د د چې هغه په هماغه پيمانه د چين لپاره مهم دې همداسې څومره چې افغانستان د امريکا لپاره مهم دی په هماغه اندازه د روسانو لپاره هم اهميت لري.

همداسې څومره چې د ايران حالات د افغانستان نه متاثر کېدلای شي په هماغه اندازه هغه د سعودي د امنيت لپاره مؤثر

کېدای شي.

همداسې څومره چې افغانستان د هند لپاره په سیمه ییزه سیالۍ کې اهمیت لري، دوه برابره په همدې سیالۍ کې د پاکستان لپاره اهمیت لري.

د همدې ځایه افغانستان د سیمې اونړۍ د ستراتیژیو او ګټو د تصادم په میدان بدل شوی دی چې په دې کتار کې چین خپله برخه لري او څنګه چې چین ته افغانستان امتحان ورکړ همداسې افغانستان ته چین هم خپل امتحان ورکړ. د همدې ځایه چین غواړي افغانستان د امریکا او روسیې د حضور تود کور به هیواد جوړ نه شي او څومره چې افغانستان د یو دبې طرفه فعال آزاد سیاست خوار اخپله کړي. په همدغه حد کې کېدای شي چین د افغانستان په کردار راضي او قانع پاتې شي.

که څه هم چین د نورو هیوادو په شان د افغانستان د راتلونکي په باب د امریکا او روسیې د ژوندي حضور نه ژوره اندیښنه لري ولې چین د نورو هیوادو په نسبت په دې کې چې هغوی غواړي د افغانستان نه یو غلام هیواد جوړ کړي، فرق لري او د همدې تو پیر له مخې زموږ ملت سره لدې چې د کمونیزم سره به نه پخلا کېدونکي کرښه ولاړ دی ولې د چین د دولت په نسبت هغه عکس

Ketabton.com
ACKU

العملی روحیه نلري چې د نورو ګاونډیو په رابطه یې لري ځکه چې چین تراوسه ثابته کړې چې د هغه مداخلې په افغانستان کې دومره ډاګیزې او غرضي هم نه ښکاري لکه د نورو مطرح هیوادونو مداخلې؛ ولې دا په هیڅ صورت ددې معنا نلري چې چین به همداسې په داخل کې د دغه ډول سیاست خبره همداسې ثابت وساتلای شي او په هغه صورت کي چې چین په افغانستان کی نظام او اوضاع د خپل هیواد د مصلحت په حد کې ونه ویني په هغه صورت کې به د چین د مداخلو خبره رابرسیره او ډېره مؤثره ګرځي.

افغانان په دې رابطه باید ژور فکر وکړي چې د لویو هیوادونو سره دوستي او دښمني به هغوی حتماً د بېل لوري په دښمنۍ کې غورځوي. د همدې ځایه د امریکا په جېب او پیسو پسې سرګردانه افغانان باید څومره چې د نورو په جیبونو حساب کوي دري برابره باید د خپل هیواد په نازک موقعیت باندې فکر وکړي.

د امریکا او روسیې افراطي پلوي رژیم به دلته د چین او ایران لپاره او خپله پاکستان لپاره د بېړول مخکنیو مداخلو او خپله په افغانستان کې د یوې مرموزې بې ثباتۍ لپاره شرایط برابر وي د همدې ځایه باید ټول د یوقوي افغانستان پر ځای د یو سوله ییز افغانستان خبره چې د سیمې هیوادو سره د تفاهم او دوستۍ ښه

شرایط ولري د شعار او سیاست له مخې عنوان کړي.

چین دافغانستان ېو قوي اومهم ګاونډی دی هغه دافغانستان سره د ټکر او دښمنۍ هیڅ سوابق نلري د جهاد په دوران کې بې زموږ د قضیې نه په نره دفاع کړې په سیمه او افغانستان کې د روسانو او امریکائیانو د فعال حضور سره جوړ نه دي د همدې روحیې نه په استفاده باید موږ د خپل هیواد شرائط داسې عیار کړو چې د دغسې ېو ګاونډي سره همداسې په سوله ژوند وکړو اود بلې خوا افغانستان په هیڅ وخت کې د امریکا او روسانو له خوا د چین د مصلحت پر خلاف استعمال نه شي.

څنګه چې د روسانو د ماتې وروسته د امریکا و روستی ګوزار داخل کیدای شي په چین وربرابر شي ځکه چې چین له روسیې نه وروسته لومړی لوی کمونستي هیواد دی او په اوس وخت کې چې روسانو سره یوې جوختې همکارۍ خوا روان دي. د همدې ځایه امریکا ته ددې چانس ورنکړل شي چې افغانستان د خپلو ګاونډیانو پر ضد د تعرض پوسته شي.

چین چې د امریکا او روسانو سره د تودو روابطو او افراطي ملګرتیا (غلامی) خبره پکې نوې له هیڅ بل هیواد سره دافغانستان په ښو روابطو او ملګرتیا اندیښنه نه کوي د همدې ځایه

Ketabton.com

افغانستان کولای شي د ایران او پاکستان سره د دوستي د پوفیصله شوي تعامل له مخې په سیمه کې ځان ته د سولې او استقرار مطمئن لوری وټاکي او د داغسې یو ماحول جوړولو ښه شرایط همدا روان شرایط دي ،ځکه چې که داخل د بین المللي راروانې بې ثباتۍ له مخې چین پر کوم سیاسي یا نظامي تکتل کې ولوېد بیا به افغانستان د غه شرایط له لاسه ورکړي وي له همدې ځایه چې افغانستان د سیمه ییزو او بین المللي شرایطو د تحول نه آګاه قیادت نلري افغانستان هر د ورځ ښه فرصتونه له لاسه ورکوي ، څوک نشته چې افغانستان ته د وخت او شرایطو مطابق د سیاست او تعامل ملي او بین المللي چوکاټ جوړ کړي.

یو حقیقت چې همیشه باید د خپل ګاونډي چین په رابطه په یاد ولرو هغه دا دی څومره چې د آسیا د امنیت په رابطه د امریکا او روسیې سیاستونه خطرناک دي هغومره د چین وروستي سیاستونه او دریځونه په دې رابطه په ځای او مؤثر دي کېدای شي د همدغسې یو تصویر له مخې هغه چین چې د شمال د جبهې سره ښه تعلقات لري په دې خاطر یې د طالبانو سره د تعلقاتو او تفاهم لار پرانستې وي چې له یوې خوا خپله بې طرفي ثبوت ته ورسوي او د بلې خوا د اسامه په سر د امریکا سره مخالف طالبان د خپل نژدې


Ketabton.com

چین د اطمینان د لارې په افغانستان کې د پوې باثباته اوضاع په راوستلو کې پخپل فکر او تصور خبر کړي.

چین که په سلو احتمالو کې وڅیړل شي نو نوي یې د افغانستان اوسیمې په خیر دي ولې هغه پاتې احتمال یې د ټول کمزورې چانس سره سره د بیا د ومره خطرناک دي چې کېدای شي د یأجوج ماجوج داستان یې تاریخي اومذهبي اتکل وي ولې د وخت نه مخکې وېره هم د ومره بده ده لکه څومره چې له وخته تېر تدبیر .

هیله ده د نړۍ د تحولاتو سریع امواج هغه خوا راخپله کړي چې د شلمې پېړۍ د پای بې وسه انسان ته د ډاډ او اطمینان ماحول جوړ کړي نه د مرګ او وېرې هدیره .

Ketabton.com



Ketabton.com

۱۹۹۹۲



Ketabton.com

19943



Ketabton.com



Ketabton.com

# اتم فصل

## ترکیه

ترکیه دعثمانی دولت په عنوان په اسلامی نړی کی د زمانی امتداد اودمکانی وسعت دواړو له مخی یو پراخ او د اوږد د تسلسل لرونکی دولت و چی په ټوله نړی کی یی نفوذ یو منل شوی تاریخی حقیقت و.

عثمانی خلافت دمعاصر افغانستان دمیلاد په مهال او په تیره په ایران باندی دهوتکی افغانانو دهجوم په مهال خاصتاً داصفهان د سقوط نه وروسته بو طرفه د مات شوی صفوی شاد حسین او د هغه د زوی په ننګه د هوتکیانو پرخلاف ودرید او په هغه مهال د صفوی ایران په شرق کی دسنی افغانستان تسلمیدو ته چمتو نه ښکاریدد ولی د شاد اشرف هوتکی په حوصله ولاړی دپلوماتیکی هلی ځلی او ورپسی دهمدغه هوښیار افغانی پاچا دقیقی تبلیغاتی کړی وی چی د یوی خوائی دعثمانی دولت مرکزی رجال دخپل ملت په وړاندی واقع کړل اودبلی خوایی

د ترکانو له خوا تلافي کوونکي نظامي هجوم چې داتيا زرد فوځ په لېږلو يې شاه اشرف په ايران کې په يوه کمزوري موقعيت کې وغورځاوه د افغانستان نوي زيږيدلي دولت د يو بل امتحان سره مخامخ کړ .

هوتکي شاه اشرف په ايران کې د بد موقعيت تر ځنګ پلا وکړه چې د سني مذهبه ملايانو د تبليغاتو او ترکي طرف سره د تفاهم په نتيجه کې د ترکي فوځ روحيه د خپل سني مذهبه افغانانو په مقابل کې کمزوري بلکې وشواي کولای د ترکي فوځ د مقدمه الجيش په ځپلو بيا هم ۲۰ زره کردان د هغه خطرناک جنګ په اوله شيبه د افغانانو سره ملګري کړي چې کيداى شول له دي پرته افغاني طرف ېکې د هغې لوئي فتحي چانس نه وه پيداکړي چې په هغه مهال افغاني فوځ خپل دوه برابري ترکي فوځ ته ماتي ورکړي .

د همدي نظامي ماتي وروسته د شاه اشرف تلافي کوونکي اقدام ( چې په جنګ کې اخستل شوي وسائل ئې بير ته هغوی ته ورکړل ) وکولای شول چې په خطبه کې د عثماني خلافت د نوم اخستلو په بدل کې هغوی يعني عثماني ترکان په افغانستان او ايران باندي د هوتکي دولت تسلط په رسميت پيژندو ته راکوز کړي .

د هماغه مهال وروسته عثماني خلافت په پاتي تول دوران کې د افغانانو سره ډير نژدي دوستانه روابط د رلودل د همدي ځايه

**ترکي** ته د سید جمال الدین سفرونه او هتله دهغه لپاره دفعالیت **او سیاسي** نوم خبره هم دهمدې لورینې په لړ کې تر دې حده ځوانه **شوه چې د** وطن نه مسافر سیدجمال الدین یې د اسلامي نړۍ په **معاصر** تاریخ کې د هغه نوم او شهرت خاوند کړ چې دهغه **وروسته دافغانستان** دشهرت خبره د نیمي پیړۍ لپاره د دغه ستر **مبارز د نوم** سره تړلې پاتې شوه .

**په ټوله** عربي نړۍ کې د سید جمال الدین اسانه سفرونه او هلته **دخپلو لیکنو** په تیره بیا د عروة الوثقی د مجلې په تحلیلونو کې **دافغانستان** په باب د سید ژوندي مقالې هغه څه و چې په هغه **مهال** یې ټول عربي ماحول دخپلو افکارو او له خپل ملت سره آشنا کړ .

دهمدې حسابه دلیرې مصر زامنو دومره افغانستان له نژدې وپیژاند د چې د آزادۍ وروسته په عربي نړۍ کې یواځې مصر دی چې دافغانستان په رول" د خلکو په قدر یې پوره پوهیږي او دا ټول د سید جمال الدین دغه ستر مبارز سره د مصر د بچیانو د مینې او ارادت نه قوت اخلي .

په افغانستان کې د انګلیسانو پر ضد د روان مقاومت په ځینو مراحلو کې د عثماني خلافت سره دافغانستان د خلکو ښو اړیکو او په افغانستان کې د عثماني خلافت د موثرو رجالو موجودیت او خواخوږۍ د انګلیس پر ضد زمونږ خلکو ته ژوندۍ روحیه

ورکوله.

د تفاهم او ژوندی همکاری هغه مؤثر کردار چی عثمانی خلافت په جنوب کی دلوی هند او په شمال کی د لویو ترکستانو د آزادی لپاره په غاړه اخستی وهغه که په افغانستان کی دوخت د نوکر حکومت او بالذات د امیرحبیب الله له خوا نود ناکام شوی نن به عثمانی خلافت د افغانستان دخلکو په همکاری هند او تجزیه شوی ترکستانونه د هر متجاوز او استعمارگر مخی ته درولی وای.

د عثمانی خلافت په سقوط بیا هم د سیکولر ترکی حکومتونو دافغانستان سره خپل روابط وساتل او په فوځی ساحه کی ئی مخکنی تسلسل تر یوه حده دوام وکړ ځنگه چی زمونږ خلک له ترکانو سره د وینی او مذهب تاوده مشترکات لری دهمدی مشترکاتو له مخی د ترکی او سنی رژیم د روسانو داشغال په دوران کی ‌لا'واخان او' پامیر ترکی نژاده افغانان دخپلو کورونو سره ان ترکی ته و ورسول او هغوی ته نن پوری هلته میشته دی.

که څه هم د روسانو داشغال په دوران کی د ترکی سیکولر نظام دافغانستان د قضیی سره د امریکا او غرب په خاطر تریوه حده همکاری وښودله ولی د نجیب د سقوط وروسته ترکیه اوس دازبکستان اودوستم سره په هغه خوا کی پوره مصروفه ده چی په افغانستان کی د هرمذهبی حکومت مخه پری کړی که څه هم په

Ketabton.com

ترکیه کې د سیکولر لوڅ نظام په تسلط افغانان د ترکي مسلمان ملت د لوړې کچې همکارۍ نه محروم پاتې شول ولې پاتې ترکي ملت خاصتا د حزب رفاه پخوانۍ امتداد حزب سلامت ملي گوند او پیروانو زمونږ له ملت سره د اشغال په دوران کې هغه همکاري وکړه چې ښایي هغه مات کمزوري عثماني دولت هم نوه کړي .

په ترکیه او خپله په غربي هیوادو کې ترکي اقلیت مسلمان زمونږ د قضیې سره هغه جذبه وښودله چې انسان فکر کوي چې د نني بې دینه ترکي په تل کې د هغه عثماني خلافت جذبه لا نه ده ځپل شوې .

مسلمانو ترکانو د مجاهدینو سره د خپل توان په حد کې هغه څه وکړل چې د سیکولر نظام په تبه اخته او کرختي ترکي نه را پیدا خالیگاه یې پوره ډکه کړه .

د مسلمانو ترکي پیغلو او ناوو د لاس او غاړې نه ایستل شوې زیورات د ومره ارزانه په پیښور راواوریدل چې هغه د غلا د چونگې پاتې یې هم ښایي د ډیرو نومیالیو مجاهدینو حوصله ور اوچته کړې وي .

همداسې د جهاد په تاوده پړاو کې د ښاغلي او قدرمن نجم الدین « اربکان هغه ژوندي خبري چې مجاهدینو ته ئي د روحي ورکولو لپاره کولي هغه پخپلوار په هغه مهال دومره موثري وي لکه ټول ترکي ملت چې عملاً د افغان د مجاهدو بچیانو سره په

Ketabton.com

سنګر کې حضور درلود لاي وي .

د کمونستانو له سقوط وروسته ترکیه دامریکا سره په نقشو کې شریکه ښکاري او هغه دا چې دلته یو مذهبي نظام د ټینګیدو فرصت پیدا نکړي .

د همدې هدف په لړ کې ترکیه ښایي وغواړي دخپل قومي نفوذ او رابطې له مخې د منځنۍ آسیا زیات هیوادونه د ځان پسې راکاږي او په افغانستان کې د همدې قومي رابطې له مخې په شمال کې د سیکولر یا نیمه کمونستو رجالو نه پلوي وکړي.

تیرو دری کلونو وښودله چې نني ترکیه له ازبکستان سره په پروګرام کې ورته اهداف لري او کیدای شي د همدې قومي روحیې په بنیاد ترکیه خپل نیم رولونه خپل نژاد شریکه ازبکستان ته وسپاري د همدې ځایه وغواړي که ونه غواړي لیرې ترکیه په افغانستان کې هم اهداف لري او هم د سیاسي رول چانسونه.

ترکیه په لنډ منزل کې کیدای شي د خپل قومي رابطې له مخې د یو امریکایي پلوه نظام لپاره په لیار خلاصولو کې مؤثر کردار ادا ء کړي ولې په منځنۍ آسیا کې راتلونکې تحولات (ثبات او بې ثباتي ) به هغه د لوی ترکستان د جوړولو په عملیه او اوخ وډب کې د اسې سیاستونو او رولونو ته راکاږي چې کیدای شي د سیمې د ډیرو هیوادو تر څنګ افغانستان هم د دغو رولونو او سیاستونو نه صدمه ووینې.

ترکیه د امریکا او روسانو د اخ و ډب د پاتې پړاو په مسائلو کې کیدای شي په آسانی دامریکا خوا ونیسي ولې په هغه صورت کې چې همدا سیکولر ترکیه کله د قومي بنیاد له مخې په سیمه کې د ملګرتوب ماحول یقیني کړي هلته بیا یقیني معلومه نه د ه چې د دی لوی قوم مصلحت ترکیه د چا ترخوا او دچا پرضد د روی ؟

ترکیه که په هر بین المللی تکتل کې د هر چا خوا نیسي خود قومي بنیاد پر اساس به د هغې عمل او سیاستونه په سیمه کې نوی اخ و ډبونه رامنځته کړي خو د صدمه لیدونکو په کتار کې به افغانستان لومړی هیواد وی.

که ایران له خپلو ګاونډیانو (افغانستان او پاکستان) سره ښه روابط پیدا کړل او لږ دمذهبي ( شیعه مذهب ) د تنګ ماحول نه پراخ سیاست ته راواوت نور ترکی شاخو د اتحاد دخطری تحول لپاره ایران ترهر چا ژر او قوی پولی ایستلای شي .

او په هغه صورت کې چې دترکی اسلامي ډلې د ترکې په سیاست کې لدې زیات نفوذ پیدا کړي بیا نو افغانستان یواځنی هیواد دی چې لوئې ترکی د ترکیب اوجوړښت مخه په هغه لوری بیولی شي چې د لوېی آسیا لپاره دهغه مرکزیت ورکړي چې ټوله اسلامي نړی د یو نوی تحول په دروازه ودروی ولې استعمارګران له ترکی نه د غفلت فرصت چا ته نه ورکوی.

Ketabton.com

که د ترکی اوسنی حکومت د خپلو مسلمانانو لپاره دهندی حکومت په لسمه هم د سیاسی عمل آزادی ورکړی وه نن به ترکی ملت د رویو استعمارگرانو د نفوذ لپاره شل پاتکه په سیمه کی غورځولی و اونن به د غه مسلمان افغانستان د نا سیالو حوادثو په تیاره کی دهغه سبا ځرک لگولای وای چی د عثمانی خلافت په غروب یې د مسلمانانو ژوند یواځی د شپو باج پری کوی.

که څه هم ترکیه نظر خپلو سوابقو ته د مسلمانانو د امیدونو پوره وړی د دولی ننني ترکیه د یهودی توطئو په تیاره کی داسی کیوتلی ده چی خپله د امید مړ ژواندی څراغ ته ناسته ده .

## وروستی خبره خو د غیرافغان لپاره

چا هم فکر نه شو کولای چې افغانستان به د دې لوی ازمېښت نه داسې په آسانۍ سرد ووځي او په دویمه دوره کې چا فکر کولای شو چې د لوی ازمېښت نه وتی افغانستان به داسې د ناسپالو پېښو په گرداب کې دومره داوړدې بې وسۍ بې وخته باج ورکوي؟

هېڅ چا داسې فکر نه کاوه خو داو شول او داسې د زغره دارو ټانکو د محاصرې نه وتی افغانستان د غنې په جال کې بند پاتې شو.

که په پرونۍ پېښه کې روسانو ماتې وخوړه خو د افغان رول پکې محوري و او دا هر څه د هغه د وېنې په قربانۍ او ارزانې لاس ته راغلل.

که نن مونږ د هو بل پټ سېمه ېز جنجال باج ورکوو او د پرونې غرور مانۍ مود ذلت په کودا له لوټه لوټه رالوېږي نو په دې کې هم د افغان د بې ضمېرۍ او د افغان د بې حسۍ خبره محوري ده.

ولې هوشی چې په دې خاوره کې همېشه ژوندې پاتې کېدونکی دی هغه د ژوند پر افغانانو ژوندی تسلسل دي له همدې ځایه ددې خاورې تارېخ د عظمتونو تسلسل هم خوندي ساتلی دی.

دا منم چې افغانان د تجاوز په دوران کې همېشه وېښ، قربانۍ

ته چمتو او د دفتحي په دوران کې همېشه دو که شوې او پخپل ځان راګرځېدلي ملت دی چې د همدې کمبود په لړ کې د هغه د عظمتونو ځلي دنړی له نظره څه وخت تت پاتې شوی او کله د پرد متجاوز په ځای بل خپل بخت دلته ازمايلی دی ولې پای کې هغه تېر د کیسه تکرار شوې او افغان هماغسې د پښې ربړې نه فاتح راوتلی دی

دلته که ګورګین د کلا تش برجونو دې خاورې ته څولی نو په تشو برجونو کې میروېس پیدا شوی .

افغانان په دې کې امتیاز نلري چې د املت د نورو په شان بې ضمېر داوبد ضمېره کسان نلري بلکې په افغانستان کې تاریخ ښودلې چې د دې خاورې بدضمېره هم پخپل لوېدلي ماحول کې خپل رېکارډ قائم کړی هغه څه چې د املت د نورو په نسبت یکې د پر امتیاز لري او افغان ملت په دې کې د نورو نه مخکې دی هغه د خپلو بې ضمېرو او بدضمېرو د راپرځولو عزم دي او افغان ملت هغه د هېچا او هېڅ شي په خاطر نه ځندوي د همدې ځایه زمونږ په هېواد کې لکه د نورو هېوادونو په شان په بدضمېره او لوېدلو شخصیتونو سرمایه ګذاري بې فایدې ده او هغوی به د هېڅ بېګانه لپاره د تېکې مطمئن ځای جوړ نکړي که په دې خبره کې د چا شک وي نو پټ دې د انګلیسانو او خپله د روسانو سره تازه غوږ په غوږ مشوره وکړي

زمونږ ملت همدغو بااحساسه مبارزو اودنړۍ ښکرورو سره دمېړانې مقابلې همېشه په مادي لحاظ دکاروان په پای کې درولې ولې که په دې لحاظ ناکام هم يو خو د خدای فضل دی دغيرت اوسرلوړۍ په سبالېو کې مونږ ترهرچاسرلوړ يو که دچا په دې کې شک وي نو لږ وخت ته فرصت ورکول په کار دي.

دلته که نادر افشار ايله جارپوځ پيدا کړی نو په زړه کې يې فاتح ابدالي زېږېدلی دی.

دلته که دوخت سپېرو ورځو دشاشجاع د ذلت دور راوستلی دی نو دلته لوی خدای د غازي محمد اکبر خان د تلافي کوونکي همت دوران ارزاني کړی دی.

دلته که پلار د حبيب الله خان په عنوان د پردو د حمايې فرمان چلولی دي د امان الله خان په عنوان ئی زوي د پردو د حمائې اوفرمان هرڅه سرچپه او نسکورکړی دي.

که دلته سردار داود ؟! دبوي اشتباه په لړ کې هېواد د روسانو دغلامۍ په مخاطرد کې غورځولی نود همدغې خاورې داودخان!! دبوې انتباد په لړ کې دغلامي ټول ځنځيرونه دروس په کور مات کړي دي.

دلته که ببرک اود هغه غلامو يارانو په دې خاورد کې دپردي پوځ لپارد فاتحانه جشن جوړ کړ نو په دې خاورد کې دجهاد وال ادم خان، مولوي حکيم الله، مولوي فتح الله اومطيع الله خان غوندې

گوربتانو د هغوی فاتحانه جشن په شرمېدلي ماتم بدل کړ.

د همدې ځاېه زمونږ ګاونډیان اولري هېوادونه باېد له دې حسابه زړه فارغ کړي چي د دې هېواد د خلکو هسکې غاړی د هغو د غلامی د کړېو لپاره نه دی جوړې شوي او هسې بې ځاېه دې د دې شجاع ملت په مخکې د امتحان نور د امونه نه ږدی چي د روسانو په شان به د ځان په خوږ د پتې اېښودو توان هم د لاسه ورکړي.



Ketabton.com

۲۱۱۹۲



Ketabton.com

## دمؤلف نور کتابونه

---

۱- داسی مبارزه مطبوع
۲- مهاجره وروره تاته وایم
۳- روانی خبری راتلو نکی افغانستان
٤- خلیج په حو لیاری کی ناچاپ
٥- افغانستان ته دکمو نیزم سرایت عوامل ناچاپ
٦- دنجات لیار
۷- استانبول دپرون ویاردنن پیغور- سفرنامه .
۸- بندی لیاری
۹- غفلتونه عبرتو نه ناچاپ
۱۰- په ژوند او مبازه کی دایمان نقش مطبوع
۱۱- جنگ دچاپه خاطر
۱۲- موسکو فی طریقها کابل عربی
۱۳- اسباب الحتلال وابعاد المقاومة فی افغانستان
۱٤-موسکومشکلة البدائل فی افغانستان عربی مطبوع
۱٥- کابل بحث عن الفاتحین عربی مطبوع
۱٦- کابل ! درکو ها قبل الفتح عربی رر
۱۷- افغانستان بروایة الواقع عربی رر
۱۸- درحمت پیغام
۱۹- حونا پیلی مفاهیم غیر مطبوع
۲۰- گواس شعر
۲۱- پیغور شعر
۲۲-دپیسور یاد
۲۳- دکابل ویر
۲٤- تنظیم او شخصیتو نه غیرمطبوع
۲٥- اسلامی جنگونه امریکائی فتحی
۲٦- باج
۲۷ - امواج

ACKU

Ketabton.com











Ketabton.com




Ketabton.com

٤١ ـ لحظة إعلان اتفاق بيشاور يوم الجمعة ٢٦/١٠/١٤١٢هـ [illegible] رباني ، مجددي ، سياف ، محمد نبي [illegible]





٤٢ ـ الشيخ صبغة الله مجددي الحل التوفيقي الملائم للخلافات الأفغانية !

Ketabton.com


216




Ketabton.com

217





Ketabton.com



شاغلی رئیس دولت بعد از باز گشت ازسفر ماسکو با اعضای کابینه مصافحه میفرمایند .

(۱۸ جوزا ۱۳۵۳) .

من غنائم المجاهدين في خوست



Ketabton.com


219



٣٩ - أحمد شاه مسعود - أسد بنجشير في مكتبه في وزارة الدفاع في كابل .



Ketabton.com



٦٥ ـ مسعود في أحد لقاءاته العديدة مع بينون سيفان مبعوث الأمم المتحدة .



٦٦ ـ الأستاذ فريد قائد الحزب الإسلامي في الشمال ورئيس الوزراء
المعين من قبل الحزب الإسلامي في الحكومة المؤقتة

PROPERTY OF ACKU 12040

Ketabton.com



د کابل په ابدره کې په ۱۳۳۲ کال زېږېدلی، ابتدايي ديني درسونه يې د خپل والد مولوی مزمل څخه ويلي او بيا ۱۳٤٤ کال د عربي دارالعلوم او پسې د ۱۳۵۱ کال د شرعياتو په فاکولته شامل شو، د څه ځنډ وروسته مکې مکرمې ته د يو تعليمي بورس په سلسله کې د ملک عبدالعزيز پوهنتون کې شامل او په ۱۳۵۸ کال فارغ او ورپسې جوخت پېښور ته ولاړ، هلته د حزب په سياسي کميته کې د احزابو د ارتباط مسؤل او د کابل ولايتي تنظيم معاون او د مرکزي شورا غړی پسې په ۱۳۶۱ کال د سياسي کميسيون رئيس او بيا په ۱۳۶۳ کال د تخطيط او تنظيم د کميټې رئيس وټاکل شو. هغه د دې ترڅنګ د الموقف د مجلې مؤسس او مدير هم و.

په محلي او عربي مطبوعاتو کې په سلهاو مقالې لیکلې، په نثر او شعر، په عربي او پښتو ژبه يې د شلو نه زيات کتابونه ليکلي دي.

هغه د اتحاد په سلسله کې د انتخاباتو د کميسيون غړی د نصاب د عالي شورا غړی او په الجامعة الاسلامية للعلوم و التقنية پوهنتون د څه مودې لپاره استاد، د مشورتي شورا غړی او د زياتو اصلاحي تحريکونو په سلسله کې غړی پاتې شوی دی.

په اوس وخت کې هغه د هېواد ځيني نشراتي خپرونو سره همکاري لري او د افغان پوهنتون د بورډ غړی دی.

ACKU

Ketabton.com

دهمدی ځایه زمونږ خلک نږي
(دوستان او دښمنان) په دی خاطر ډبوی
چې:
دلته وسله او دذخيری ډيپوگانی دی
دا ملت دجنگ تجربه او دفتحو
غرور لری.
دی ملت سره داسلام په لياره کی
لا جذبه شته.
ولي عجيبه دا ده چې نږی دې
مقصد ته در سيدو لپاره بياهم دا ملت
په ډير هنر مندانه ډول استخدام کړ.

طبع مطبع سيد جمال الدين افغانی
(SJAWO)Printing Press

Ketabton.com